# ماته آئینه

(د افسانو مجموعه)

لائق زاده لائق

لیوني تــه چا وئیل چي ,, ژوندون څۀ دے ،،
پـــه خنـــدا شـو وئیـل ,, مـاتـه آئینه ،، ده

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## کتاب پېژندنه


- ✵ نوم ـــــــ ماته آئینه (افسانې)
- ✵ لیکوال ـــــــ لائق زاده لائق
- ✵ د چاپ کال ـــــــ جون ۲۰۰۹ ء
- ✵ شمېر ـــــــ ۱۰۰۰
- ✵ بیعه ـــــــ سل روپۍ (۱۰۰)
- ✵ ټائټل ـــــــ بخش سنز جنګي محله پېښور
- ✵ کمپوزر ـــــــ ارشاد خان (پښتو اکېډیمي)
- ✵ چاپ ځائے ـــــــ ضیاء سنز پرنټرز پېښور

خورونکي :- د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور


### د ملاوېدو درک

- ⌫ یونیورستي بک ایجنسي خیبربازار پېښور ښار
- ⌫ دانش کتابتون محله ډهکي نعلبندي پېښور
- ⌫ د پښتو اکېډیمۍ د کتابونو دُکان پېښور یونیورستي او ددې ترځنګه د کتابونو هر لوئے دوکان

ketabton.com - The Digital Library



# زما دغه ساندې فکرونه

دَ

خدائے بخښلي راحت زاخېلي ، خدائے بخښلي مير مهدي شاه مهدي ، خدائے بخښلي قلندر مومند ، خدائے بخښلي امير حمزه خان شنواري ، خدائے بخښلي ارباب رشيد احمد خان د محترم اجمل خټک، د محترم ګل افضل خان ، محترمې زيتون بانو او محترمې سلمیٰ شاهين په درنو نومونو چا چې پښتو افسانه د سيالو سياله کړه

او

د نني دور د ښاغليو پروفېسر اسير منګل ، ډاکټر زبېرت حسرت ، ښاغلي عنايت الله ضياء ، ډاکټر عرفان خټک او محترمې سيده حسينه ګل په خوږو نومونو چې د افسانې د استاذانو په رنګونو کښې د نوؤ نوؤ لارو لټون کوي۔

په درناوي
لائق زاده لائق
جون ۲۰۰۹ء

ketabton.com - The Digital Library



# اعزاز

ګرانو مینه والو....

که هر څو زما تعلق د پښتو د مردم خیزې خاورې ,, دره آدم خیل ،، سره دے .خو زما د ژوند زیاته برخه د خپلې خاورې او خپل کور کلي نه لرې په متحده عرب امارات کښې تېره شوې ده .بیا هم د خپل وطن او خپلو خلقو سره مینه هر وخت زما په زړۀ او ذهن کښې ژوندۍ پاتې ده او ژوندۍ به وي.

د شعر و ادب سره زما د ورکوټوالي سره مینه پاتې شوې ده او ....دې مینې ، دې تعلق ....ماته ,,فنکارې،، اوخودله.ما لاشعوري طور ددې صدۍ د لوئې فنکار ,,خیال محمد ،، نه اثر اخستے دے.او بیا چې کله ما د استاد غلام علي زوي ښاغلي ارشد علي په تړون د لائق زاده لائق سره اولیدل... نو داسې احساس راته اوشو لکه چې دوئي زما نه ورک وو .زۀ که هر څو کوشش اوکړم خو د ښاغلي لا ئق زاده لائق د شاعرۍ ، د هغۀ د عاجزۍ ، د هغۀ بې غرضې او د هغۀ بې کچه خلوص احاطه په لفظونو کښې نشم کولے.زۀ

ketabton.com - The Digital Library



چې د دوئي غزلې د دوئي سندرې لولم نو داسې ګڼم لکه چې دا هر څۀ ئې هم زما دپاره لیکلي دي.

د لائق زاده لائق شاعري ددې دور ، ددې وخت مکمله ترجماني کوي او دغه وجه ده چې د ددې فکر په ټوله پښتونخوا څۀ چې په ټوله نړۍ کښې مشهور دے.

,, ماته آئینه ،، که د افسانو مجموعه ده خو بیا هم په دې باندې د لائق زاده لائق شاعرانه رنګ غالب دے او په دغه شاعرانه او فلسفیانه رنګ کښې هر څوک خپل خپل مخ لیدے شي.

ما دپاره دا اعزاز بس دے چې زۀ په خپل دوستانو کښې دا ,,لوئے انسان،، هم لرم .زما دا دعا ده چې د دوئي دغه ادبي هلې ځلې دې لا نورې هم پیاوړې شي .چې پښتانۀ لیکوال ، پښتانۀ فنکاران ترې استفاده کوي .زۀ درنه د لائق زاده لائق هم په دې شعر اجازه غواړم چې :-

خبر که زۀ خفه شم خو یاران دې خفه نشي
خدایه دا مې سوال دے یو انسان دې خفه نشي

په مینه او افتخار

**محمد عباس خان**

شارجه، متحده عرب امارات

ketabton.com - The Digital Library



# خپله افسانه

زهٔ چې کله کله یوازې ناست یم نو سترګې پټې کړم او د خپلو ناقراره فکرونو په جلب کښې تر ډېره لرې لرې پورې لاړ شم. او بیا زهٔ یوې داسې دنیا ته اورسم چرته چې ,,ژوند،، د مینې او سکون سندرې وائي چرته چې د یو بې وسه او بې کسه ,, مینې ،، یوه سلګۍ هم په ټول کائنات کښې زلزلې راولي. چرته چې نهٔ څوک د حالاتو او وختونو ,,جبر،، پېژني او نهٔ څوک د ظلم او زیاتي د تصور سره اشنا وي. دلته د فطرت په غېږه کښې ښکلاګانې او ښائستونو یو بل له جوختې غاړې ورکړې وي. دلته د محرومۍ تصور کول هم ډېره لویه ګناه

ketabton.com - The Digital Library



ګڼلے شي ـ زۀ د یوې وړې ذرې غوندې په دغه ښکلاګانو کښې اوتر اوتر ګرځم او بیا مې دغه لېوني فکرونه نور هم لرې بوځي دومره لرې چې زۀ د خپل ځان نه هم ورک شم ـ زۀ او زما ځان د یو بل پــه تـکل کښې سـرګـردانـه ګرځو ـ او بیـا چې کله زۀ د ,, لاشـعـور ،، نـه د ,, شـعـور ،، پـه درشـل قـدم ږدم نـو تینـدک وخورم او دغه تیندک سره مې سترګې اوغړېږي شي چې ګېـر چاپېره ؤګورم نو هر خوا د ظلم او وحشت لمبې بلې ښکاري ـ

په دغه لمبو کښې د یو بې وسه او ناقراره ژوندون وړې وړې سلګۍ ,, سرېتوب ،، په چپه خوله اوري ـ د حالاتو د جبر د لاسه د مئینانو د ژوبل زړونو هره یوه څړیکه زما د زړۀ تل ته رارسي او بیا چې زۀ کله د نیمګړو نیمه خوا ارمانونو پـه ورانـه هـدیره کښـې ځوړنـد سـر ولاړ ملامتـه ,, احسـاس ،، تـه وګورم نو د خیالونو او فکرونو لړې مې تـار پـه تـار شـي ـ زمـا د ,,امېد ،، آئینه په زمکه راپرېوځي او سره د راپرېوتو ټوټې ټوټې شي ـ

زۀ په دغه ماته ,,آئینه ،، کښې ځان ته وګورم ځان راتـه ټوټې ټوټې ښکاره شي د خپـل ځان نـه اویرېـږم د هـر وېښـتـۀ نـه مې خوله روانه شي زۀ په رپېـدونکو لاسـونو قلـم راواخلـم دا هـر څۀ ولیکم ـ څوک ورته شاعري وائي او څوک ورله د افسانو نوم ورکـړي ـ خـو زۀ د شـاعرۍ او د افسـانه نګـارۍ د رمـوزو سـره

ketabton.com - The Digital Library



اشنا نهٔ یم ـ نهٔ پوهیږم چې د غه حق مې ,, لاشعوري طور ،، تر کومه حده ادا کړے د ے ـ

دا فیصله به زما لوستونکي او راتلونکي وختونه کوي زما د پاره د غه بس ده چې د خپلې مور ,, پښتو ژبې ،، په اوربل کښې مې د یو بل ګل د ایښودو هڅه اوکړه ـ هم په دې مې احساس او ضمیر دواړه مطمئن دي ـ

چې دا ستا قیصه په شونډو زما راغله
احساساتو ترینه جوړه افسانه کړه

په مینه
لائق زاده لائق

ketabton.com - The Digital Library



# یادګیرنه

★★★

ددې افسانو ټول کردارونه فرضي دي که
کوم کردار یا کومه واقعه د چا د کردار یا د
ژوند د ریښتني واقعې سره مناسبت لري نو
دا به قطعاً یو اتفاق وي ځکه چې لیکوال د
ټولنې خبره کوي د چا د ذات نه.....

لائق زاده لائق
جون ۲۰۰۹ء

ketabton.com - The Digital Library



# ترتیب


| | | |
|---|---|---|
| ❋ | تندرونه | ۱۲ |
| ❋ | ماته آئینه | ۲۰ |
| ❋ | د شپې سیورے | ۲۵ |
| ❋ | ما معاف کړه | ۳۱ |
| ❋ | شناختي کارډ | ۳۷ |
| ❋ | ټیټې سترګې | ۴۱ |
| ❋ | څادر | ۴۵ |
| ❋ | لیکوال | ۵۲ |
| ❋ | خیالے | ۶۵ |
| ❋ | تهینکس ګاډ | ۷۲ |
| ❋ | اخبار | ۷۷ |
| ❋ | تصویر | ۸۱ |

ketabton.com - The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ❋ | قتل | ۸۸ |
| ❋ | استاذ ګاډے واپس کړه | ۹۴ |
| ❋ | اوچې اوښکې | ۱۰۰ |
| ❋ | اخري خط | ۱۰۵ |
| ❋ | انصاف | ۱۱۴ |
| ❋ | په تول پوره | ۱۲۰ |
| ❋ | مور | ۱۲۷ |
| ❋ | د کور غل | ۱۳۲ |

ketabton.com - The Digital Library



# تـنـدرونـه

د ګـل مرجـانـي پـه سـترګو کښـي نـاقلاره اوښـکي تلـې راتلې ـ هغې ته نۀ خو د شـپې د تـورې تيـارې احسـاس ؤ او نـۀ د موسم د ناکړدو نه خبر وه ـ نۀ ئې د اسمان په برېښنا څۀ کار ؤ او نۀ ورسره د ځان فکر ؤ ـ خو چې کله به ئې په لرې واؤرينو څوکو د تندر د پرېوتو اواز واؤرېدو نو اسـمان تـه بـه ئـې د حسـرت پـه

ketabton.com - The Digital Library



نظر وکتل او داسې به ئې محسوسه کړه لکه چې دغه تندرونه د هغې په زړهٔ پرېوځي .

هغه د خپلې خيمې نه بهر ولاړه وه . کله به چې د اسمان برېښنادخيمو په کلي خوره شوه نوګل مرجانې ته به خاموشه او خالي کوڅې تر نظره شوې په هر لوري چپه چپيا خوره وه . خودهغې روح ناقلاره ؤ کله به ئې اسمان ته کتل اوکله به ئې په لنډنظرخپلې خيمې ته کتل چې پکښې دلالټين تته رڼاخوره وه

د ګل مرجانې ځوارلس کلن زوئے ,, شين ګل ،، د موسم نه بې پرواه په ژور خوب اودهٔ ؤ خو د هغې ماشومه لور ,,ورېمه،، لاهغسې ويښه وه . ګل مرجانه د څهٔ سوچ کولو نه پس په درنو قدمونو خيمې ته راغله په خپلې لور راټيټه شوه او په تندي ئې ښکل کړه خو د ,, ورېمې ،، تبې لااوس هم د کمېدو نوم لانهٔ اخستو. د هغې په سترګو کښې د بې وسۍ اوښکې لړۍ شوې . ځان سره پټه پټهٔ وژړېده . هغې خپلې ماشومې لور ته څهٔ وئيل غوښتل چې بيا ئې د تندر د راپرېوتو اواز واؤرېدو اوښکې ئې په خپل خيرن شليدلي پيڅکي اوچې کړې . او بيا د خيمې نه بهر راووته . اسمان ته ئې وکتل او د وريځو زغليدو سره د هغې فکرونه هم په شا وزغلېدل . هغې ته ياد شول چې ,,سيد اغا ،، به هغه په ورکوټوالي څومره چيړله او چې کله به ئې ورته د وادهٔ خبرې وکړې نو دا به وشرمېده او ورته به ئې

ketabton.com - The Digital Library



وئيل چې د ,, ماما زويه ،، ما سره دا خبرې مۀ کوه ـ د ژوند هېڅ پته نۀ لګي ،، او بيا هغه ورځ هم راغله چې ګل مرجانه د سيد اغا کور ته په سره ډولۍ کښې راغله ـ په هغه ورځ ګل مرجانه څومره خوشحاله وه دومره چې هغې ئې تصور هم نۀ ؤ کړے ـ

د وادۀ نه پس به چې اغا سحر وختي دفتر ته لاړو نو ګل مرجانه به ورته تر ماښامه پورې په دروازه کښې ولاړه وه ـ او چې تر څو به اغا کور تۀ نۀ ؤ راغلے ـ ګل مرجانې به ګوټ اوبۀ قدرې هم نۀ څښلې ـ اغا خو څو ځله پوهه کړه چې ,, لېونۍ زۀ خو په دفتر کښې ډېر خۀ وخورم وڅښم تۀ ولې داسې ځان وږې تږې ساتې ،، ګل مرجانه به ورته په خندا شوه او ورته به ئې وئيل چې ,, د ماما زويه تانه بغېر مې هېڅ شي ته هم زړۀ نۀ کېږي اغا به د مينې په ډکو سترګو ګل مرجانې ته وکتل او بيا به دواړه د خندا نه شنه شول ـ

او بيا چې کله د ګل مرجانې غېږه په شين ګل ډکه شوه نو مينه نوره هم سېوا شوه ـ ګل مرجانې ته هغه شپه هم ياده شوه چې کله اغا ساه نيولې کور ته راغے او ګل مرجانې ته ئې ووې چې ,, زمونږ په پاکه خاوره استعماري قواؤ قدم ايښے دے ـ د ترور لورې اوس وطن ته د قربانۍ ضرورت دے ـ تۀ راته ووايه چې زۀ څۀ وکړم ـ د ګل مرجانې په سترګو کښې غټې

ketabton.com - The Digital Library



غتې اوښکې راغلې ـ زړهٔ ئې بې اختیاره غوندې ودانګل او په رپېدونکو شونډو ئې اغا ته ووې ـ د ماما زویه زهٔ پښتنه یم زما په رګونو کښې هم د ننګیالي پلار وینه زغلي ـ په دې جهاد کښې ما د ځان نه بیله مهٔ ګڼه ـ اغا یوه اوږده ساه راښکله لکه چې زړهٔ نه ئې ډېر لوئے بوج سپک شوے وي ـ بیا ئې په خپلو شونډو ژبه راښکله او په ښښتي اواز کښې ئې ووې ,, د ترور لورې ستا جدائي ډېره ګرانه ده ، خو ددې نه بغېر بله لار نشته چې تا او شین ګل نورو مهاجرو سره یو ځائے پاکستان ته لاړ شئ ـ فکر مهٔ کوه زهٔ به هم ډېر زر درشم ـ ډېر زر ،، دا ئې ووې او مخ ئې بل خوا واړولو ـ

ګل مرجانې ته هغه ورځ هم یاده شوه ـ چې سید اغا هغه یوې قافلې سره ملګرې کړه ـ ګل مرجانې مخ په دواړه لاسونو کلک نیولے ؤ او چې کله ئې صبر جوابي شو نو په بق بق وژړېده قافله د کوزې پښتونخوا په لورې روانه وه ـ سید اغا د لاس په خوزولو هغې ته په مخه ښه وئیل او ګل مرجانې خپل ګران افغانستان ته په اخري نظر کتل او وړو وړو سلګو سره ئې وئیل ,, زما د پلار نیکهٔ وطنه په خدائے دې سپارم ،، ـ

ګل مرجانه خپل زوې شین ګل سره پېښور سره نزدې یو کیمپ ته راغله ـ د ډېرو منتونو او زارو نه پس ورته یوه خیمه ورکړے شوه او هغې ایله د سکون ساه واخسته ـ د راشن دپاره

ketabton.com - The Digital Library



ئې روزانه د متعلقه واکمنو ستغې سپورې اورېدې خو په زړۀ ئې زغم تېرولو- د هجرت په څلورمه میاشت ئې لور وشوه ۔ ,,وړمه ،، چې ایله د دریو کالو شوه نو د مور نه ئې د پلار پوښتنې شروع کړې ۔ خو ګل مرجانې به هر ځل هغې له دلاسې ورکولې او د شپې به ئې ورته د اودۀ کېدو نه وړاندې د پلار قیصې کولې ۔ وړمې به د مور په غېږ کښې سر ایښودے ؤ او د خپل بابا په فکر کښې به اوده شوه ۔

ګل مرجانې د اسمان په مخ وریځې شارلې او د ماضې ددغه یادونو په جلب کښې دومره لرې تلې وه چې ځان ترې هم ورک ؤ ۔ د هغې په سپین مخ تودې تودې اوښکې یو بل پسې زغلېدې ۔ چې ناګهانه ئې په اوږه چا لاس کېښودو ۔ هغه وبوږنېده او چې په وار خطایۍ ئې مخ شاته راواړولو نو خوبولے شین ګل ولاړ ؤ ۔ ګل مرجانې زر زر خپلې اوښکې اوچې کړې او په غریو نیولې اواز کښې ئې ووې ,, بچیه تۀ ولې ویښ شوے ئې ،، ,, مورې دا تپوس زۀ تانه کوم چې په دې نیمه شپه کښې تۀ د خیمې نه بهر په اسمانونو کښې څۀ لټوې ،، شین ګل په ژور نظر مور ته وکتل ۔ سیلۍ نوره هم سېوا شوه ۔ ګل مرجانې زوې له هېڅ جواب ورنۀ کړو ۔ او په درنو قدمونو د ,,وړمې ،، خواله لاړه ۔ لس کلنې ماشومې ,, وړمې ،، سترګې وغړولې ۔ مور په تندې ښکل کړه او شین ګل پوهه شو چې مور

ketabton.com - The Digital Library



مې د وږمې د تبې دلاسه سرګردانه ده . زر زر ئې خپل ځادر راواخستو او چې کله د خيمې نه بهر وتو نو مور د پلو نه راونيوؤ ,, په دې نيمه شپه چرته ځې ، ، مور ترې په هيبت پوښتنه وکړه ,, زۀ ورځم چې د خور دپاره څۀ دوائي راپيدا کړم ، ، شين ګل ساه نيولې ووې ګل مرجانې يو سوړ اسوېلے وکړو . شين ګل ئې خپلې خوا ته رانزدې کړو . او په ژړغوني اواز ئې ووې چې ,, کم عقله په نيمه شپه دوائي چرته ده ، ، هغې په يو لنډ نظر وږمې ته وکتل او بيا د يو ساعت دپاره فکر يوړه . هغې شين ګل ته د ډېر سوچ نه پس ووې ,, تۀ د وږمې سره کښېنه زۀ دا دے راځم ، ، شين ګل به څۀ وئيل چې مور ئې په شغ د خيمې نه ووته او شين ګل غلے ولاړ پاتې شو .

د اسمان برېښنا نوره هم سېوا شوه . د باران ځاڅکي ورو ورو سېوا کېدل او ګل مرجانې د اسمان په برېښنا کښې د خپل نامعلومه منزل لارې لټولې . هغه چې کله د مقبرې خوا ته ورسيده نو پښه نيولې شوه . هغې داسې محسوسه کړه لکه چې په اوږو باندې ئې يو درونده اسماني بوج راپرېوتے وي . ګل مرجانې د اسمان په برېښنا کښې قبرونو ته وکتل . هغې ته په قبرونو ولاړې شنې او سپينې جنډې داسې ښکاره شوې لکه چې دې پورې خاندي . هغه په يو ځائے اټاله ودرېده .

ketabton.com - The Digital Library



دغه ساعت په لرې غرونو یو بل تندر راپرېوتو او دغه تندر سره چې په قبرونو کومه رڼا خوره شوه نو ګل مرجانې پکښې خپل سید اغا هم ولیدو .چې سپینې جامې ئې اغوستې وې او د خندا نه شین د ګل مرجانې په لور را روان ؤ. د ګل مرجانې په ټول وجود وېښتهٔ نېغ ودرېدل .چې کله به اسمان وبرېښېدو نو هغې به سید اغا هم د خندا شین لیدو .او چې کله به تیاره خوره شوه نو سید اغا به په دغه تیارو کښې ورک شو .څهٔ ساعت تېر نهٔ ؤ چې د لالټین یوه تته شان رڼا په دغه ځول کښې ښکاره شوه .ګل مرجانه نوره هم خوله خوله شوه .رڼا د هغې خوا ته نزدې راغله .هغه شین ګل ؤ په وارخطایۍ ئې مور ته ووې موري ! زر واپس شه په وړمې څهٔ چل شوے دے.

ګل مرجانې چې یو ځل بیا د مقبرې لور ته وکتل نو داسې ئې محسوسه کړه لکه چې سید اغا د مړو په خنداګانو کښې ورک شوے وي .په درنو قدمونو خیمې ته راورسیده او بیا چې د لالټین په تته رڼا کښې په وړمې راښکته شوه نو وړمې ورو غونډې سترګې وغړولې او دومره قدرې ئې ووې ,,موري بابا به مې کله راځي ،، هغې ,, وړمه ،، څو څو ځلې ښکل کړه سترګې ئې د اوښکو راډکې شوې او څهٔ جواب ته ئې خوله جوړوله چې د خیمې نه بهر ئې د سید اغا خندا واؤریده

ketabton.com - The Digital Library



هغې په وار خطايۍ کښې شاته وکتل او چې بيا ئې مخ ورمې ته راګرځولو نو د ورمې سترګې وازې پاتې شوې وې ـ لکه چې د خپل ناليدلي پلار د راتلو لارې ته ګوري ـ

تــه رانغلــې زه دا ســـتا پــه انتظــار ووم
په ککو کښې مې ارمان شو سترګې سترګې

ketabton.com - The Digital Library



# ماته آئینه

لکه د نور کله په شان دا هم د لاهور یو عام مازیګر ؤ. ټول ښار په لوګو کښې پټ ؤ. ولې د شاهي جومات په لوړو منارو لااوس هم د شفق رنګونه واضحه ښکاریدل. ددغه رنګونو په سیوري کښې چا په خوند خوند د قرآن پاک تلاوت کولو او څوک د مازیګر د نمانځهٔ نه پس د امام صیب خبرو

ketabton.com - The Digital Library



اورېدو ته غلي ناست وو. بلخوا جومات سره په ډېره لږه فاصله کښې د ,, شاهي محلې ،، خنداګانې هم واضحه اورېدے شوې.

چې څنګه څنګه د ورځې په مخ د تورې شپې تور څادر خورېدو نو د ګونګروګانو شرنګا سره خنداګانې نورې هم سېوا کېدې. خو دا څۀ نوې خبره نۀ وه. شاهي محلې د ډېرو کلونو راسې د ژوند دا تماشې لیدلې وې.

,, ضمیرګل ،، به د هغه ورځې نه هر مازیګر په شاهي محلې کښې ځوړند سر روان ؤ. کله نه چې هغه د خپل کلي نه لاهور ته راغلے ؤ. نو د ډېر کوششونو نه پس ورته معمولي غوندې نوکري په لاس ورغلې وه. هغۀ د شاهي محلې نه څو قدمه قبلې اړخ ته یو کوارټر په کرایه نیولے ؤ. دغه کوارټر که هر څو تنګ ؤ خو چې ضمیر ګل به ورته د ماښام په خړه کښې ستړے ستومانه راغے او په کټ کښې به خور وور پرېوتو نو داسې به دمه شو لکه چې د مور غېږه کښې ئې سر اېښود ے وي.

ضمیر ګل د شاهي محلې د ,, ادابو ،، نه بېځۀ خبر ؤ خو غریبي ئې لویه مجبوري وه. او ددغه مجبورۍ د مخه هغۀ په خپله وړه کمره کښې یو اړخ ته د خپلې ,, مینې ،، عکس لګولے ؤ او بل اړخ ته ئې یوه ,, آئینه ،، لګولې وه چې ضمیر

ketabton.com - The Digital Library



ګل به ور کښې کله کله د خپلې جل وهلې ځوانۍ څارنه کوله او چې کله به ئې د زړۀ تارونو د شاهي محلې نغمه وچېړله ـ نو ضمیر ګلا به د خپلې ,,مینې،، عکس ته وکتل ـ خپلې حیا او پښتو به ورله سترګې ښکته کړې او ضمیر ګل به زر غوږونو ته ګوتې یوړې ,,توبه خدایه توبه ،، هغۀ به د ځان سره ووې ـ

دا د هغۀ د کلونو معمول ؤ خو نن د هغۀ زړۀ ډوب ډوب کېدو د خپل کار نه وختي رااووتو او تر ډېره ناوخته په شاهي محله کښې سترې ګرځېدو ـ کله به د خورو اوربلونو تماشې ته ودریدو کله به ئې د ګونګروګانو شرنګا سره د زړۀ درزا سېوا شوه او کله به ئې د شاهي محلې غټ خیټو د لالانو ته په ژور نظر لاندې باندې کتل ـ د هغۀ ذهن ته به ډېر داسې سوالونه راغلل چې د جواب په چل به ئې نۀ پوهېدو ـ

د ماښام تیارې په خورېدو وې او ضمیر ګل ساعت پس خپل کوارټر ته اورسېدو ـ هغۀ په مات زړۀ د کوارټر دروازه خلاصه کړه ـ او د خور اسمان لاندې په کټ کښې داسې خور وور پرېوتو چې پېزار ویستو ته ئې هم خیال نۀ شو ـ په اسمان کښې ستورو پټ پټانې شروع کړې وو ـ ضمیر ګل دغه ستورو پسې سترګې ګرځولې شپه په غزیدو وه خو ضمیر ګل له بیخي خوب نۀ ورتلو ـ هغۀ بیا بیا اړخونه بدلول ـ د څه ساعت دپاره ئې یو ځل بیا اسمان ته وکتل ـ هلته وریځې یو بل پسې

ketabton.com - The Digital Library



زغلېدې اوضمیر ګل داسې محسوسوله لکه چې ټول اسمان په منډو شوے وي. بیا وریځو په دغه منډو کښې یو بل له جوختې غاړې ورکړې او ګټان ګټان د ضمیر ګل د سر دپاسه جرګه جرګه شوې. د هغۀ ساه ډوبه ډوبه شوه. مرۍ ئې ونښته.

,, وریځې ،، د هغۀ په ذهن کښې الول کېدې هغه راپاڅېدو دوه درې ګوتې اوبۀ ئې په ډېر زور د مرۍ نه تېرې کړې. او بیا د شپې په توره تیارۀ کښې په درنو قدمونو بهر ووتو. هغۀ ته د کوارټر د بندولو خیال هم رانغے او لږه شیبه پس په داسې حال کښې کوارټر ته واپس راغے چې ,, د زړۀ درزا ،، ئې نوره هم سېوا شوې وه. د هغۀ په هر رګ کښې زلزله وه. د تندي خوله ئې اوچه کړه او بیا نیغ کمرې ته ننوتو هغه په ,,آئینه،، کښې د ځان کتو دپاره لکه بُت اورېدو خو ,, آئینه،، په مینځ بیله شوه. ضمیر ګل خپل ټوټې ټوټې مخ ته نۀ شو کتلے ساه ئې راماته شوه او په وارخطایۍ ئې ,, عکس ،، ته مخ راواړولو. ,, عکس ،، هم ضمیر ګل سره سترګې ونۀ لګولے شوې او په درز پړ مخې راپرېوتو. ضمیر ګل په درنو قدمونو ,,عکس،، ته نزدې ورغلو. په رپېدونکو لاسونو ئې عکس راپورته کړو او چې کله ئې د عکس سترګو ته وکتل نو د خولې

ketabton.com - The Digital Library



نه ئې بې اختیاره کریکه ووته ځکه چې ,, عکس،، تول په وینو کښې لړلے شوے ؤ -

چـــې مـــې د فکـــر آئینـــه ماتـــه شـــوه
اوس به د ځان تصویر په څۀ کښې ګورم

ketabton.com - The Digital Library



# د شپې سیورے

ټوله ورځ واؤرې وریدلې وې خو د اسمان په مخ لااوس هم تورې او ګورې وریځې ګرځېدې راګرځېدې . کله کله به اوښان اوښان یو خوا بل خوا روانې شوې او په مینځ کښې به ئې سپوږمۍ داسې مخ راښکاره کړو لکه د ډېر عمر سترونده ښځته چې د دروازې په چونډ کښې مخ راښکاره کړي . شپه

ketabton.com - The Digital Library



یخه وه او د سپوږمۍ په تته رڼا کښې ګیر چاپېره غرونه داسې ښکارېدل لکه چې د سپینو واؤړو لوئے لوئے بُتان د خاموشۍ په ژبه یو بل ته ډېر څۀ وئیل غواړي- چې شپه په غزیدو شوه نو ورسره نرۍ نرۍ یخه سیلۍ راوالوته -خو ساعت تېر نۀ ؤ چې ددغه سیلۍ رفتار په سپوا کېدو شو او بیا دومره سېوا شوه چې د ځول شکل ئې اختیار کړو -تورو او ګورو وریځو یو بل له نورې هم جوختې غاړې ورکړې -ګېر چاپیره داسې نوره تیارۀ خوره شوه چې د ژمي شپه ترې هم ویریده -او چې کله به سیلۍ د کلي په کورونو کښې چورلک وخوړو نو د تاخونو لوښي به په زمکه داسې راغورزېدل چې اواز به ئې تر لرې لرې پورې اورېدے کېدے شو- د کلي سپو به د اسمان بربښیدو ته ؤغپل خو یخنۍ به ورله زر خولې تپې کړې- کله کله به چرته لرې د ونو د ښاخونو د ماتېدو او د کچه دېوالونو د غورزېدو اواز هم راغے -خو نۀ په ځول او طوفان کښې کمے راتلو او نۀ فطرت د چا د جونګړو په ورانېدو ملاله ؤ -څۀ ساعت پس سیلۍ سره د باران غټ غټ څاڅکي داسې کاږۀ واړۀ راپرېوتل- لکه چې د ډېر زغم او صبر نه پس د یو مئین په مخ ناقراره اوښکې کږې وږې روانې شي-

په دې ځول او طوفان کښې سیاله د ځان نه بې پروا د لوئې مقبرې په بڼ کښې د لوئے چنار ونې لاندې ولاړه وه- سیلۍ

ketabton.com - The Digital Library



د بڼ ټولې ونې ټېل ناټېل کولې او کله کله به ئې د سیالې د مخ نه څادر هم پورته کړو ـ خو هغې به څادر په سر سم کړو او په توره تیارهٔ کښې به ئې تور اسمان ته وکتل ـ چې کله به د سیلۍ زور سره د بڼ د ونو شور په فضا ګانو کښې خوریدو نو سیالې به داسې محسوسوله لکه چې هغوي هم د چا په بې وسۍ ژړا کوي ـ

هغې به دغه ژړا اورېده او ورسره به ئې په سپین مخ د حسرت او ارمان اوښکې لړۍ کېدې ـ چې شپه نوره هم وغزېده نو د مقبرې په مېنځ کښې یوه رڼا ښکاره شوه ـ سیاله وبوږنېده رڼا ته ئې په غور وکتل ـ رڼا په دغه ځول او طوفان کښې څهٔ ساعت په ځائے ولاړه وه ـ او بیا د هغې په لور را روانه شوه ـ په رڼا پسې شاته یو سیورے را روان ؤ ـ ځول دنیا په مخه اخستې وه ـ او سیاله دغه سیوري ته فکر وړې وه ـ

رڼا چې کله د چنار لاندې له راغله نو د سیالې نه په څهٔ فاصله باندې ودریده ـ ولې سیوري لا اوس هم د مقبرې په ونو کښې د سیلۍ په ټال جوټې خوړې ـ سیالې ساه رانښکلې وه ـ ولې په خپلو وړو سلګو ئې اوس هم لاس نهٔ رسېدو ـ ,, تهٔ څوک ئې،، سیوري پوښتنه وکړه ـ د سیالې ټول وجود وبوږنیدو ـ په یخه یخنۍ کښې ئې په تندي توده توده خوله راماته شوه ـ په رپېدونکو شونډو ئې ووې ,, زهٔ ـ ـ ـ زهٔ سیاله یم د خان بهادر

ketabton.com - The Digital Library



لـور ، ، سـيوري يـو اوږده سـاه راښـکله او سـيالـۍ د هغـهٔ د سـاه ګرمـي محسـوس کـړه . ،، پـه دې ځـول او طوفـان کښـې دلتـه څۀ کوې ، ، سيوري بيا پوښـتنه وکـړه . سيالـه ټولـه خولـه شـوه . بـې اختيـاره ئـې د خـولـې نـه وختـل ،، زۀ پـه ... زۀ پـه خپـل ګـل باچـا پسـې راغلـې يم ، ، څوک ګل باچا ... د چا ګل باچا ، ، د سيوري پـه لهجه کښـې تجسس ؤ . وار خطائي وه .

سيالۍ نـهٔ غوښـتل چـې وړانـدې څۀ ووائـي څـو نـاقراره سلګو ئـې د زړۀ خبره خولـې تـه راوسـتـه هغـې پـه غـور سـيوري تـه وکتل او بيـا ئـې ټوله قيصه بيان کړه . هغه قيصه ، کومې چـې د سيالـې ژوند ناقراره کـړے ؤ . او ځـان ورتـه مجـرم ښـکاريدو . د هغه ګل باچا قيصه څوک چې په سيالـې مئين ؤ . خو غريب ؤ او ځکه نو چې کله د خان بهادر خان زلمـے زوئـے د هغـې د مينـې پـه دنيا شکمن شو نو د داسې ځـول او طوفـان پـه شـپه ئـې پـه چـاړو ټوټې ټوټې کـړے ؤ . او د هغـهٔ لاش ئـې بيـا د کلـي لـوئـے نهـر تـه اچولے ؤ . خو د قاتل پته ئې ځکـه نـه وه لګيـدلې چـې د کلـي پـه تانـه کښـې د هغـهٔ د بـوډا او غـريـب پـلار د خبـرې اوريـدو دپـاره هيڅوک هم نۀ وو . دا راز صرف او صرف سيالـې تـه معلوم ؤ . خـو غږ ئې ځکه نۀ شو کولے چې په کور کلي کښې ئې د پـلار نيکـهٔ پـه لمن داغ لګيدو .

ketabton.com - The Digital Library



د ګل باچا د مرګ نه پس به چې کله هم د ځول او طوفان شپه وه نو سياله به مقبرې ته راتله او ترنيمو نيمو شپو به د لوئې چنار د ونې لاندې ولاړه وه .او د خپل ارمان په مزار به ئې اوښکې تويولې .سيالې چې د ګل باچا د اخري سلګو قيصه کوله نو پخپله هم سلګو نيولې وه .خو چې زړۀ ئې راډک شو نو بق بق په ژړا شوه .د هغې ژړا سره اسمان ډېر زيات وبرېښېدو او د سيالې سترګې د سيورې په مخ پرېوتې .د هغه ګرېوان شلېدلے ؤ .د هغه سر سرتور ؤ او د ږيرې ويښتۀ ئې ګډ وډ ؤ .په يو لاس کښې ئې رڼا نيولې وه او په بل لاس ئې خپلې اوښکې اوچولې .

د سيالې خوله وازه پاتې شوه .بيا ئې په وار خطايۍ ووې .,, بابا تۀ خو هم ژاړې ولې ،، سيورې به لاځۀ جواب ورکولو چې ځول او طوفان نور هم سېوا شو .ورسره د باران کړېږ ورېږ شيبې هم راغلې .په مقبره کښې د ونو د ځانګو د ماتيدو او دمړو د خنداګانو اوازونه سېوا کېدل.رڼا د سيالې د مخ نه ورو ورو په بيرته روانه شوه .او هغې رڼا پسې روان سيورے هم وليدو.د هغې ټول وجود د ويرې نه خوله خوله ؤ او ذهن ته ئې ډېر سوالونه راتلل.رڼا چې کله د قبرونو مينځ ته ورسيده نو د څۀ ساعت د بليدو نه پس مړه شوه .د مړو خنداګانې نورې هم سېوا شوې او بيا چې سبا شو نو د کلي

ketabton.com - The Digital Library



خلقو د برچم ,, شمالے کاکا ،، د خپل ځواني مرګ زوئے ,, ګل باچا ،، د قبر سر ته مړ بیا موندو .

پــه سلګو کښې هم اظهار کولے نشي
لویه خدایه څوک مجبوره پېدا نکړې

ketabton.com - The Digital Library



# ما معاف کړه

,, ما خو په څو ځله قسم وکړو ماريې زۀ ...زۀ په ډېرو زيارتونو وګرځېدم . ډېرې توبې مې وويستې ولې زړۀ بادشاه دے ځکه نو مانه هر وخت ,,تا ،، غواړي .تا ماريې صرف او صرف تا...زۀ نۀ پوهېږم چې تا نه څنګه زړۀ صبر کړم اخر څنګه ؟...تۀ چې ماته په چپله خوله داسې خوارۀ خوارۀ

ketabton.com - The Digital Library



ګورې نو لېونے زړۀ مې ډېر څۀ غواړي ...ولې زۀ هېڅ نۀ شم کولے . . .زما معصوم ارمان دا کله مني چې زما او ستا تر مېنځه ډېره لويه فاصله ده تا په نازونو کښې سترګې غړولې دي او زه په غمونو کښې رالوئے شوے يم ...زۀ خو د خاؤرو د داسې کچه کور اوسېدونکے يم کوم کور چې په ټول عمر کښې د خوشحالۍ خوب هم نۀ دے ليدلے ... منم چې زۀ تا له محلونه نۀ شم جوړولے ...ولې د زړۀ په محل کښې مې د ډېرې مودې راسې ساتلې ئې ...زما په هره ساه کښې او زما د وينې په هره قطره کښې ستا مقدس ارمان خوندي دے ...مارېې ما که خدائے پاک ته په سلګو سلګو ژړلي دي نو زما هرې سلګۍ او هرې اوښکې ترې نه ستا سوال کړے دے . . .د خپلې هرې خوشحالۍ په بدل کښې د خپلې هر تمنا او هر خواهش په بدل کښې خو مارېې ته خاموشه ولې ئې ؟ څۀ خو ووايه کنه ...دا خاموشي ...دا خاموشي خو ما خوري ... څۀ خو ووايه کنه اے بس دمره چې يو ځل راته ,, خپل ،، ووايه ...بيا مې هېر کړه .د همېشه دپاره ... زۀ درته منت کوم .مارېې منت درته کوم ...تۀ ... تۀ ګورې نه ؟... د حالاتو او وختونو سپورې مونږ پسې دي ...زۀ وېرېږم ... زۀ ... زما په وجود خو ...زما په وجود خو توده توده خوله راماته شوه ...ماته الله هو ووايه ...ما اودۀ کړه مارېې ما اودۀ کړه تۀ ...تۀ زما په سينه سر کېږده ...او ...او

ketabton.com - The Digital Library



هم دغه شان چې ماله خوب راشي چې زۀ اودۀ شم ماريې چې زۀ اودۀ شم ،،۔

هغۀ سترګې پټې کړې او د مارېې تصوير ئې سينې پورې جوخت کړو ۔ د هغۀ وړو وړو سلګو هغه دخيال په نيلۍ سور کړو ۔او د حسرتونو او ارمانونو په جلب کښې ئې ډېر لرې بوتلو ۔ډيوه لااوس هم د هغۀ سرته بليده ۔باران کم شوے ؤ خو چې کله کله به شيبه تيزه شوه ۔هغۀ به داسې محسوسه کړه لکه چې په کوټه څوک منډې وهي د هغۀ ټول وجود به په رپېدو شو او د مارېې تصوير ئې سينې سره نور هم جوخت کړو ۔

,, ماريه ،، د هغۀ د ډېرې مودې راسې خوښه وه ولې نن ئې په زړۀ بې اختياره راوربدلې وه ۔هغۀ ته د سپوږمۍ په رڼا کښې د مارېې خبرې رايادې شوې ۔هغۀ په دغه شپه هم ډېر ژړلي وو ۔ولې مارېې ته پته نۀ وه بيا ورته د هغې ټول خطونه رایاد شول چې پکښې مينه وه او د مينې غوښتنه وه ۔هغۀ بې اختياره اسويلي کول چې ناګهانه چا دروازه وټکوله ۔هغۀ سترګې وغړولې ډيوه ئې راواخسته او په درنو قدمونو دروازې له ورغے ۔د هغۀ په مخ اوښکې روانې وې دروازه بيا بيا وهلے کېده اوچې کله هغۀ دروازه خلاصه کړه نو هلته څوک هم نۀ وو ۔ د شپې په توره تيارۀ کښې د باران شېبو يو بل پورې خنداکوله۔ هغه د څۀ ساعت دپاره په دروازه کښې شکمن شانتې ولاړ ؤ او

ketabton.com - The Digital Library



د ډیوې په تته رڼا کښې ئې اخوا دېخوا کتل . بیا ئې دروازه بنده کړه او لا کمرې ته رارسېدلے نهٔ ؤ چې دروازه بیا ووهلے شوه خو دا ځل ورسره د مارېې اواز هم ملګرے ؤ . ,,شابه دروازه بیرته کړه تۍوله لونده شومه ،، د هغهٔ د پښو نه لکه چې زمکه تختیدلې وې . د کمرې په مینځ کښې اټاله ودریدو اواز بیا راغے ,, هسې دې دومره یادولم شابه دروازه بېرته کړه ،، هغهٔ د مارېې اواز اورېدو ولې نهٔ پوهېدو چې څهٔ وکړي . په زړهٔ کښې ئې ډېرې وسوسې تلې راتلې . د دروازې درزېدل ورو ورو سېوا کېدل او ورسره د مارېې د ژړا اواز هم راتلو .

هغهٔ یو ځل بیا ډیوه راواخسته د باران شېبې ښې تیزې شوې وې . او بیا چې څنګه هغهٔ دروازه بیرته کړه نو چا ورله په مخ یوه درنه څپېړه ورکړه او دغه څپېړې سره اسمان وبرېښېدو . هغهٔ په دغه رڼا کښې په خپله دروازه کښې یو سپورے ولیدو چې په بق بق خاندي . د هغهٔ وجود وبُوږنېدو . دروازه ئې په درز بنده کړه او چې کمرې ته راننوتو نو ډیوه ئې ایله په تاخ کښې اېښودې وه چې په کټ کښې خور وور راپرېوتو . د هغهٔ په مخ توده توده خوله راماته شوه . تۍول ساه ساه شو . د هغهٔ د سترګو وړاندې هاغه سپوري چورلکونه خوړل . هغهٔ د دروازې نه بهر اوس هم د مارېې خنداګانې اورېدې . په رپېدونکو لاسونو ئې د مارېې تصویر یو ځل بیا سینې سره

ketabton.com - The Digital Library



جوخت کړو ـ ,, زۀ ویرېږم ـ ـ لېونۍ ما اودۀ کړه ـ ـ ـ ما اودۀ کړه،، هغۀ دومره قدر اووې او بیا ئې سترګې پټې کړې او هلـه ئې سترګې وغړېدې چې دروازه چا بیا وټکوله ـ هغۀ یو نظر بهر وکتل باران ودرېدلے ؤ شپه تېره شوې وه او توده غرمه وه ـ هغه په ډېره مشکله د کټ نه راپاڅیدو ـ سترغلي ئې پړسیدلي وو او سترګې ئې تر اوسه سرې وې ـ هغه په راکښلو قدمونو دروازې ته ورغے او چې دروازه ئې بېرته کړه نو مخامخ ډاکي ولاړ ؤ ـ هغۀ له ئې یو خط ورکړو او په شغ لاړو ـ

هغۀ لفافې ته وکتل زړۀ ئې اختیاره ودانګل د شپې ټول واقعات ئې ذهن ته راغلل په رپېدونکو لاسونو ئې د مارېې رالېږلے خط پرانستو ـ هغې د نورو ډېرو خبرو نه علاوه په واضحه ټکو کښې لیکلي وو چې ,, ما معاف کړه ـ ـ ـ ،، د ,,معاف،، ټکي سره په هغۀ سر وچورلیدو او ځان ورته د هاغه سوال ګري په شان ښکاره شو څوک په ټوله ورځ د ښار په بازارونو کښې ګرځي او هر چا ته لاس نیسي ولې هر شتۀ من او په کور پوره سړے ورته په ډېر نفرت او سپکاوي سره وائي ,,معاف کړه ،، د هغۀ په مخ ناقراره اوښکې په یو بل پسې زغلېدې د ماضي هر یو یاد ورته نیمګړے خوب ښکاریدو هغه کمرې ته دننه راغے د مارېې تصویر ئې راواخستو ، د حسرت او ارمان په ډکو سترګو ئې ورته وکتل ـ هغۀ داسې

ketabton.com - The Digital Library



محسوسه کړه لکه چې د ماريې تصوير هم د هغۀ غريبۍ پورې خاندي او ورته وائي چې :-

پیوند د شال او شړۍ نۀ شي
پۀ رڼا ورځې باندې مۀ وینه خوبونه

ketabton.com - The Digital Library



# شناختي كارډ

د شپې په توره تيارهٔ او چُپه چپيا كښې د حادثې اواز تر لرې لرې پورې اورېدے شوے ؤ ـ او د خواؤ شا د نزدې كلو خلقو د حادثې ځائے ته رامنډې وهلې ـ ,, كرمے ،، ورومبے سړے ؤ چې دغه ځائے ته راورسيدو ـ هغهٔ په بس كښې د مړو او ژوبلو كسانو اندازه نهٔ شوه كولے ـ خو د ژوبلو كسانو زبيرګې ، د زنانؤ ژړا او د ماشومانو چغې ئې اوريدې ـ هغهٔ يو نظر اسمان

ketabton.com - The Digital Library



ته وکتل چې وربانديې د تورو او ګورو ګورو وريځو داسې تور ځادر خو ؤ چې نۀ خو ورکښې د ستورو څۀ نخښې ليد ے شوې او نۀ ترې د سپوږمۍ رڼا سترګې ښکاره کولے شوې. بيا ئې د خپلې بيټرۍ پۀ رڼا د يو پړق دپاره ژوبل کسانو ته وکتل. د حادثې د زپلو کسانو په زړونو کښې دغه پړق د امېد ډيوې بلې کړې خو کرمي بيا بيټري بله نۀ کړه او په توره تيارۀ کښې ئې ځان ژوبل کسانو ته ورسولو هغه يو يو کس ته ورنزدې کېدو او خپل رپيدونکي لاسونه به ئې د هغۀ په جيبونو تپول. خو چې کله به ژوبل کس زبيرګے اوکړو نو زر به ئې ترې لاسونه راښکل.

او بيا هغه ,, يو داسې ژوبل کس ،، ته نزدې ورغے چې ډېر دروند زبيرګے ئې کولو. کرمي يوه اوږده ساه راښکه او په اطمينان سره ئې ورله په جيبونو لاسونه ووهل څۀ کاغذونه ئې ترې راويستل خو دا پوهه نۀ شو چې دا روپۍ دي او که نور څۀ کاغذونه... او بيا ... په دغه توره تيارۀ کښې د هغۀ ددغه ژوبل سړي په لاس ګړۍ ته پام شو چې ورکښې د ,, ژوند رفتار ،، ځلا کوله. کرمي لاس ور اوږد کړو او ګړۍ ئې ترې جيب ته کړه.

کرمي به لا نور کسان لټول چې د لرې نه ئې رڼا ګانې وليدې چې د حادثې لورې ته را روانې وې. هغۀ زر په دغه تيارۀ

ketabton.com - The Digital Library



کښېږي یو اړخ ته شو او چې بیا د کلو خلق د ژوبل کسانو د امداد دپاره رارسېدل نو کرمي ځان خپل کورته رسولے ؤ ـ

هغه د پنجو په سر خپل کټ له ورغے ـ په کور کښې چپه چپیا وه ـ هغۀ ګړۍ په لاس کړه او په کټ کښې ئې پښې وغزولې اړخونه ئې بدلول رابدلول او په زړۀ کښې ئې د ګړۍ د قیمت په حقله اندازې لګولې ـ یوه منصوبه به ئې جوړه کړه زر به ئې هغه ورانه کړه ـ او بیا به ئې په بله منصوبه سوچونه شروع کړل ـ په دغه ذهني کشمکش کښې د کرمي سترګې ورغلې ـ

چې کله د سحر رڼا لګېده نو مور ئې مانځۀ له پاڅېدلې وه ـ هغې په خوب اودۀ کرمي ته په ژور نظر وکتل او چې بیا ئې د هغۀ په لاس ګړۍ ته پام شو نو زړۀ ئې بې اختیاره ودانګل ـ هغه په چاقو قدمونو د کرمي خوا له ورغله او هغه ئې خوب نه راویښ کړو ـ کرمي په خوبولو سترګو مور ته په غصه وکتل او ورته ئې ووې ,, څۀ چل دے ،، مور ترې نه په وار خطایۍ تپوس وکړو چې ,, دا ګړۍ چرته وه؟ ،، کرمي ورته سمدستي جواب ورکړو ,, ... دا ... دا خو زما د یو ملګري ده ،، مور ئې زوئے ته په غور وکتل په اُوچو شونډو ئې ژبه راښکله او ورته ئې ووې ,, هلکه بهانې مۀ جوړوه ـ سمه خبره وکړه دا ګړۍ چرته وه ـ کرمے د مور په دوباره پوښتنه لږ وُېریدو او مور ته ئې ووې ,,دا ... خو ما اخستې ده د بر کلي د اول خان نه ،، مور ئې په

ketabton.com - The Digital Library



سواليه نظر کرمي ته اوکتل ـ اوئې وئيل ,, په سترګو ړوندې شې دا خو دې د پلار ګړۍ ده ، ، د کرمي د سر نه لکه چې شنۀ لوخړه ختلې وي ـ د هغۀ د سترګو نه سمدستي خوب وتښتېدو ـ په مرۍ کښې ئې لاړې اوچې شوې ـ مور ته ئې برند برند وکتل او په رپېدونکو لاسونو ئې جېب ته لاس کړو ـ چې د جېب نه ئې کاغذونه راووېستل او ورته ئې وکتل نو وړومبې نظر ئې د خپل پلار په شناختي کارډ پرېوتو چې په سرو وينو لړلے وو ـ

چې خپل ,, ارمان ، ، په وينو سور وينمه
پـــه خپــلـو سترګو مې باور نۀ راځي

ketabton.com - The Digital Library



# ټیټې سترګې

د مور د مرګ نه پس به ماشومه ,, ناز پري ،، د مشر خان په کور کښې یو خوا ته غلې ناسته وه . که ,, غټې بي بي ،، به ورته د څۀ کار ووئیل نو هغې به په چپه خوله کار وکړو . او بیا به یو خوا ته یوازې یوازې کښېناسته . خو وخت سره سره هغې د غه د ژوند غم له په خپله سینه کښې ځائے ورکړو او د خپلې مور په رنګ ئې د ,, نائیکانو ،، خدمت ته ملا وتړله . او

ketabton.com - The Digital Library



بیا چې څو کاله پس د هغې د معصومیت سره ,, ځوانۍ ،، مستي شروع کړه نو د هغې په سور سپین مخ د رنګونو پټ پټاڼي سپوا کېدل ـ په زړو او خیرنو جامو کښې به پرې هم د چا دا ګمان نۀ راتلو چې ګني ,, نازپرې ،، ددې کور نوکره ده ـ د مشر خان لوڼه به د نازپرې ښائست ته ټینګېدے نۀ شوې ځکه نو په وړه وړه خبره به ئې تنګوله ـ خو نازپري دغه ,,نازونو ،، ته ځان نیولے ؤ ـ ځکه چې د خدائے پاک په لویه دنیا کښې د هغې د ډاډ ځائے هم دغه کور ؤ ـ

یوه ورځ چې ,, غټه بي بي ،، د خپل کشري ورور وادۀ له بر کندي ته لاړه نو نازپري ئې کور کښې پاتې کړه ـ خو دا څۀ نوې خبره نۀ وه ځکه چې د غټې بي بي په هغې اعتماد ؤ ـ ,,نازپري ،، چې د کور کارونه راغونډول نو بیا د پاسه غرمه وه ـ هغې د خپلې خوښې هغه جامې راواخستې کومې چې ئې درې کاله وړاندې ورکوټي اختر له جوړې کړې وې ـ هغې یو نظر دغه جامو ته اوکتل د ځان سره مسکې شوه او بیا د ماسپښین د مانځۀ د تیارۍ دپاره غسل خانې ته ننوته ـ هغې په خپل بدن په خوندخوند اوبۀ اچولې او ورسره وسره ئې په شونډو کښې یوه داسې سندره الول کېده چې هغه پرې پخپله هم نۀ پوهېده ـ دا غالباً د هغې د مایوسۍ اظهار ؤ چې کله کله به د لاشعور نه تر شعور پورې رارسیدو او بیا به د شونډو په سرونو کښې ورکېده

ketabton.com - The Digital Library



د هغې سترګې پټې وې چې دغه ساعت د غسل خانې دروازه په درز خلاصه شوه .د ناز پرې سترګې بقې او خوله وازه پاتې شوه .مخامخ مشر خان ولاړ ؤ .هغې که هر څو د ځان را انغاړلو کوشش کولو خو د مشر خان د سترګو پردې شلیدلې وې .د غسل خانې ور یو ځل بیا پورې شو او دا ځل چې خلاصیدو نو ناز پرې ترې کوزې سترګې راووته .هغې په خپله بې وسه ورځ ډېرې اوښکې توې کړې .ذهن ته ئې ډېرې خبرې راغلې خو د هر سوچ او هر فکر انجام د هغې د رسوایۍ نه سېوا بل هیڅ هم نۀ ؤ .

ددې واقعې نه پس به ,,نازپرې،، په کور کښې خاموشه خاموشه ناسته وه .,, غټې بي بي ،، ترې څو ځله پوښتنه هم وکړه خو هر ځل د هغې په مخ تودې تودې اوښکې یو بل پسې وزغلیدې او خاموشه پاتې شوه .څو ورځې پس چې کله مشر خان د کلي د ,,جرګې،، نه واپس کور ته راتلو نو د خپل کور نه ,,قبلې اړخ،، ته ئې د جوارو په پټې کښې خپل نوکر ,, تور ګل ،، سره د چا پټې پټې خبرې واؤریدې .مشر خان دغه خبرو ته پښه نیولے شو د هغۀ ذهن ته ډېر څۀ راغلل .غاړه ئې تازه کړه او چې کله ئې د جوارو پټې ته د ننوتو اراده کوله نو جوار وړقېدل....د خان تلوسه نوره هم سېوا شوه او بیا ساعت تېر نۀ

ketabton.com - The Digital Library



ؤ چې د هغـۀ پېغلـه لـور د جـوارو د پټـي نـه راووتـه او کـوزې سترګې په شغ کور ته ننوته.

کــه دې ســترګې د شعـور کلــه بینا کړې
د خپل ذات په آئینه کښې به ,, ځان ،، وینې

ketabton.com - The Digital Library



# څــادر

هغــه د څــۀ ســاعت دپــاره ځوړنــد ســر ولاړ ؤ او د سـوچونو پـه لـوئے دریـاب کښـې ئـې غـوپې وهلې .بیـا ئـې سـر راپورته کړو .یو نظر ئې د خپل کچه او خاؤرین کور ,,برګو،، ته وکتل چې جولاګانو ورکښې جالې جوړې کړې وې .بیا ئې خپلو لاسونو وکتل کوم چې داسې چاؤدلي وو لکه چې چا په تېرۀ چاړۀ غوڅ کړي وي .د هغۀ د لاسونو رنګ که هر څو سُور سپین

ketabton.com - The Digital Library



ؤ ـ ولې ,,جاولو،، ښخي تور کړے ؤ ـ د هغۀ سترګو کښې يو ځو اوښکو يو بل له غاړې ورکړې خو هغۀ دا فيصله ونۀ کړے شوه چې دا د خوشحالئ اوښکې دي او که د خپلې بې وسه ورځ اظهار دے ـ

د هغۀ بوډئ مور چې د کلونو راسې د تې بي مريضه وه د ټولې شپې د ټوخېدو نه پس ايله اوس غلې شوې وه ـ پېغله خور ئې د سحر رڼا لګېدو سره ,,چينې،، ته اوبو له تلې وه ـ هغه ځۀ فکر يوړو بيا ئې د خپلې بوډئ مور په مخ سترګې ښخې کړې چې ورباندې وخت د ټول ژوند ناکړدې بې ترتيبه ليکلې وې ـ د هغې سترګې پټې وې او د سپينو وېښتو نه ئې شليدلے تور سرپيچک يو طرف ته خوئېدلے ؤ هغۀ په دوېم نظر په خپلې مور باندې خورې برېستنې ته وکتل ـ چې دومره خيرنه شوې وه چې د ,,رنګ،، ئې هډو پته نۀ لګېده ولې مور ئې پرې اوس هم مئينه وه ځکه چې دا د هغې د وادۀ نخښه وه ـ

هغۀ يو ډېر اوږد اسوېلے وکړو ـ او د خپل کور هغه الماړئ له ورغے کومې چې لاتر اوسه پورې ,,ور،، نۀ ؤ ليدلے ـ هغۀ د الماړئ په بره تاخ کښې پروت قرآن شريف را اوچت کړو هغه قرآن شريف چې د ,,تبرک،، دپاره د دوي په کور کښې پروت ؤ ـ ولې د کلونو تېرېدو باوجود لا اوسه چا پرانستے هم نۀ ؤ ـ هغۀ يو ساعت قرآن شريف خپلو سترګو پورې کلک نيولے ؤ ـ

ketabton.com - The Digital Library



بیا ئې د هغې د لاندې پرتې څو روپۍ راواخستې. په ژور نظر ئې روپو ته وکتل. وښکي ئې تښتېدل ځان سره ئې ووې ,, نن نه صبا له که خېر وي، ، هغه روپۍ یو ځل بیا د قرآن شریف لاندې کېښودې او ځان سره ئې غلې غوندې وخندل.

د هغهٔ نوم ,, کشمال خان ، ، ؤ . ولې غریبۍ کشمالے کړے ؤ. د لوئے کلي نه لرې په یوه بانډه کښې وسیدو . په ټوله بانډه کښې لس پنځلس کورونه او یو جومات ؤ او هم دغه د کشمالي دنیا وه. د هغهٔ پلار به کلي ته روزانه د لرګو ګېډه ے راوړو . او د هغې په پېسو به ئې ,,کډه ، ، ساتله. د پلار د مرګ نه پس چې کشمالي په ورمبي ځل تبر په اوږه کړو نو مور ئې ورته بې اختیاره په ژړاشوه. او سینې ته ئې راجوخت کړو. د هغهٔ په نازکو اوسرو سپینو لاسونو کښې تبر کله ښهٔ ښکارېدو خو غریبۍ ورسره هم دغه ,, ښهٔ ، ، کولے شو. ځکه نو ورو ورو عادت شو او بیا ئې دغه معمول ؤ چې سحر وختې به ئې د لرګو ګېډه ے په شا کړو کلي ته به راغے او چې کله به لرګي خرڅ شول نو څهٔ به ئې د مور دوائي شوه او څهٔ ,,چائې ګوړه، ، .

هغهٔ به دا هر څهٔ د خپل خېرن او شیلدلي څادر په پڅکي پورې وتړل او کور ته به سترے سترے روان شو. چې کله د کلي د لوئے سکول خوا ته ورسېدو نو د څهٔ ساعت دپاره به اورېدو. هر ماشوم ته به ئې په زیر زیر کتل. او چې د سکول

ketabton.com - The Digital Library



ماشومانو به په اوچت اواز د قرآن پاک تلاوت کولو نو کشمالے به ورته ځوړند سر ولاړ ؤ .په مخ به ئې غټې اوښکې راتلې او هر یو څکے به ئې د زړۀ تل ته کوزیدو .هغۀ به هر ځل ځان سره وئیل چې ,, دا ځل به کۀ خېر وي د جومات د مولوي صېب نه سبق شروع کوم ،، خو غریبۍ مسلمانۍ ته نۀ پرېښودو.

د لوئے سکول نه وړاندې د بسونو او ټانګو اډه وه چې ورته بالکل مخامخ د ټوکو یو غټ دوکان ؤ .په دغه دوکان کښې به هره ورځ ټوکي خرڅېدل .کشمالے به کله کله د دغه ټوکو د رنګونو تماشې ته پښه نیولے شو .خو چې کله به ئې خپلې خیرې لمنې ته وکتل نو په اوچو شونډو به ئې ژبه راښکله او د هاغه ځائے نه به چاق چاق روان شو .ولې د څو میاشتو راسې به کشمالے دغه دوکان ته هره ورځ ودرېدو .لږ ساعت نه ډېر ساعت .هغۀ به په دوکان کښې مخامخ یو ځوړند څادر ته کتل او د دغه څادر د هر تار په هر یو رنګ کښې به ورته خپله پېغله خور ,, ګل جانه ،، ښکارېده .

هغۀ به په خیال او تصور کښې دغه څادر ګل جانې ته په سر کړو .ورته به ئې په غور وکتل .په سترګو کښې به ئې د خوشحالۍ اوښکې لاړې راغلې .هغه به ئې په تندي ښکل کړه . سینې ته به ئې راجوخته کړه او ورته به ئې ووې چې ,, ګل جانې زۀ نن ډېر خوشحاله ،، خو هره ورځ به د لارو بسونو هارنونو د

ketabton.com - The Digital Library



کشمالي د فکرونو دغه رنګینه سلسله شلوله ـ هغۀ ځآن سره دا کلکه فېصله کړې وه چې هم دا څادر به خپلې خور له یوه ورځ خا مخا اخلي ـ ځکه نو د څو میاشتو راسې به ئې هره ورځ د لرګو د پېسو نه څو روپۍ بچت کولې او غلې غونډې به ئې د قرآن پاک د سپوري لاندې کېښودې ـ هغۀ دوه درې ځله ګل جانې ته ذکر هم کړے ؤ خو ګل جانه به ورته د خندا شنه شوه او ورته به ئې وئیل چې ,,لالاتا دې خدائے لري زما د سر څادر خو تۀ ئې ،، کشمالے به د خپلې خور په دې خبرو ډېر خوشحالېدو ـ نن چې کله ګل جانه سحر وختي اوبو له لاړه ـ نو د کشمالي دغه د مودو ارمان راؤپاریدو ـ خو ځان سره ئې ووې ,,نن نه سبا له کخېر وي ،، ـ

د خیالونو د ګرداب نه د راوتو نه پس هغۀ ګېډ ے په شا کړو او کلي ته راغے ـ نن د هغۀ ګېډ ے ګران خرڅ شو ځکه نو مور له ئې دوائي هم واخسته او ځان ته ئې د دوؤ روپو کباب هم واخستل ـ کباب د هغۀ ډېر خوښ وو ـ خو د غریبۍ پرې مړه ګېډه هم سود نۀ وه ـ نن چې هغه کلي ته راغلو نو د ټوکو لوئے دوکان ته په ډېر اعتماد سره اودرېدو څادر ته ئې لاندې باندې وکتل ولې لاس ئې ورنزدې نۀ کړۀ ځکه چې جیب ئې خالي وو ـ

کشمالي ټوله شپه د خوشحالۍ نه پۀ وینښه تېره کړه ـ کله به ئې وئیل چې هسې نه ګل جانه په دغه څادر کښې د نظره

ketabton.com - The Digital Library



شي ـ کله به ئې سوچ کولو چې هسې نه چې څوک ئې رانه رشته وغواړي ـ ګل جانه د ورور د احساساتو نه خبر وه ځکه نو ورسره ويښه ناسته وه ـ کشمالي ورته څو څو ځله ووې چې ,, جينۍ اوده شه ،، خو هغې به ورته ووې چې ,,ماله خوب نۀ راځي ،، اخر شپه صبا شوه کشمالي نن خپلې هاغه جامې واغوستې کومې چې ئې پينځۀ کاله وړاندې غټ اختر له جوړې کړې وې خو په هر ورکوټي او لوئې اختر کښې د اغوستو باوجود لااوس هم نوې وې ـ د پلاسټکو هغه بوټان ئې په پښو کړل په کومو پورې چې ورله خور په ډېره مينه رنګا رنګ ټوټې کلکې کړې وې ـ په وېښتو کښې ئې ډېره موده پس ګومنز ووهله ـ نن هغه لرګي نۀ راؤړل ځکه نو چاق چاق روان شو ـ په لاره چې به ورله څوک هم مخې له ورغلل نو کشمالي به ورته د څۀ تپوس نه بغېر ووئيل چې ,, کلي کښې مې څۀ کار دے ،، چې څو قدمه به لاړو نو رو غوندې به ئې په جېب لاس ووهلو او دا تسلي به ئې وکړه چې د قرآن پاک د سبوري نه را اخستې روپۍ لااوس هم د هغۀ په جېب کښې دي ـ

چې کلي ته راؤرسېدو نو نېغ د ټوکو لوئې دوکان ته ورغے او د څۀ تپوس نه بغېر په ړومبي ځل شادر ته نزدې ودرېدو ـ شادر ئې په ګوتو کښې واړولو را واړولو ـ د هغۀ په سختو او چاؤدلو ګوتو هغه شادر نور هم نرم لګېدو ـ دوکاندار

ketabton.com - The Digital Library



کشمالي ته لاندي باندي وکتل خو د هغهٔ په مخ د اعتماد په وجه غلے پاتې شو ـ ,, دا په څو روپۍ د ے؟ ،، کشمالي غلي غوندې ووې ـ ,, په دولس سوه ،، دوکاندار خبره په لنډو کړه او د کشمالي د سر نه لکه چې شنه لوخړه ختلې وي ـ هغهٔ چرته په عمر کښې هم دا سوچ نهٔ ؤ کړے چې د څادر قيمت دولس سوه روپۍ هم کېدے شي ـ

د کشمالي په سترګو تيارهٔ خوره وه ـ د دوکان نه يوې ډډې ته کښېناستو او خپل جيب ئې راؤسپړدو ـ هغهٔ په رپېدونکو لاسونو د خپلو پينځو مياشتو جمع کړې روپۍ شمارلې ـ دوه درې ځله ترې شمېر هم خطا شو خو بيا ئې حوصله وکړه او چې ټولې روپۍ ئې شمار کړې نو ايله پنځهٔ سوه او درې اويا اوختې ـ

د هغهٔ په تندي خوله راماته شوه ـ او مرۍ ئې ونښته ـ بيا ئې زړهٔ ته راغلل چې ,, زهٔ به خپل ګېډه ے دې دوکاندار سره ټيکه کړم او په څو ورځو کښې به ورته د ګل جانې د څادر قيمت پوره کړم ،، دغه وخت هغهٔ نه د خپلې بودۍ مور علاج او د خيټې غوښتنې بيخي هيرې وې ـ هغه راپاڅېدو خو دا ځل ئې داسې محسوسه کړه لکه چې د ټولې دنيا بوج هم د هغهٔ په سر وي ـ دوکان ته ورغے خو هلته څادر نهٔ ښکاريدو ـ په هغهٔ سر وچورليدو او د خولې نه ئې بې اختياره وختل ,,.... آغه....

ketabton.com - The Digital Library



آغه څادر؟...... ، ، دوکاندر به څهٔ وئېل غوښتل چې د موټر هارن د کشمالي پام سړک طرف ته راؤګرځولو د دوکان مخې ته ولاړ موټر کښې یوه دیسي میم صیبه ناسته وه. د هغې په مخ باندې د میک اپ ،، پیخې ، ، واضحه ښکاریدې. د هغې سر سرتور ؤ ځکه نو کشمالي د حیا نه ښکته وکتهٔ او چې په دوېم نظر ئې میم صیبې ته کتل نو د هغې هم هاغه څادر په سر ؤ. د هغهٔ په ذهن کښې د ګل جانې خیال په تیزۍ سره چورلک وخوړو. زر ئې مخ دوکاندار ته راواړولو. ،، د .... داسې بل څادر شته.... ، ، ،، ولې نشته خو په نغدو ، ، دوکاندار د هغهٔ په لاس کښې پنځهٔ سوه او درې اویا روپۍ لیدلې وې د کشمالي په سترګو کښې منت او بې وسۍ غاړې وکړې خو دوکاندر هغهٔ ته هډو ونهٔ کتل. هغهٔ د خپل ضمیر سره خپله غریبه ورځ ژړله او په درنو قدمونو د لوئې دوکان نه روان شو. هغه د فکرونو یوې داسې چپې په مخه کړې ؤ چې نهٔ ورته د ګاډو د شور احساس ؤ او نهٔ د کلي د خلقو. د هغهٔ زړهٔ راډک شوې ؤ. خو ژړلې ئې نهٔ شو. نن هغه د کلي د لوئې سکول په خوا کښې هډو پښه نیولې نهٔ شو. د قرآن پاک ایاتونه هغهٔ واؤریدل خو په وړومبي ځل ئې د زړهٔ تل ته کوز نهٔ شول. د هغهٔ ذهن ته ډېر داسې سوالونه راتلل چې تر اوسه ئې په هغې سوچ کول کفر ګڼلې ؤ.

ketabton.com - The Digital Library



هغهٔ به کله پورته اسمان ته اوکتل او کله به ئې لکه د لېونو د ځان سره خبرې شروع کړې .د هغهٔ مرئ اوچه وه او چې کله به ورته د خپلې خور خیال لکه د دېوال مخې ته اودرېدو نو هغهٔ به یوه کریکه اووهله .د کلي خلقو د کشمالي دغه لېونتوب ته کتل خو چاته هم دا معلومه نهٔ وه چې د هغهٔ دننه انسان ټوټې ټوټې شوے دے .او چې کله هغه د بازار د یوې غاړې نه بلې ته منډه وهله نو بیا د یو موټر د لاندې راپرېوتے ؤ . د کلي خلقو رامنډې کړې .د کشمالي په مخ تودې تودې وینې راماتې وې .هغه په خپل لاس کښې لاوس هم هاغه روپۍ کلکې نیولې وې. د کومو په لوئے ډاډ چې هغه د خپلې خور د ځادر د اخستو دپاره بازار ته راغلے ؤ .د موټر نه دوه کسان وارخطا راکوز شول .د هغوي د مخ رنګونه تختیدلي وو .په دغه دوؤ کسانو کښې یوه هاغه میم صیب هم وه د چا په سر چې کشمالي د خپلې خور ,,ارمان، لیدلے ؤ.

میم صیب چې د خلقو په ګڼه ګوڼه کښې کشمالي ته اوکتل نو خوله ئې وازه پاتې شوه.د هغې د مخ نه رنګونه په تیزۍ سره والوتل.هغې د کشمالي په مخ د وینو سیلاب نشو لیدے.په رپیدونکو لاسو نو ئې د سر نه ځادر راکوز کړو او چې کله ئې د هغهٔ په مخ اچولو نو د کشمالي په سترګو کښې سلګۍ سلګۍ ارمان یو ځل بیا مسکے شو.خو هغهٔ د خپلو

ketabton.com - The Digital Library



جذبو اظهار نۀ شو کولے ـ هغه خپل هاغه رپېدونکے لاس میم صېب ته ور اوږد کړو ـ په کوم کښې هغۀ لااوس هم هاغه پنځۀ سوه او درې اویا روپۍ کلکې نیولې وې ... د کلي خلقو یو بل ته په سوالیه نظرونو کتل ... او ... د کشمالي لاس هم هاغسې عزېدلے پاتې شو ... هغه یو دوه ځله اوږده ساه راښکه او بیا ئې توده وینه په سرېدو شوه ـ

ساعت پس چې کله د کلي خلقو د کشمالي مړے د هغۀ کور ته وړلو نو په دغه خلقو کښې هاغه میم صېب هم ځوړند سر روانه وه ـ بل خوا ,, ګل جانه ،، لااوس هم د خپل کور قبلې اړخ ته د لوئے ګټ په سر ناسته د خپل لالا په انتظار وه ـ هغې چې د خپل کلي په لور دغه روانه ګڼه ګوڼه اولیده ... نو زړۀ ئې اودرزېدو ـ ذهن ته ئې ډېرې وسوسې راغلې ... هغې په خپلې مور پسې دننه کوټې ته منډې کړې ـ مور ئې تڼوخې په سر را اخستې وه ... او چې کله ورته ګل جانې خبره اوکړه ـ خو د هغې په مرۍ کښې لاړې اونختې ـ ساه ئې راماته شوه ـ

هغه لا د مور خوا کښې ناسته وه چې د ګڼو کسانو خبرې ئې واؤرېدې ـ هغې په وار خطایۍ د کوټې نه باهر رامنډه کړه ـ هغې یو ځل د خلقو خاموشۍ ته اوکتل او بیا ئې په ګټ غوړېدلې ,, ځادر ،، ته اوکتل ـ څو لحظې لکه د بُت خاموشه ولاړه وه ـ ـ او چې بیا ئې په رپېدونکو لاسونو د ګټ نه ځادر

ketabton.com - The Digital Library



رابنکلو نو د خپل لالا په وينې وينې مخ ئې سترګې اولګېدې . هغې بې اختياره چغې کړې ... ,, دا چا ؟ لالا ... دا ولې؟ ،، هغې په دواړه لاسه خپل مخ وهلو ... وېښته ئې شوکول . خو د هغې د دلاسې دپاره څوک هم نۀ وو . څوک هم نه .

او چې کله په ژړا ژړا د هغې مرۍ اونختنه نو لکه د لېونو په خپل ورور راپرېوته او چې په سلګو سلګو ئې د خپل لالا مخ ته په غور اُوکتل .نو داسې ئې محسوسه کړه لکه چې هغه ورته په مسکا کښې وائي ,, زما لېونۍ ... زما ګل جانې ... مۀ ژاړه ... تۀ ولې خفه کېږې ... تۀ اوګوره کنه ... ,, ما ... ما ... خو درله داد ے ,, څادر ،، راؤړے د ے ،، .

چې خندا ئې پرې تر مرګه پيرزو نشي<br>
د غريب سړي ,, لوئے جرم ،، غريبي ده

ketabton.com - The Digital Library



# لیکوال

هغهٔ په یو داسې ماحول کښې سترګې غړولې وې چرته چې د ,,پښتون کلتور ،، روایات لا اوس هم ټول ژوندي وو . ګودرونه اباد وو اخترونه لا ګرم وو او د کلي په کوڅو کښې به لا اوس پټ پناهې او چندروګانې کېدې . په حجرو کښې به د شپې تر ناوخته پورې د ستار د ترنګ او د منګي د ټنګ سره لا اوس هم ټپې او چاربیتې وئیلے کېدې . او که چرې به حجرې ته کوم

ketabton.com - The Digital Library



مشر راننوتو نو په هر لور به خاموشي خوره شوه ـ د چيلم لوګي به په برګو کښې ورک شول او د ستار اواز به ورو ورو غلے شو ـ زلمو به د مشر خبرو ته غوږ نیولے ؤ او تر هاغې به ئې څۀ نۀ وئیل تر څو به چې مشر واپس نۀ ؤ تلے.

د کلي پېغلو به کله کله په ګودر مازيګر ګرم کړو او په خندا خندا به ئې يو بل ښۀ پـه اوبـو وويشـتل ـ خو چې کله بـه د ماښام په تروږمۍ کښې دغه پېغلې لوندې خوشتې کورونو ته راغلې نو نۀ خو به ورته مور پـلار څۀ وئيـل او نـۀ بـه ورتـه زلمـو ورونړو غاښونه چيچل ـ ځکه چې دا ددغه کلي ,,روايات،، وو ـ

قبلې اړخ ته د کلي لوئے ډاګ ؤ ـ چرته به چې هر مازيګر زلمو کبډي کوله ـ ددې لوبې تماشې تـه بـه د کلي ماشومان هم ناست وو او بوډاګان هم ـ فرق صرف دومره ؤ چې ماشومانو به د ,,سبا،، انتظار کولو او مشرانو به ,, پرون،، پسې منګلـې مروړلې ـ کله کله به د کلي ځنې ماشومانو اتڼ واچولو په ګډا ګډا به دغه لوئے ډاګ ته راغلل ـ لوبه به ودرېده ـ ځوانان به هم په اتڼ کښې شريک شول بوډاګانو نه به د عمر احساس لـړې لاړو او ټول به دغه اتڼ ته د خندا نه شنۀ پراتۀ وو ـ د کلي پېغلې او مشرانې زنانه به هم ددې اتڼ تماشې ته راووتې ـ

ژوند کښې مستـه سـادګي وه ـ پـه ټـول کلي کښې پنځۀ شپږ کورونه پاخۀ وو ولې د دغه پخو او کچه کورونو تر مېنځه

ketabton.com - The Digital Library



,,فاصله،، نۀ وه او ټول خلق به په ښۀ او بده کښې يو بل سره اوږه په اوږه ولاړ وو.

هغۀ په کچه خاؤرين کور کښې سترګې وغړولې. د خړپوسو او ماشوم والي نه پس چې هغۀ ځنګه د پوهې او شعور په درشل قدم کېښودو نو وخت سره سره د کلي روايات او اقدار هم بدليدل. کور په کور د اوبو نلکې لګېدې او ګودرونه شاړيدل. بيټکونه جوړيدل او حجرې ورانېدې. کشران هوښيار يدل او مشران په معاشره بوج ګڼلے کېدل. ولې هغۀ ددغه بدلون نه بې پروا ؤ د هغۀ په ذهن کښې د ماضې ښکلاګانې او د ماشوم ولي يادونه ټول محفوظ وو. او چې کله ئې دغه يادونه د لفظونه په چوکاټ کښې ځائے کړل نو هر چا ورته ,,ليکوال،، ووې. د فطرت د ښکلاګانو اولسي ليکوال... د هغۀ دغه اولسي رنګ په هر چا ښۀ لګېدو ځکه نو په لږ وخت کښې ډېرو خلقو وپېژندو.

په دغه ډېرو خلقو کښې يوه ,, روبي ،، هم وه. چې د ليکوال د ښځې خپلوانه وه. ځکه نو هغه به اکثر ,, روبي،، کره ښار ته تلو. هغې به هر ځل ليکوال ته په ډېره مينه ,, هر کله راشه،، ووې. ليکوال به ورته خپله نوې ليکنه واؤروله. هغې به داد ورکړو او ليکوال ته به ډاډ ملاؤ شو. داسې ډېر وختونه تېر شول او بيا يوه ورځ ليکوال د خپل کلي په ساده حسن يو

ketabton.com - The Digital Library



نظم ولیکلو ـ داسې نظم چې لیکوال ئې پخپله په بیا بیا لوستو نه مړېدو ـ هغه په دې سوچ ډېر خوشحاله ؤ چې کله دا نظم په مشاعره کښې واؤروي نو څومره داد به واخلي ـ

بیا ئې زړۀ ته راغلل چې دا نظم اول „ روبي ، ، ته اورول پکار دي ـ ځکه نو د څۀ سوچ نه بغېر ښار ته روان شو ـ چې کله د „ روبي ، ، کور ته ورسېدو نو په وړومبي ځل پښه نیولې شو ـ زړۀ ئې بې واره غوندې ودانګل ، خو پوهه نۀ شو چې څنګه ئې دروازه بیرته کړه نو روبي د خندا نه شنه شوه „ ماوئیل تاسو به نن خامخا راځئ ... دا ... دا زما زړۀ وئیل او خبر ئې لیکوال صېب ... زړۀ چرې هم دروغ نۀ وائي ، ، هغې دا هر څۀ په یوه ساه ووې او لیکوال لاساه نۀ وه اخستې چې „ روبي ، ، په منډه منډه اخبار په لاس راغله ـ „ دا اوګورئ لیکوال صېب زۀ د تیرې یوې اوونې نه ستاسو لیکلې دا افسانه بیا بیا ګورم ، ، ـ

د لیکوال په مخ د خوا اعتمادۍ اثار نور هم واضحه شول ـ هغۀ د روبي د لاس نه اخبار واخستو ډېر ساعت ئې خپلې افسانې او عکس ته کتل او چې سر ئې راپورته کړو نو روبي لا هغسې د خندا نه شنه ولاړه وه ـ د هغې وړې سترګې نورې هم وړې شوې وې ـ او په غنم رنګې مخ ئې حیا او ښکلا داسې چورلکونه خوړل چې لیکوال ئې په خپل ګرداب کښې ښکیل کړو ـ د هغۀ د زړۀ درزا په وړومبي ځل دومره سېوا شوې

ketabton.com - The Digital Library



وه خو هغهٔ خپلو دغه احساساتو له نوم نهٔ شو ورکولے - ,,روبي، ، ښکته کتل او لیکوال د هغې د مخ په غوړېدلي کتاب کښې د خپل ژوند فالونه کتل - هغهٔ په دغه ټول لټون کښې د خپل ځان نه ورک ورک واپس کور ته روان وو او هله ورته د ,, ځان ، ، احساس وشو چې د ښار په لوئے بازار کښې ورته چا اواز وکړو چې ,, لیکوال صیب غاړې ته شه شاته دې ټرک را روان دے ، ،.

د لیکوال د حساس ذهن دپاره دا معمولي واقعه نهٔ وه - ,, روبي ، ، د هغهٔ زړهٔ ته داسې راننوتې وه چې هغهٔ ته د خپل زړهٔ درزا ښکارېده - هغه به ټوله ټوله ورځ یوازې ناست ؤ - ځان سره به ئې ژړل ولې د ,, روبي ، ، نوم اخستل د هغهٔ دپاره ګران وو - د لیکوال په دې ناڅاپه خاموشی د هغهٔ ښځه هم څو څو ځله شکمنه شوه - خو هر ځل ئې زړهٔ له په ,, دروغه ، ، دلاسه ورکړه کلونه تېرېدل او د روبي مینه د لیکوال په زړهٔ کښې نوره هم سېوا کېده -

او بیا یوه ورځ لیکوال ... د خپل فراق او نا قرارۍ په لمبو کښې ژوندي ساتلي ټول لیکونه راغونډ کړل او په دې خیال ,, روبي ، ، کره لاړو چې هغې ته د خپلې لېونۍ ,, مینې، ، قیصه په تفصیل سره بیان کړي چې څنګه ورسېدو نو د روبي په لیدو ئې داسې محسوسه کړه لکه چې هغه هم ددهٔ په انتظار وه - دا ځل ئې ورله د معمول خلاف په خپل لاس چائې هم پخې

ketabton.com - The Digital Library



کړي ـ د روبي مور هغې ته څو ځله ووې چې ,, په کور کښې نوکرانې شته نو ته ولې ځان له تکليف ورکوې، ، ـ خو هغې ضد کولو او مور ئې زړۀ نۀ شو ماتولے ـ

ليکوال لا د چايو نه دوه ګوټه نۀ وو اخستي چې روبي ورته ووې ـ ,, تاسو چائې وڅښئ بيا درسره زما څو ذاتي خبرې دي، ، ـ دا ئې ووې او څۀ کار پسې لاړه ـ د ليکوال په مرۍ کښې چائې غوټه شوې د هغۀ د زړۀ درزا سېوا شوه ـ هغه د روبي ,,ذاتي ، ، خبرو اورېدو ته ډېر لېواله ؤ ـ هغۀ ډېر کوشش وکړو ولې چائې ئې ونۀ څښلې شوې ـ ساعت تېر نۀ ؤ چې روبي راغله او هغۀ ته مخامخ کښېناسته ـ د ليکوال رنګ وتښتېدو ـ د هغۀ د وجود هر رګ ټوپونه وهل ـ څۀ ساعت روبي ښکته کتل او غلې ناسته وه ـ ليکوال د هغې د خاموشۍ نه ډېر مطلبونه اخستل ځکه نو رپېدونکي وښکي ئې بيا بيا تښتېدل راتښتېدل ـ زۀ ستاسو د ليک قدر کوم ـ روبۍ ورو غوندې ووې ليکوال هېڅ ونۀ وئيل صرف سر ئې وخوزولو او يو نظر ئې په خپل لاس کښې د ليکونو مجموعې ته وکتل ـ روبي مخ بلخوا واړولو او وې وئيل ,, تاسو ډېر ليکل کوئ ، ، ډېره پوهه لرئ علم لرئ خو په يوه خبره مو هډو سوچ نۀ دے کړے ، ، د ليکوال په مخ ډېر سوالونه راغلل ـ هغۀ روبي ته په غور اوکتل ,, تاسو دا سوچ نۀ دے کړے چې که چرې يو سړے خپلو ماشومانو

ketabton.com - The Digital Library



بچو او ښځې له دومره لویه دوکه ورکولې شي نو د هغۀ په مینه یقین لرل بې وقوفي ده او که نا؟ ،، دا ئې ووې او په شغ د کمرې نه ووته.

د لیکوال د ټول وجود نه لکه چې ساه وتې وي. د هغۀ نه خپل لیکونه خوارۀ وارۀ په زمکه پرېوتل. خو په رپېدونکو لاسونو ئې بیا راغونډ کړل. د هغۀ مرۍ وچه وه او چې راپاڅېدو نو داسې ئې محسوسه کړه لکه چې د کمرې ټول دیوالونه چاپېره چورلي. په راښکلو قدمونو د ,, روبي ،، د کوره راووتو هغۀ د خپل ژوند د ټولو نه لویه بازي بائیللې وه. ځان ورته مجرم مجرم ښکاریدو. د خپل ځان مجرم ... د خپلې ښځې مجرم او د خپلو وړو وړو بچو مجرم. چې کله کلي ته ورسېدو نو د خپل کور دروازه ئې په درز بیرته کړه او په وړومبي ځل ئې دا محسوسه کړه چې د خپل کور دیوالونه هغه خوري. نېغ خپلې کمرې ته ورغے. په کټ کښې خو اور پرېوتو او په چغو چغو په ژړا شو. چې کله ئې لږه ساه واخسته نو ګېر چاپېره کمرې ته ئې وکتل. هلته کاغذونه ګډ وډ پراتۀ وو. صندوقونه تس نس کړے شوي وو او ټولې جامې جوړې خورې ورې پرتې وې. د هغۀ په خپلو سترګو باور نۀ راتلو. په وار خطایۍ د کټ نه راپاڅېدو څو ځله ئې سترګې ومږلې. مخامخ په میز د روبي

ketabton.com - The Digital Library



تصویر پروت ؤ ـ هغهٔ په تندۍ دغه تصویر را اوچت کړو ـ نو ورسره ئې د خپلې ښځې لیک هم لاس ته راغے ـ

,, تاته دې روبي مبارک شي ـ ما ستا هر څهٔ ولوستل د وضاحت کولو هېڅ ضرورت نشته ځکه چې ما ډېر صبر کړے دے زۀ خپلو بچو سره ستا کور پرېږدم چرته ځم ؟ دا ماته هم پته نشته خو تهٔ ... تهٔ زمونږ دلته‌ون کوشش مهٔ کوه ،، ـ

لیکوال دا هر څهٔ څو څو ځله ولوستل ـ د ,, روبي ،، تصویر ته ئې کتل او بیا لکه د لېونو د خپلې کمرې نه راووتو په کور کښې چپه چپیا وه ـ هغهٔ یو خوا بل خوا منډې وهلې خپلو بچو او ښځې ته ئې اوازونه کول خو هلته څوک هم نهٔ وو ـ هغهٔ په رپېدونکو لاسونو خپل ټول لیکونه راغونډ کړل او څهٔ ساعت پس شعرونه سوزېدل ،افسانې لمبه کېدې ، تکلونه لوخړه کېدل ، نظمونه ایره کېدل او لیکوال ورته د خندا شین ؤ ـ کله به ئې ,, روبي ،، یادوله ـ کله خپله ماشومه لور ,, خورېه ،، او کله به ئې خپلې ښځې ته نعرې وهلې ـ هغه په داسې حال کښې د کوره راووتو چې ګرېوان ئې شلېدلے ؤ وېښتهٔ ئې ګډ وډ وو او د کلي په هره کوڅه کښې ئې په چغو چغو ژړل ـ هغه پښې ابله پښې هر طرف ته منډې وهلې خو چا ورله هم دلاسه نهٔ ورکوله ځکه چې که دا کلے هر څو هم هاغه ؤ ـ ولې اوس ئې ,, اقدار ،،

ketabton.com - The Digital Library



او ,, روایات ،، بدل وو ـ دلته ځان ځاني وه او هر سړے د ځان په غم اخته ؤ ـ

څو میاشتې خو د کلي خلقو لیکوال ببر سر او شلېدلے ګرېوان یو خوا بل خوا ولیدو ـ ولې بیا ئې هېڅ پته ونۀ لګیده چې چرته لاړو ـ اوس چې کله د څوارلسمې سپوږمۍ وي نو د کلي قبلې اړخ ته د غرۀ د سر نه د هغۀ د ټپو او چاربیتو اواز صفا اورېدے شي او چې کله ځول او طوفان وي نو د کلي خلق په لارو کوڅو کښې د هغۀ خندا اګانې اوري ـ مشران وائي چې لیکوال د کلي په هر کور او هره کوڅۀ کښې موجود دے خو چاته ځان نۀ ښائي ـ

چې د مینې د لمبو په اور کښې سوزي
هـا غـه روح بـه تـر ابـده په سلګو وي

ketabton.com - The Digital Library



# خیالے

هغوي دواړه د ورکوټوالي ملګري وو ـ د کلي لارې کوڅې د هغوي د پټ پټانو د هغوي د چندروګانو او نورو معصومو جذباتو ګواه وې ـ او چې د کومې ورځې نه د مینې احساس د هغوي لاشعور نه شعور ته راغلے ؤ ـ نو یو بل ئې خوښ شوي وو ـ ولې د دواړو تر مېنځه ډېره فاصله وه ـ ګلالۍ د ,, خان ګل کاکا ،، لور وه او ,, شېر ګل ،، د هغوي د کور

ketabton.com - The Digital Library



پېدائشي نوکر ؤ ـ پېدائشي ځکه چې د هغهٔ پلار نیکهٔ هم ددې کور نمک خوارهٔ پاتې شوي وو ـ

ګلالۍ د دولت په فاصلو عقیده نهٔ لرله ځکه نو څو څو ځله ئې شېر ګل ته د خپلې مینې اظهار کړے ؤ ـ ولې شېر ګل دومره همت نهٔ شو کولے ـ د خان ګل کاکا په زړهٔ د لور دا عادتونه جوړ نهٔ وو خو غږ ئې ځکه نهٔ شو کولے چې ګلالۍ نیازبینه وه او د هغې زړهٔ ماتول ورته ګران ښکارېدل ـ چې ایله پېغله شوه نو خپل ورارهٔ سره ئې د ژوند په زندان کښې ښکېل کړه ـ هغې ډېر وژړل ولې اخر ئې د ,, پښتو ،، په کرښه سر کېښودو ـ خو د وادهٔ نه پس هغې د سکون ساه چرې هم وانخسته ـ د هغې خاوند د پلار ایکي یو زوئے ؤ ځکه نو چا ورته ,, ښهٔ خبره ،، هم نهٔ شوه کولے ـ هغه به تهوله تهوله شپه یارانو سره بهر ګرځېدو ـ او ګلالۍ به د شېر ګل په غم کښې اوښکې تویولې ـ بلخوا د ګلالۍ د وادهٔ نه پس د شېر ګل مزه هم ورو ورو کمېده ـ هر وخت به په سوچونو کښې ډوب ناست ؤ ـ ولې دا احساس ئې چا له هم نهٔ ورکولو چې ګني هغهٔ ته د ګلالۍ نه بغېر دا هر څهٔ نیمګړي ښکاري ـ

د وادهٔ نه یو کال پس د ګلالۍ خاوند امریکې ته په سېل لاړو او ګلالۍ پلار کره راغله ـ کله کله به ئې شېر ګل

ketabton.com - The Digital Library



ولیدو ـ دواړو به یو بل ته وکتل او د یو بل په مجبورۍ به ئې د صبر ساه راښکه ـ

او بیا یوه ورځ چې د ګلالۍ د کور ټول خلق د محمد خان د زوئے وادهٔ له بر کندي ته لاړل نو په خوشي کور کښې د ګلالۍ جذبات راؤلړزېدل ـ د هغې په زړهٔ کښې ناقراري غورځنګونه شروع کړل ـ اخر صبر نهٔ شوه ـ د لوئې دروازې نه ئې سر راښکاره کړو او په حجره کښې ځوړند سر ناست شېر ګل ته ئې اواز کړو ـ د شېر ګل دپاره دا د نهٔ منلو خبره وه ځکه نو زړهٔ ئې درز اوخوړو ـ د کټ نه راپاځېدو خو بیا اټاله ودرېدو ـ دې فکر یوړو چې ورشي او که نا ـ خو چې ګلالۍ بیا اواز کړو نو ـ ـ شېر ګل نزدې ورغے ـ هغې ته ورته کور ته د ننه راتلو اشاره وکړه ـ ـ ـ او بیا لږ ساعت پس دواړه په خوشې کمره کښې یو بل ته مخامخ ناست وو ـ د ګلالۍ زړهٔ بې اختیاره درزېدو ـ هغې یوه خبره کوله او د شېر ګل په مخ د وار خطایۍ رنګونو نور څهٔ وئیل ـ

د څهٔ ساعت دپاره خاموشي وه ـ بیا ګلالۍ په رپېدونکو شونډو ووې ,, ماته وګوره زهٔ جینۍ یم او هغه هم یوه پښتنه جینۍ بیا هم زهٔ هر څهٔ کولے شم او تهٔ خو زلمے ئې تکړه ئې نو ولې دې رنګ داسې زیړ ټښتېدلے دے شېر ګله د زلمو سره بزدلي خوند نهٔ کوي ،، هغې د شېر ګل په سترګو کښې د

ketabton.com - The Digital Library



ننوتو کوشش وکړو . خو شېر ګل ترې سترګې بلخوا واړولې . ،،
زۀ ستا په جذباتو پوهېږم ګلالۍ ... خو ،، د هغۀ خبره په مرۍ
کښې ونښته . او ګلالۍ د هغۀ په مخ د مجبورۍ رنګونو ته
وکتل . ،،خبر دے تۀ هېڅ مۀ کوه دا ټول کار به زۀ وکړم ،، تۀ بۀ
بېګا ته د کوټې نه بهر څملې دا زما حکم دے ،، ګلالۍ دومره
قدرې ووې او په څۀ کار پسې پاڅېده .

د شېر ګل په مرۍ کښې لاړې اوچې شوې . هغه د خان
کاکا په نمک رالوئے شوے ؤ . څکه نو چرې ئې هم داسې نۀ شو
کولے چې د پلار نیکۀ د کلونو په خدمت باندې اور پورې کړي .
هغه په دې هم پوهېدو چې که چرې خان کاکا په دې هر څۀ خبر
شو نو هغه به یوه لحظه هم ژوندے پرې نۀ ږدي . هغه هېڅ
فېصله نۀ شوه کولے . د کور نه بهر راووتو . په حجره کښې ئې
چیلم دوه درې څله ډک کړو خو هېڅ خوند ئې ورنۀ کړو . کله به
ئې وئیل چې ،، بیګا ته هډو کور ته نۀ څم ،، او کله به ورته د
مینې او جذباتو احساس ډاډ ګیرنه ورکړه چې ،، ګورې نا ...
ګلالۍ ستا دپاره څومره لوئې قربانۍ ورکولو ته تیاره ده . اخر
تۀ زلمې ئې پښتون ئې نو بیا ولې د یوې بې وسه پېغلې د
جذباتو قدر نۀ شې کولے ،، .

په دې فکرونو او لامحدوده سوچونو کښې ماښام شو.
د مور او پلار د بیا بیا منت باوجود شېر ګل ورتې ونۀ خوړه او

ketabton.com - The Digital Library



سم د ماښام نه ئې د کوټې نه بهر په پروت کټ کښې پښې وغزولې. هغۀ څو ځله سترګې پټې کړې او هر ځل ئې د خپل زړۀ هر درز داسې محسوس کړو لکه چې ګلالۍ را روانه وي. هغه خوشحاله هم ؤ او وار خطا هم. پلار ورته ووې چې ,, هلکه د ژمې شپه ده بهر مۀ څمله ناروغه به شې ،، خو هغۀ ورته صرف دومره ووې چې ,, دننه مې ساه ډوبېږي ،، مور ئې وربانديې ډوبه برېستن واچوله او پخپله دننه کوټې ته لاړه.

شپه يخه وه. د غرونو په سرونو واؤرې شوې وې. خو د مازيګر نه پس موسم صفا شوے ؤ ځکه نو د څوارلسمې د سپوږمۍ شغلې نورې هم يخې وې چې څنګه څنګه شپه پخيده. د شېر ګل تلوسه نوره هم سېوا کېده. دوه درې ځله د پيشو د پښو ښکالو سره په کټ کښې رانېغ شو. کله کله به ئې چې پلار دننه په کوټه په ډډه واؤړېدو نو دلته به شېر ګل غوږونه نېغ کړل. چې کله شپه ښۀ اوغزېده نو د هغوي د کور دروازه ورو غونديې بيرته شوه. په شېر ګل يوه تبه تله او بله راتله. هغۀ د ور خلاصېدو نه پس د ګلالۍ د پښو ښکالو اورېدۀ چې ورو ورو د هغۀ کټ پورې راورسېده. هغۀ په ځان پورې برېستن نوره هم کلکه کړه خو ساعت تېر نۀ ؤ چې ,, چا ،، برېستن ورو غونديې راښکه او بيا غلې غونديې د شېر ګل خوا

ketabton.com - The Digital Library



ته راوختل ـ د شېر ګل ساه بنده وه او ټول وجود ئې خوله خوله ؤ هغه نۀ پوهېدو چې څۀ وکړي ـ

څۀ ساعت خاموشي وه او بیا په شېر ګل چا ورو غوندې پښه واچوله ـ هغه غوښتل چې چغې کړي خو د ویرې نه ترې اواز هم نۀ شو ختلے ـ ساعت تېر نۀ ؤ چې چا ترې لاسونه هم چاپېر کړل ـ د شېر ګل په ذهن کښې د رسوایۍ هېبتناک احساس راؤپارېدو د هغۀ په مرۍ کښې لاړې اوچې شوې ـ د وینې چلن ئې نور هم سېوا شو او د شپې د تېرېدو احساس ورته هله وشو چې کله ئې د پلار خبرې واؤرېدې ـ ,, دا خو دپاسه سره غرمه ده او شېر ګل بچے مې نن هډو د پاڅېدو نوم نۀ اخلي ، ،

د شېر ګل د ټول وجود نه لکه چې دم ختلے وي ـ هغه برستن په ځان پورې نوره هم کلکه کړه ـ لاس اوس هم د هغۀ د غاړې نه چاپېره ؤ ـ د هغۀ هر یو رګ بې اختیاره دانګل او د پلار د بې عزتۍ احساس په یو دوه کښې اټاله کړے ؤ ـ هغه نۀ پوهېدو چې خپلې مور او پلار سره به څنګه سترګې لګوي ـ هغه د پلار خبرو ته غوږونه نېغ کړي وو ـ ,, د خان کاکا زوم بیګا د امریکې نه واپس راغلے دے چې شېر ګل پاځي نو هلته ئې ولېږه او زۀ ځاروؤ له ګیاه راوړم ـ هغه د پلار د پښو اواز اورېدو ـ چې د کوره ووتو ولې د پلار دې خبرې د شېر ګل په

ketabton.com - The Digital Library



ذهن کښې يو بل طوفان راپورته کړو ـ هغه نۀ پوهېدو چې د خان د زوم سره به څنګه سترګې لګوي ـ مور ئې ورته درې ځله اوازونه وکړل ـ خو شېر ګل ځان نا غرضه کړو ـ هغې ځان سره ووې ,, ته خو په سړيتوب نۀ پوهېږې خو اودرېږه چې دا برستن درنه ګوزار کړم چې پاڅې او که نا ،، د شېر ګل د سر نه شنه لوخړه وختله ـ هغه د مور د هر قدم اواز داسې اورېدو لکه چې زړۀ له ئې څوک د پلک ګوزارونه را اچوي ـ

چې مور ئې کټ ته نزدې راغله نو برستن ئې ترې په درز لرې ګوزار کړه ـ شېر ګل زړۀ کلک ونيولو او سترګې ئې پټې کړې ,,وې دا خو ,,خيالے،، هم راغلے دے ،، خو شېر ګل د مور په دې خبره هډو پوهه نۀ شو ـ د مور نه ئې مخ واړولو او چې سترګې ئې پرانستې نو کشر ورور خيالي ترې دواړه لاس چاپېره کړي وو ـ شېر ګل يوه اوږده ساه راښکه او چې ئې اوکتل نو د څو ورځو ,,دياړې ،، ستړے کړے خيالے لا اوس هم بې غمه اودۀ ؤ ـ

څوک تر سحره ارمانونه ژاړي
څوک بې پروا په خوب اودۀ پراتۀ دي

ketabton.com - The Digital Library



# تهينکس ګاډ

هغوي دواړه خاموشه ولاړ وو ـ کله کله به ئې يو بل ته وکتل ولې بيا به ئې سترګې ښکته کړې ـ دواړو د يو بل د زړهٔ درزار اوريدهٔ ـ ولې چا هم دا همت نهٔ شو کولے چې د غه اظهار په شونډو راولي ـ په ديوال باندې يو جولاچاق چاق خپلې جالې ته روان ؤ ـ هغوي دواړو د جولاد پنجو اواز هم اوريدے شو او په جاله کښې د نښتي ماشي د څانګونو شور

ketabton.com - The Digital Library



هم ـ د کړکۍ په نرو نرو چاؤدونو کښې خوږه خوږه هوا راتله چې د کړکۍ پردې ئې خوزولې دوي د پردو د خوزیدو دغه اواز هم اوریدو ـ په دې دومره خاموشۍ کښې ,, یو خاموشه اظهار ،، د مینې خبرې کولې او دوي دواړه په سترګو سترګو کښې په دغه خاموشه اظهار پوهېدل ـ ,, جمال ،، چې د ډېر وخت نه د ,, شمیم ،، په مخ سترګې ښخې کړې وې بې اختیاره ووې ,, ش ـ ـ ـ شمیم ،، شمیم لکه چې د یو ژور خوب نه راپورته شوې وي ـ ,,هن ،، هغې غلې غوندې ووې ـ جمال په اوچو شونډو ژبه راښکه د زړۀ خبره شونډو له راغله او د هغۀ د زړۀ درزا د قابو نه بهر وتله ,, تۀ دا خپل لاس زما په سینه کېږده نو پوهه به شې چې زۀ څۀ وئیل غواړم ،، شمیم داسې محسوسه کړه لکه چې جمال عن د هغې د زړۀ خبره کړې وي ـ د څۀ سوچ نه بغیر ئې منګل د هغۀ په سینه کېښوده ـ او مخ ئې بلخوا واړولو ـ د جمال د وجود هرې ذرې اور واخستو ـ هغه په خپلو رګونو کښې د شمیم د بدن ګرم والے محسوس کړو ـ

هغۀ غوښتل چې شمیم د خپلې سینې سره جوخته کړي خو چې باهر ئې د هغې د پلار خبرې واؤریدې نو وبوږنیدو ـ هغه د شمیم لاس په خپلې سینې پورې کلک ونیولو ـ ,, تۀ پوهه شوې ؟ هغۀ په ښنتې اواز کښې ووے ـ ,, خدائے پاک دې ما مړه کړي ،، د شمیم په سترګو کښې د مجبورۍ اوښکې

ketabton.com - The Digital Library



لاړې راغلې ـ جمال د هغې په خوله لاس کېښودو ـ او بیا ئې د هغې مخ په دواړو لاسونو کښې ونیوؤ ـ ,, داسې مهٔ وایه شمیم په ما اعتماد کوه ، مکمل اعتماد ،، ,, زما په تا مکمل اعتماد دے ـ خو خدائے خبر جماله ... خدائے خبر چې دا زړهٔ مې ولې کله کله دا خبره نهٔ مني تا خو زهٔ په داسې امتحان کښې اچولې یم چې زهٔ ئې هډو په چل نهٔ پوهېږم ـ ما خو چرې دا سوچ هم نهٔ ؤ کړے ـ دا هر څهٔ څنګه اوشو ،، ـ شمیم یو نظر ښکته وکتل او بیا ئې د جمال سترګو ته سترګې راواړولې ـ ,,کاش وخت هم په دې ځائے اودرېدے شوے چې ما خپل پاتې ټول عمر تاته په کتو تېر کړے وے ـ کاش تا ټول عمر هم زما سوچ کولے شوے ،، ـ هغې دومره قدرې ووې او بیا ئې خپلې اوښکې قابو نهٔ کړے شوې ـ جمال د هغې هرې اوښکې ته د خپلې مینې بندونه وهل او هغه ئې دلاسه کوله ـ ,,شمیم زما دې ستا په دې پاکه مینه قسم وي چې ما نهٔ ددې نه وړاندې د چا داسې سوچ کړے دے او نه دې خدائے پاک زما په زړهٔ او ذهن کښې ستا نه سېوا بل ځوک ځائے کړي ،، ـ

په دې اورېدو خدائے خبر شمیم ته څهٔ خبره رایاده شوه هغې خپلې اوښکې اوچې کړې اوپه رپېدونکوشونډو ئې ووې ـ ,,جماله ماله داسې کول نهٔ وو پکار ځکه چې زمونږه تر مېنځه ډېره لویه فاصله ده دا ما څهٔ وکړل ... زهٔ څومره کم عقله یم ،،

ketabton.com - The Digital Library



هغـه د کټ لنګـې تـه کښېناسـتـه او پـه دواړه لاسـونو کښـې ئـې خپل مخ کلک ونیو ـ جمال څۀ ساعت اټاله اودرېدو بیا ئـې پـه غریو کښې ووې ـ ,, شمیم تۀ د جذبو په صداقت ایمان لرې ،، شمیم سر وخوزولو او جمال خپله خبره اوږده کړه ـ ,, زۀ د مینـې تقدس د جذباتو په لمبو کښې نۀ شم ستي کولے ـ تۀ باور لـره چې کۀ چرې ټول عمر راسره داسې په خوا کښې ناسته ئې نو زۀ بـه درتـه ګـورم ـ شـمیم زۀ یـو شـډل پښـتون یـم او د یـوې پښـتنې پېغلې مجبوریانې پېژنم ،، د شمیم زړۀ له خدائے خبر چې بیا څۀ راغلل وړو وړو سلګو وینوه ـ ,, تۀ نۀ پوهېږې ،، هغې دومره قدرې ووې او بیا سلګو سره هټکو ونیوه ـ

د کمرې نه بهر د شمیم مـور چـا سـره پـه خبـرو تیـزه تیـزه لګیـا وه او دلتـه د جمـال پـه زړۀ کښـې د مینـې طوفـان غورځنګونه وهل ـ ,, شمیم داسې مۀ کـوه څـوک بـه رانـنـوځي ،، راځي دې کنه زۀ د چا نه ویرېږم خو نه ،، شمیم په اعتماد ووې ـ که هر څو د هغې لهجه کښې اعتماد ؤ خو د جمال نه ساګ سیلۍ وړے ؤ ـ هغه په درنو قدمونو شمیم ته ورنزدې شو او پـه رپېدونکو لاسونو ئې راپاڅوله د شمیم زړۀ نور صبر ونۀ کړو او جمال ته ورتر غاړه وته هغه ټوله لکه د پاڼې رپېده ـ د جمال پـه ټول بدن کښې د شمیم د بدن ګرم والي چورلکونه خوړل ـ هغه د شـمیم مـخ دواړو لاسـونو کښـې کلـک ونیـوۀ ـ د اوښکو ډکې

ketabton.com - The Digital Library



سترګې ئې ورله ښکلې کړې - د شمیم د هر اندام نه لکه چې ساه ختلې وي او جمال د خپل کیفیت اندازه ونۀ لګولې شوه - هغه څۀ ساعت خپلې شونډې د شمیم په سترګوایښې وې -

او چې بیا ئې کله خپلې رپېدونکې شونډې د شمیم په زیړو تښتیدلو شونډو اېښودې نو د کمرې دروازه په درز بیرته شوه او جمال د کرسۍ نه سر د لاندې راپرېوتو - نوکر په وار خطایۍ رامنډې کړې ,, سر ... خېر خو دے کنه ،، هغه جمال د فرش نه راپورته کړو - جمال په بقو سترګو یو نظر نوکر ته وکتل ,, یو ګلاس اوبۀ ،، هغه په اوچو شونډو ژبه راښکه - د هغۀ زړۀ اوس هم بې اختیاره دانګل سترګې ئې پټې کړې یوه اږده ساه ئې راښکه او د خولې نه ئې بې اختیاره وختل ,,تهینکس ګاډ ،، (THANKS GOD)

داسې حالاتو زوروله یمه
چې تصور دې هم کولے نۀ شم

ketabton.com - The Digital Library



# اخبار

صوبیدار نیک عمل خان د خپلې نوکرۍ اخري سلوټ هم دومره په چستۍ سره وکړو چې هډو د چا یقین نهٔ راتلو چې ګني د هغهٔ عمر پوره پنځوسو کالو ته رسېدلے دے . هغه د خپل ریټائرمنټ کاغذونه د کرنل صېب نه په ډېر احترام راواخستل او چې کله ئې په دوېم ځل لاس تندي ته پورته کولو نو کرنل صېب ته ئې په ژور نظر وکتل او لکه د نور کله په شان

ketabton.com - The Digital Library



ئې دا ځل هم داسې محسوسه کړه لکه چې د هغهٔ په وړاندې د هغهٔ زلمے زوئے ارشد ولاړ وي ۔

صوبېدار نېک عمل خان فوځ ته په دې ارمان راغلے ؤ چې هغه به هم يوه ورځ لوئے افسر شي ولې د تعليم د کمي په وجه ايله د صوبېدارۍ عهدې ته رسيدلے ؤ ۔خو هغه مايوسه نهٔ ؤ او د خپل ارمان د تکميل دپاره ئې سترګې د خپل زلمي زوي ارشد په لور وې ۔ارشد اوس اوس د دولسم امتحان پاس کړے ؤ ۔پلار به د شپې تر ناوخته پورې زوي ته د خپلې نوکرۍ د زمانې قيصې کولې ۔او زلمي ارشد ته به ئې وئيل چې زهٔ د هغه ورځې په ارمان يم چې تا د فوځ د يو لوئے افسر په وردۍ کښې ووينم ۔هغه ته د پلار د جذباتو علم ؤ ځکه نو د آئي ايس ايس بي د امتحان دپاره ئې ټول ضروري کتابونه راجمع کړي وو ۔

او بيا هغه ورځ هم راغله چې ارشد د کمېشن په وړومبني ټسټ کښې د پاس کېدو نه پس کواټ ته د آئي ايس ايس بي دپاره لاړو ۔او د مقابلې په دغه منډه کښې د خپلو ملګرو نه په هر قدم وړاندې لاړو ۔د څو ورځو د امتحان نه پس چې هغه کور ته واپس راتلو نو په مخ ئې يقين او اعتماد دواړو چورلکونه خوړل ۔د ارشد په ليدو د صوبېدار نېک عمل خان زړهٔ د خوشحالۍ نه بې اختياره ودانګل او د زوي نه د څهٔ

ketabton.com - The Digital Library



اوربېدو نه وړاندې ئې په درز سلوټ وکړو ـ ارشد د خندا شین شو ـ او پلار ته بې اختیاره ورتر غاړه وتو او بیا د شپې تر ناوخته پورې ارشد خپلې مور خپل پلار او ماشومې خور ته د آئي ایس ایس بي د ټریننګ قیصې کولې ـ او هغوي ټول ورته غوږ غوږ وو ـ

د رزلټ د انتظار دغه څو ورځې ډېرې ګرانې وې ـ مور ئې په نفلونو او دعاګانو نۀ ستړې کېده ـ ماشومې خور ئې خپلې جوړه جامې او لس روژې منلې وې او پلار ئې وړاندې نه د خیرات دپاره د ,,ګوندل ،، نه مېښه راوستې وه ـ ارشد ته د ټول کور ددې ناقرارۍ او انتظار احساس ؤ ځکه نو د پلار په مشوره د رزلټ د پوښتنې دپاره کواټ ته روان شو ـ هغه د خیالونو او فکرونو یو لوئے سیلاب په مخه کړے ؤ ـ هغه په فلائنګ کوچ کښې د ناستو کسانو په خبرو نۀ پوهېدو ـ هغه داسې محسوسو له لکه چې دا د هغۀ ماتحت سپایان دي ـ په زړۀ زړۀ کښې ئې هغوي ته د چپ کیناستو حکمونه هم ورکول ـ په فلائنګ کوچ کښې غږېدونکې موسیقي د هغۀ په ذهن کښې داسې الول کېده لکه چې دا هغۀ ته فوځي بینډ غږېږي ـ د سړک په خوا خوا ولاړې ونې هغه ته د سلامۍ په غرض ولاړ کسان ښکارېدل ـ فلائنګ کوچ لکه د سیلۍ روان ؤ ـ او چې کله ئې د یو ټرک نه لار اخسته نو مخامخ ورله بس راغے. خلقو

ketabton.com - The Digital Library



یـو جـړق واؤرېـدو او بیـا نـهٔ د چـا د ژړا اواز راغـے او نـهٔ د چـا سلګۍ واؤرېدې شوې ـ په فلائنګ کوچ د چا د ګاډي ګمان نهٔ راتلو ـ او په حادثه کښې په مړو کسانو د بنیادمو یقین نهٔ شو کېد ے ـ په سوونو خلق راتلل ورېدل وارخطا کېدل توبې ئې ویستلې او په مخه تلل ـ

بیا صبا له د اخبار په وړومبۍ صفحه ددې حادثې خبر په لویو کرښو کښې چاپ شوے ؤ ...د اخبار په دوېمه صفحه په آئي ایس ایس بي کښې د کامیابو کسانو نومونه چاپ شوي وو ـ چې پکښې د ارشد نوم هم ؤ . . .او د اخبار د درېمې صفحې په اخري برخه کښې په وینو لړلے یو مسخ شوے تصویر چاپ شوے ؤ چې لاندې ئې ورته لیکلي وو ـ

,, د فلائنګ کوچ په حادثه کښې مړ شوے هغه بد قسمه زلمے چې لاتر اوسه ئې د وارثانو پته ونهٔ لګېده ،، ـ

کـــړه وړه کرښــــه د شــــکو پـــــه ســـر
وختــه ! لاجوړ نهٔ ووم چې وران دې کړمـه

ketabton.com - The Digital Library



# تصویر

ټوله ورځ باران ورېدلے ؤ ـ او چې کله د ژمي دغه یخه ورځ د تیارو په تورتم کښې ورو ورو ورکېده نو د اسمان په مخ وریځو په یو بل پسې منډې وهلې ـ سپوږمۍ به کله کله وریځو د تور ځادر نه د لږ ساعت دپاره مخ راښکاره کړو ـ یو نظر به ئې په کائناتو خپلې پلوشې خورې کړې ـ بیا به ئې لکه د ناوې سترګې د وریځو په پلوشو کښې پټې کړې ـ ساعت تېر نۀ ؤ چې

ketabton.com - The Digital Library



د اسمان برېښنا سپوا شوه ـ او بیا د دغه برېښنا سره په غرونو د تندرونو پرېوتو آوازونه هم هر چا واؤرېدۀ خو په کلي کښې داسې خاموشي خوره وه لکه چې هر چا د خپلو کورونو نه کډې کړي وي ـ د باران څاڅکي داسې بې ترتیبه راپرېوتل لکه چې څۀ رنګې چې څوک چاله په مخ درنې درنې څپېړې ورکوي ـ

سیفور په دغه زول او طوفان کښې ګوډ ګوډ روان ؤ ـ چې کله به د هغۀ په لمدو جامو د اسمان برېښنا اولګېده نو د هغۀ په ګس مټ او ښي خپه به د باران د اوبو سره ګډې وډې وینې ښکاره شوې ـ هغه په ځان پسې ځان راښکلو ولې په شونډو ئې زبیرګے نۀ راوستو ـ او بیا چې کله هغه یوې دروازې ته نزدې شو نو رو غوندې ئې دروازه اوټکوله ـ هغه دروازې ته د ارمان او حسرت په نظر کتل ـ او چې په دویم ځل ئې دروازه اوټکوله نو ... دروازه خلاصه شوه ـ یو سپین ږیرے باباسیفور ته مخامخ راغے ـ سیفور د هغۀ سترګو ته اوکتل ـ اسمان اوبرېښېدو ـ او بابا پوهه شو ـ چې سړے ډېر ژوبل دے ـ هغۀ سیفور ته دروازه خلاصه کړه ... او ورته ئې ددننه راتلو اووئیل ـ

سیفور یوه اږده ساه راښکه ـ بابا هغه له اوږه ورکړه او دروازې ته نزدې کمرې ته ئې دننه کړو ـ سیفور د یخنۍ نه رپېدو ـ او بابا ته د موسم احساس ؤ ـ هغۀ زر زر هور بل کړو ـ او

ketabton.com - The Digital Library



چې کله د هور رڼا په سیفور اولګېده نو بابا د هغهٔ زخمونه واضح اولیدل.

دواړو به یو بل ته په ژور نظر کتل خو چا هم خبره نشوه کولے. اخر بابا غلي غوندې اووے ,, ستا خو لکه چې زخمونه ډېر ژور دي. اودرېږه چې څهٔ پتهٔ درله اوکړم ،، بابا چې څنګه په پتهٔ پسې پاڅېدو نو سیفور ورته بیا په ډېر غور اوکتل. بابا څهٔ ټوکي اوسوزول او چې د سیفور په زخمونو ئې پهې لګولې نو سیفور داسې محسوسه وله لکه د هغهٔ په زړهٔ ټکورنه لګي. چې کله د سیفور لږه تسلي اوشوه .نو بابا ورته ګرم څادر راواخستو .او ورته ئې اووے چې اودهٔ شه چې کله صبا راؤخېژي نو... بیا به پخپله مخه ځې. سیفور بابا ته یو ځل بیا په غور اوکتل .بابا د هغهٔ د سترګو په تجسس او سوالونو پوهېدو. په ډېر چل ئې ترې د زخمونو سوب اوپوښتو. سیفور خبره الول کړه او دومره قدرې اووے چې دشمنان راپسې وو. دغه څو ډزه په مقابله کښې لګېدلے یم. او که چرې تاسو راله امن نهٔ وے راکړے نو... ،،

د بابا او سیفور چې کله خبرې اوږدې شوې نو بل خوا د عبدالجبار خان بي بي په کور کښې حیرانه اودریده او دې فکر یوړه چې په دې توره تیارهٔ کښې د هغوي نوکر په خپله وړه کوټه کښې د چا سره خبرې کوي. هغه د ګوتو په سرونو

ketabton.com - The Digital Library



کوټې ته نژدې راغله ـ څۀ ساعت ئې خبرو ته غوږ اونيوۀ ـ بيا ئې د ورۀ په چوند کښې غلې تماشه اوکړه ـ د هغې نظر د اور په لمبو کښې د سيفور په مخ پرېوتو ـ زړۀ ته ئې ډېرې وسوسې او سوالونه راغلل خو ....خو خاموشه پاتې شوه ـ

د سيفور په مخ ناقراري واضحه ښکارېده ـ هغه اړخونه بدلول او د سپين ږيري بابا سره ئې خبرې بدلولې رابدلولې ـ ,,ما په ژوند کښې ډېر څۀ ليدلي دي ـ د خپل هوس دپاره مې ډېرې وينې توې کړي دي خو ... اوس ملامته يم ـ ماته احساس کېږي چې که پردي سل کورونه وران کړې خپل يو نشې آباده ولې،، ـ بابا ددې خبرې سره سر اُوخوزولو ـ او بيا ئې سيفور ته اوئيل ـ ,,مېلمه چرته خپل زړۀ دې هم درد کړے دے ـ سيفور د لږ ساعت لپاره په سوچ کښې لاړو بيا ئې ـ يو سوړ اسويلے اوکړو ـ ,, هو بابا يوه واقعه داسې ده چې زما په دې مجرم ذهن کښې هر وخت ازغي ازغي کېږي ـ زما په ضمير بيا بيا چکونه لګوي ـ خو ... بابا چې کله د عقل سترګې ړندې وي او سړے خپل غرض را اخستے وي نو هاغه څۀ کوې چې د انسانيت ترې هم ويره کېږي،، ـ ,,هو تاربنتيا اووے،، ـ بابا د سيفور د خبرې تائيد اوکړو ـ ,, تا راته قيصه کوله،، ـ سيفور په اوچو شونډو ژبه راښکله ـ ,, بابا دا هم داسې د ژمي ورځې شپې وې ـ ماته چا اووئيل چې د امان کوټ کلي د عبدالجبار خان نوکري

ketabton.com - The Digital Library



پوره شوي ده ـ لوئے افسر دے ـ او نن صبا به د پينشن پنځه روپۍ را اخلي ـ د عبدالجبار خان د نوم د اورېدو سره د بابا غوږونه اودرېدل ـ او په وازه خوله ئې اووے ,,بيا ،،؟ سيفور اړخ بدل کړو او قيصه ئې بيا شروع کړه ـ بيا زۀ په دې غم کښې اخته شوم چې دامرغۍ مې د ګوتو نه اونۀ ځي ځکه نو د هغۀ څارنه مې شروع کړه ـ او چې په کومه ورځ هغه د بينک نه پيسې راواخستې نو زۀ هم په بينک کښې ولاړ ووم ـ د هغۀ په لاس کښې دومره ډېرو روپو زما د ضمير سترګې ړندې کړې ـ چې هغه د بينک نه اووتو نو زۀ ورپسې شوم ـ هغه چې په ما پوهه شو نو د ځان د خلاصي دپاره ئې ډېرې منډې اووهلې خو اخر زما د پنجې د لاندې راغے . . . بابا هغۀ ماته ئې ډېر منتونه اوکړل خو ما د هغۀ نه د هغۀ د ځلوېښتو کالو خواري په لږ ساعت کښې اوتروړله ـ او چې کله مې زړۀ ته راغلل چې داسې نه صبا له زما د جرم پته اولګي نو د څۀ سوچ نه بغېر مې دوه درې ډزه په سر اوويشتو ـ بابا ... زۀ هر څۀ هېرولے شم خو د عبدالجبار خان هاغه اخري سلګۍ هاغه سواليه نظر نشم هېرولے ـ کله هم نه ،، ـ

چې څنګه سيفور دا قيصه کوله نو د بابا د مخ رنګونه بدليدل رابدليدل ... چې کله د اور لمبه تيزه شوه نو سيفور د بابا د مخ تښتېدلي رنګونه اوليدل ـ خو هېڅ ئې اونۀ وئيل ـ

ketabton.com - The Digital Library



بابا غلے غونډي پاڅېدو۔ دروازه ئې خلاصه کړه ۔او چې کور ته دننه شو ۔نو سیفور د اور د لمبې په رڼا کښې مخامخ په دېوال د عبدالجبار خان عکس اولیدو ۔د هغۀ سترګې بقې را اووتې په مرئ کښې ئې لاړې اوچې شوې ۔هغه لکه د بُت مخامخ عکس ته کتل بل خوا بابا ساه ساه په ټوپک پسې منډه کړه ۔ چې څنګه ئې ټوپک ته لاس کړو نو د شانه نه ورته چا په اوږه لاس کیخودو ۔بابا اوبوګنیدو ۔چې شاته ئې اوکتل نو مشره بي بي ولاړه وه ۔د هغې په سترګو د هور لمبو چورلکونه خوړل۔ بابا به څۀ وئیل چې مشرې بي بي ورته اووے ,, ما هر څۀ واؤریدل۔ زما په زړۀ کښې ستانه د انتقام اور ډېر سېوا دے ۔خو دا د یو پښتون کور دے ۔او د پښتون کور ته چې څوک د امن دپاره راشي نو په هغۀ ډز کول نۀ پښتو ده او نۀ غیرت دے۔ بابا نن سیفور زخمي دے او په زخمي لاس پورته کول نوره هم بده خبره ده۔ ورشه او د کوره ئې باهر کړه ،، ۔

سیفور دا هر څۀ په خپلو غوږونو واؤرېدل ۔ هغۀ ته ځان نور هم مجرم ښکاره شو ۔او چې کله بابا خپلې کوټې ته راتلو نو بیا سیفور د شپې په تیارۀ کښې په تیزئ سره وتلے ؤ ۔بابا ورپسې باهر ته منډې کړې خو د شپې په تورتم کښې هغۀ ته هېڅ نۀ ښکارېدل ۔۔۔ څو لحظې پس د ټول کلي خلقو یو ډز

ketabton.com - The Digital Library



واؤریدو ددغه ډز د اوریدو سره د عبدالجبار خان د ښځې زړهٔ ته ډېر سوالونه راغلل خو هغې خپل نوکر ته هېڅ اونهٔ وئیل.

او بیا صبا له د کلي په لارو کوڅو کښې هر چا دا خبره کوله چې د بې شمیره بې ګناه کسانو قاتل سیفوري بیګاه په نیمه شپه کښې ,, خپل ځان ،، پخپله اوویشتو.

چې احساس شي ملامته ضمیر ویخ شي
نو ژوندون بیا د ژوندون په اوږو بار وي

ketabton.com - The Digital Library



# قتل

د ساده کلي په سادګۍ کښې لا اوس هم مستي په غورځنګ وه په ګودرونو کښې به هر مازیګر ښکلاګانو یو بل له غاړې ورکولې . په تنورونو به د پېغلو خنداګانو نوره ګرمي پیدا کوله . د چنار په لوړو ښاخونو کښې به ټالونو ,, ژوند ،، له جوتې ورکولې . کورونه ,, خړ ،، وو خو ضمیرونه پاک وو . کوڅې ,, تنګې ،، وې خو زړونه فراخه وو . دیوالونه کچه وو خو

ketabton.com - The Digital Library



,,لوظونه ،، پاخۀ وو ـ په جوماتونو کښې به تر ناوختـه خلقـو د کلي په مسئلو خبرې کولې او په حجرو کښې به لاس اوس هـم د رباب تارونو د وختونو نغمې وئيلې ـ

جمال او مرجانه هـم د ژوند د ربـاب ,, دوه نغمې ،، وې د جمال د ځوانئ او ښائست خبرې بـه پـه ګودرونو او تنورونو کېدې ـ خو د مرجانې د پېغلتوب خبره د چا پـه خولـه نۀ شوه راتلے ـ

د دواړو د کليو تر مېنځه ايله دوه ميله فاصله وه ـ ځکه نو غم ښادي شريکه وه ـ مرجانه د ورکوټوالي نه د جمال پـه نوم وه ـ جمال د کمال خان زوئے ؤ او کمال خان د مرجانې د پلار د مودو يار ؤ ـ دواړو د ځوانئ ډېر رنګونه په يو بل شيندلي وو او د وخت تېرېدو باوجود لا اوس هم په دغه رنګونو کښې ځلا وه ـ او بيا چې کله د رباب دغـه دواړه نغمې پـه يـو سر کښې ځائے شوې نـو پـه ټولـه ,, علاقـه ،، کښې خوشحالي وه ـ مرجانـه د جمال په کتو نۀ مړېده او جمال د مرجانې په سترګو کښې ورک ؤ ـ

کشماله د مرجانې کشره خور وه او نعيم ئې مشر ورور ؤ چې په فوځ کښې مېجر ؤ ـ مېجر صېب به کله کله پـه چوټئ کلي ته راتلو او هر ځل به ئې تر ناوخته پورې کشمالې ته د فوځ قيصې کولې ـ که هر څو هغې دغه قيصې څو څو ځله اورېدلې

ketabton.com - The Digital Library



وې خو د ورور د زړۀ دپاره به ئې ورته هر ځل غوږ نیولے ؤ ځکه چې مېجر صیب په کشمالې ډېر زیات مئین ؤ او کشمالې ته ددغه مینې پوره پوره احساس ؤ.

بلخوا جمال د مرجانې په ټول ټبر ګران ؤ. ولې کشمالې به په هره خبره کښې د هغۀ ذکر کولو او چې کله مرجانه وادۀ شوه نو کشماله به اکثر هم خور کره وه. هغې به چې کله جمال ته په ډېر مینه ,, بهائي جان ،، وئیلو نو د هغۀ په سترګو کښې به د خوشحالۍ اوښکې لاړې راغلې او د زړۀ د رباب هر یو تار به ئې داسې نغمه شروع کړه چې هغه به پرې پخپله هم نۀ پوهېدو.

د وادۀ نه یو نیم کال پس چې کله مرجانه د وړومبي ماشوم د کېدو په موقعه ناروغه شوه نو کشماله د هغې د خدمت دپاره په دؤ راغله د خور خدمت سره سره به چې له هغې جمال له جامې استري کولې هغۀ ته به ئې روټۍ اېښوده د هغۀ پېزار به ئې پالش کولو نو زړۀ او ضمیر به ئې د یو بل نه داسې عجیبه عجیبه پوښتنې کولې چې د کشمالې نه به یوه دوه خطا شول. د ځان سره به ئې ډېر څۀ وئیل کوم چې صرف هغې اورید ے شول.

چې کله د مرجانې ماشوم د ځلوېښتو ورځو شو نو هغه پلار کره لاړه. کشماله په دغه ورځ ډېره خوشحاله وه. مرجانې

ketabton.com - The Digital Library



مور ته د خپلې ناروغتيا قيصې کولې او کشمالې د ,, بهائي جان،، نه په دروغه ګيلې مانې کولې ۔ ورځ تېره شوه ۔ او چې کله ماښام تيارۀ خوريده نو مېجر صيب هم راغے ۔ په کور کښې خنداګانو جوختې غاړې ورکړې ۔ کشماله په کور کښې توده توده ګرځېده او چې کله شپه په غزيدو شوه نو کشمالې د کور په لويه کوټه کښې خپل ورور او ,, بهائي جان ،، له کټونه سم کړل ۔ خبرې وشوې ۔ ګيلې ترسره شوې او بيا په کور کښې ورو ورو اوازونه ورکېدل ۔

ټول خلق اودۀ شول ولې کشمالې له خوب نۀ ورتلو ۔ هغې بيا بيا اړخونه بدلول ۔ چې کله به ورله يو نازک غوندې خيال ضمير اوتخنولو نو د هغې د زړۀ درزا به سېوا شوه ۔ په کټ کښې به ئې سر راپورته کړو ۔ ولې ګېر چاپېره به د خاموشۍ نه علاوه هېڅ نۀ وو ۔ کله کله به ئې د سوچ په ولوونو کښې جمال ونښتو ۔ د هغۀ ځوانۍ او ښائست ته به فکر يوړه ۔ زړۀ به ورته ډېر خۀ ووئيل خو هغې ته به ځان ډېر لوئے مجرم ښکاره شو ۔ زر زر به ئې توبه وويسته او سترګې به ئې پټې کړې چې کله شپه توره هم پخه شوه نو مخامخ په ځوړند لالټېن کښې تيل خلاص شول او ساعت تېر نۀ ؤ چې ټول کور په تيارو کښې ورک شو ۔ دې تيارو د کشمالې زړۀ نور هم ناقراره کړو ۔ جمال د هغې په ذهن او سوچ کښې د خندا شين ولاړ ؤ ۔ ځان

ketabton.com - The Digital Library



سره د څۀ سوچ کولو نه پس هغه د کټ نه راپاڅېده ـ ګېر چاپېره ئې تورې تيارې ته وکتل ـ بيا د سر وېښتۀ سم کړل او د پنجو په سرونو د کور لوئې کوټې طرف ته روانه شوه ـ د هغې په هر رګ کښې وينې ټوپونه وهل ـ ساه ئې لنډه لنډه کېده ـ لاسونه او پښې ئې رپېدل خو ,, زړۀ ،، لکه د ماشوم د لاسه نيولې وه ـ

کوټه لرې نۀ وه او ساعت تېر نۀ ؤ چې کشماله د جمال د کټ سر ته ولاړه وه ـ يو څو ځله ئې اوږده ساه راښکه او بيا ئې په رپېدونکي لاسونه د جمال په ,, سر ،، کېښودل ـ هغې داسې محسوسه کړه لکه چې د وجود په هر رګ کښې ئې د اور لمبو چورلک خوړلے وي ـ هغه نۀ پوهېده چې څۀ وکړي جمال په ډوب خوب اودۀ ؤ او کشماله ايله د کټ بازو ته انډول شوې وه چې د کټ بازوګانو چغې کړې ـ د کشمالې نه لکه چې ساه ختلې وي ـ زر دجمال د کټ خوا ته کښېناسته ـ مېجر صېب په خپل کټ کښې ډډه بدله کړه او چې بيا کشماله په دغه تورتم کښې د چا په ښکالو هم پوهه شوه نو نوره هم وارخطا شوه او په خړپوسو خړپوسو د کوټې نه بهر راووته ـ

د هغې د رګ رګ نه خوله روانه وه ـ او چې څنګه خپل کټ ته ورسېده نو خوره وره پړمخې راپرېوته ـ هغې ځان سره په چغو چغو ژړل د زړۀ درزا ئې دومره سېوا شوه چې د هغې د برداشت نه ووته ـ او کله چې دغه درزا ورو ورو کمېده نو د

ketabton.com - The Digital Library



هغې ژړا هم ورو ورو د شپې په خاموشۍ کښې ورکېده او چې کله بیا د چاپېرچل نه د شپې تور څادر راغونډېدو او د صبا ستوګه راختله نو کشماله په خپل کټ کښې بقې ستړګې مړه پرته وه.

تــا مې د حال پوښتنه اونکړله
د زړۀ خبره وه په زړۀ پاتې شوه

ketabton.com - The Digital Library



# استاذ ګاډے واپس کړه

,, **جنت ګل** ،، اسمان ته وکتل۔او بیا ئې یوه اوږده ساه راښکه بېلچه ئې په اوږه کړه او ستړے ستړے د کلي په لور روان شو۔د ماښام تیارۀ خورېدونکې وه خو د کلي ځنې زمیدار لا اوس هم په خپلو کارونو کښې بوخت وو۔جنت ګل ددغه کلي والو سیوري لیدل چې د سپوږمۍ په کچه رڼا کښې تت تت ښکارېدل ۔هغه ټوله ورځ په پټي کښې تېره کړې وه خو

ketabton.com - The Digital Library



د اوبو د کمي په وجه ئې اوبهٔ خور سرته نهٔ ؤ رسولے ۔ د هغهٔ خولې له دوه درې ځله یوه ټپه راغله اوبیا ئې داسې د ذهن نه په بېرته لاړه چې جنت ګل ئې د لفظونو اندازه هم ونهٔ لګولې شوه ۔

کلے دومره لرې نهٔ ؤ ۔ جنت ګل چې کلي ته راؤرسېدو نو بیا په کورونو کښې رڼاګانې بلې کړے شوې وې ۔ هغه د خیالونو په ژور سیلاب کښې د ځان نه ورک ؤ ۔ ځکه نو ورته دا پته اونهٔ لګیده چې کله د خپل کور دروازې ته راؤرسیدو ۔ هغه بېلچه په درز دروازه کښې ګزار کړه ۔ خپلې جامې ئې دوه درې ځله اوڅنډلې اوبیا د خپل محلت لوئې حجرې ته ورغے ۔

په حجره کښې د ټنګ ټکور محفل تود ؤ ۔ او چې کله به چا د منګي د ټنګ او د ستار د ترنګ سره ,, ټپه ،، پورته کړه نو جنت ګل به په دغه ناقراره جذبو کښې خپل تت شان عکس ښکارېدو ۔ هغه په فکرونو کښې ورک ورک یو اړخ ته پخه ډډه وهلې وه ۔ او د ټولې ورځې د ستومانۍ د ویستو دپاره ئې د کلي د زلمو مخونو ته په زیر زیر کتل ۔

کلے د ټولو شریک ؤ ۔ ځکه نو ورکښې هر یو مخ د بل سره اشنا ؤ ۔ دا ددغه کلي معمول وو او جنت ګل ددې ساده باده ښائستونو یوه حصه وه ۔

ketabton.com - The Digital Library



چې کله شپه په غزېدو شوه نو د کلي خلق ورو ورو په خورېدو شو ځکه نو جنت ګل ته هم دا احساس وشو چې هغهٔ د ماښام روټۍ هم نهٔ ده خوړلې ـ هغه کور ته په داسې حال کښې ننوتو چې په زړهٔ کښې ئې يوې داسې وسوسې لتې وهلې چې هغهٔ ئې احساس نهٔ شو کولے ـ په کور کښې ډيوه تته شان بليده جنت ګل چې نزدې ورغے نو ښځه ئې ورپسې راپاځېده او په رپېدونکو شونډو ئې ورته ووې ,, ښهٔ ده چې کور ته راغلې ،، جنت ګل د ډيوې په تته رڼا کښې د هغې په مخ راغلې اوښکې وليدې ـ زړهٔ ئې يو نرے غوندې درز وخوړو ـ ,, خير خو دے کنه ،، د هغهٔ مرۍ ونښته ـ ښځې ئې په خپل شليدلي پيڅکي اوښکې وچې کړې او جنت ګل ته ئې مخ را واړولو ـ ,, د نازکې تبه هډو کمېږي نه ،، هغې دومره قدر له ووې او بيا ئې خپلې ماشومې لور ,,نازکې،، ته وکتل چې اوس هم د نغري په غاړه په پورت کټ کښې پټې سترګې پرته وه جنت ګل چې نزدې ورغے او د لور په تندي ئې لاس کېښودو نو د وجود په هر رګ کښې ئې ګرمي خوره شوه ـ هغه خپلې ښځې ته هيڅ ونهٔ وئيل خو په درنو قدمونو واپس د کور نه راووتو ـ

ساعت پس کور ته د لالټين يوه رڼا رادننه شوه ـ د جنت ګل ښځې په دغه رڼا کښې اندازه لګولے شوه چې دا د کلي بابو صيب دے چې ورپسې جنت ګل د بابوصيب صندوقچه په لاس

ketabton.com - The Digital Library



را روان ۀ ـ بابو صېب چې کله د نغري خوا ته ورغے او د نازکې په تندي ئې لاس کېښودو نو لاشعوري طور ئې د خولې نه وختل چې ,, اُف دا خو ډېره زياته تبه ده ،، هغۀ د ماشومې په تندي لونده کپړه څو ځله کېښوده اوبيائې ورله څۀ شربت ورکړو ـ بابوصېب جنت ګل ته تسلي ورکړه او ورته ئې ووې چې ,,دې شربت سره به دا ښۀ شي خو ښۀ به دا وي چې صبا له ئې د ښار لوئے هسپتال ته ورسوئ ،، ـ د جنت ګل په مرئ کښې لاړې ونښتې ـ بابو صېب ته ئې په سوالي نظرونو وکتل خو بابو صېب د هغۀ په وړاندې هېڅ ونۀ وئيل او صندوقچه په لاس واپس روان شو ـ

جنت ګل ماشومې لور ته او بيا خپلې ښځې ته وکتل څوک چې سر تور سر وارخطا ولاړه وه ـ ,, حوصله کوه ،، هغۀ خپلې ښځې ته ووې ساعت تېر نۀ ۀ چې ماشومې زبيرګے وکړو او په نښتې ژبه ئې اوبۀ وغوښتې ـ جنت ګل خپلې ښځې ته وکتل د هغې په مخ لکه چې د اطمينان نښې ښکاره شوې وې ـ ماشومې ته ئې زر اوبۀ ورکړې ـ د اوبو سره هغې سترګې وغړولې اول ئې پلار ته وکتل او بيا ئې مور ته وکتل او بيا ئې سترګې پټې کړې شپه ورو ورو غزيده او عن تر دې چې د سحر اذان وشو خو جنت ګل او د هغۀ ښځې دواړو يو بل ته په سواليه نظرونو کتل ـ

ketabton.com - The Digital Library



سحر له د نازکې تبه بیا سېوا شوې وه ـ سترګې ئې پټې وې ـ چې کله رڼا خوره شوه نو جنت ګل د کلي د اډې نه ټیکسي موټر راوستو ـ مور نازکه په اوږه واچوله او په جنت ګل پسې شاته شاته روانه شوه ـ او بیا چې دوي په ټیکسي کښې کښېناستل نو ډرائیور ته ئې ووې چې ,, تادي کوه په لاره کښې چرته ایسار نۀ شو ،،

ټیکسي د کلي نه څو فرلانګه تلے ؤ چې د ,, قانون واکدارانو ،، د تلاشۍ دپاره ودرولو ـ جنت ګل ورته په رپېدونکو شونډو خبره وکړه ـ او هغوي څکه ومنله چې جنت ګل ئې پېژندو ـ ولې وړاندې ګام په ګام په روډ کښې لوئې لوئې تیږې پرتې وې ـ او ددغو تیږو سره ټوپک په لاس د قانون واکداران ،، ولاړ وو ـ هغوي به راتلل د جنت ګل نه به ئې تپوسونه کول ـ د ګاډي تلاشي به ئې اخسته او بیا به ئې د تلو اشاره کوله ـ جنت ګل څو کسانو ته په غصه دا هم ووې چې ,,دا د اسلام تقاضا نۀ ده چې بل مسلمان ورور ته دې تکلیف ورسولے شي ـ اخر هم زۀ ددې خاورې اوسېدونکے یم ـ او بیا زما سره زنانه ده ـ لږ سوچ اوکړئ سړیتوب هم څۀ شے دے ـ ,, خو د هغوي د خان د حکم تابعدار ،، وو د اسلام او د کلتوري روایاتونه ـ د ښار لوئې هسپتال ته ایله د یوې ګینټې لار وه او جنت ګل په پنځو ګینټو کښې لا هلته نۀ ؤ رسیدلے ـ د قانون

ketabton.com - The Digital Library



واکمنو سره د خپلې نوکرۍ غم ؤ ـ او جنت ګل د ځان په غم اخته ؤ ـ

چې لوئې هسپتال ته ایله دوه فرلانګه لار پاتې شوه نو د جنت ګل ښځې ورو غوندې د هغۀ په اوږه لاس کېښودو ـ جنت ګل په هېبت مخ راواړولو هغې د خپلې ښځې په سترګو کښې ئې غټې غټې اوښکې ولیدې څۀ تپوس به ئې کولو چې ښځې ئې ,,نازکې،، ته اوکتل او چې د جنت ګل سترګې په ماشومې نازکې ولګیدې نو د هغې سترګې وازې پاتې شوې وې ـ د جنت ګل د سترګو نه دوه غټې اوښکې لاړې او د ږیرې په وېښتو کښې ورکې شوې ـ هغۀ په رپېدونکو شونډو د ټیکسي ډرائیور ته دومره قدر له ووې ,, استاذ ګاډے واپس کړه ،، ـ

د ارمان جولۍ مې تشه درنه یوړه
وخته څومره لېونے جبر دې اوکړو

ketabton.com - The Digital Library



# اوچې اوبنکې

,, بنه نصیبه ،، د رحیم الله خان د کور پېدائشي نوکره وه ـ هغې ته یاد وو چې ایله د لسو کالو وه نو مور به ورته د کور کار سره سره د خانانو د ,, نازونو ،، خبرې کولې ـ او بیا وخت هغې ته هر څۀ زده کړل ـ د مور د مرګ نه پس چې کله د بنه نصیبې په ژوند کښې د امید اخري رڼا لتې وتکولې نو هغې د صبر ساه واخسته او خپل ټول ارمانونه ئې د ,, خانانو ،، د کور

ketabton.com - The Digital Library



سره وتړل ـ هغه به د سحر نه تر شپې ناوخته پورې د کور په کارونو کښې داسې بوخته وه چې خپل ځان به ترې نه هېر ؤ او اکثر به نهره اوده شوه ـ هغه ماشومه وه ـ پېغله شوه خو د پېغلتوب بې فکرې ئې ونۀ لیده ـ چرته ئې په ډکه خوله ونۀ خندل او د وخت د ظلم ، جبر او ناکړدو احساس ورته هله وشو چې کله موده پس ئې د لوئې اختر په دوېمه ورځ په آئینه کښې خپل ځان ته وکتل ـ

د هغې په مخ کښې د وختونو کربښې واضحه ښکارېدې ـ په تورو ویښتو کښې ئې ,, سپین ډکي ،، یو بل سره غاړه وتې وو ـ د هغې زړۀ ډوب ډوب شو ـ ژوند ورته په خپل کمزوري وجود ډېر لوئې بار ښکاره شو ـ او د بار دغه احساس د ښه نصیبې د ارمانونو ملا بې وخته ماته کړه ـ هغه به چې کله د فرش صفایۍ ته برنده کښېناسته نو بیا به راپاڅېدے نۀ شوه ـ د وجود په هر رګ کښې ئې نیني ورتیدې ـ ولې هغې به چاته هم ګیله نۀ کوله ـ او بیا ورو ورو دغه کمزورۍ ښه نصیبه د کټ کړه ـ هغه به تؤله ورځ اوشپه ټوخیده ـ دوه درې ځلې ئې د کور په کارونو پسې د راپاڅېدو کوشش وکړو خو ونۀ شوه ـ

یوه شپه چې کشر خان ناوخته کور ته راغے او په یخنۍ کښې ئې ښه نصیبه بهر په دالان کښې په ټوخیدو ولیده نو خپل

ketabton.com - The Digital Library



نوكر ,, بهادر خان كاكا ،، ته ئې ډېرې بدې ردې ووې او ورته ئې ووې چې ,, دا كور دے څۀ هسپتال خو نۀ دے ،، بهادر كاكا شپه په شپه ښه نصيبې له د خان د بنګلې نه په ډېر لږه فاصله كښې د ځاروۀ په غوجل كښې كټ برابر كړو او ښه نصيبه د كور نه غوجل ته په داسې حال كښې ورسيده چې د خپلې مور د لاس د لوګو وهلې برېستنې نه علاوه ورسره نور هيڅ هم نۀ وو ـ هغه به يوازې پرته وه ـ مشر خان د كلي د مسئلو نه نۀ ؤ اوزګار او ,, بېګم صيب ،، د بيمارۍ نه كركه كوله ـ صرف بهادر كاكا ؤ چې كله كله به ئې ښه نصيبې له ډاډ وركړو.

د څو مياشتو پرله پسې ناروغتيا ښه نصيبه كمزورې كړه هغه به هر وخت د فكرونو سيلاب په مخه كړې وه ـ يوه ورځ هغې ته خپل ماشوم والے بې اختياره ياد شو چې كله هغه ناروغه وه او مور ورله د مشر خان په وينا ډاكټر راوستے ؤ او بيا د يوې ستنې وهلو سره هغه جګه جوړه شوې وه ـ ددې سوچ سره د هغې په پترې پترې شونډو نرۍ مسكا خوره شوه ـ د هغې په بې وسه زړۀ كښې يو معصوم غوندې ارمان راؤپاريدو چې ,, كېدے شي مشر خان ته زما د بيمارۍ پته ولګي او بيا راله ډاكټر راولي ،، ـ څو ورځې هغه د اميد او ,,مايوسۍ ،، سره په جنګ وه ـ خو بله ورځ ئې په رښتيا د خان خبرې

ketabton.com - The Digital Library



واؤریدې چې ,, هلکه بهادره لاړ شه او د ښار هغه لوئې ډاکټر راوله.

دې اوریدو سره د ښه نصیبې په کمزوري مخ پیکه رنګونه غاړې ورکړې. هغې د بړستنې نه سر رابهر کړو. اوبیا ئې چې کله د بنګلې نه د موټر د وتو اواز واؤریدو نو د سکون یوه اوږده ساه ئې راښکه. هغې ته ځان په ربښتیا ,,خوش نصیبه،، ښکاریدو. د ډیرې خوشحالۍ نه ئې سر په خیرنه بړستنه کښې کلک پټ کړو او د ډاکټر راتلو ته ئې غوږونه نیغ ونیول. د هغې زړۀ بې اختیاره درزیدو خو په دغه درزا کښې یو پټ سکون ؤ چې ښه نصیبې له ئې تسلي ورکوله.

د ډیر ساعت د خاموشۍ نه پس ښه نصیبې د مشر خان رعب دار اواز واؤریدو ,,زما کشري بچي بیګاه ټوله شپه شوګیره کړې ده. ځنګه ښۀ به شي او که نا،، د ښه نصیبې وار خطا شو چې ګني د کشر خان طبیعت ډیر خراب دے. د یو ساعت دپاره ترې خپله بیماري هیره شوه ځکه چې کشر خان د هغې لاسو کښې لوئے شوے ؤ. د بنګلې نه دوه موټرې په یو بل پسې ووتې د موټرو اواز ورو ورو لرې کېدو. او عن تر دې چې غیب شو. ښه نصیبې په کټ کښې ډډه بدله کړه. او چې مخامخ ئې وکتل نو بهادر کاکا ولاړ ؤ. د هغۀ په مخ مایوسي خوره وه او دغه مایوسي د ښه نصیبې تلوسه نوره هم سېوا کړه.

ketabton.com - The Digital Library



بهادر کاکا نژدې راغے ښه نصیبې ورته په رپېدونکو شونډو څۀ وئیل غوښتل چې بهادر کاکا پخپله خبره راواخستله ۔،، کشر خان بیګا ټوله شپه خوب نۀ دے کړے یره خو عجیبه دنیا ده ،، ښه نصیبې تري نه په وارخطایۍ تپوس وکړو۔،، نو ګنې خدائے مکړه ناروغه دے ،، ۔خان نۀ دے ناروغه د هغۀ سپے ټائیګر ناجوړه دے ۔او مشر خان ورله د ښار لوئے ډاکټر راوستے وو ۔د بهادر کاکا خبرې سره په ښه نصیبې سر وچورلیدو په مخ ئې دوه کرېږ وربرې اوښکې راغلې ځان ورته ډېر بې ځوکه ښکاره شو ۔هغې د حسرت په ډکو سترګو مخامخ د رحیم الله خان لورې بنګلې ته وکتل چې پکښې د ښه نصیبې د ماشوم والي او ځوانۍ سیوري تت شان ښکارېدل ۔هغې دغه سپورو ته په سلګو سلګو ژړل او سپورو د هغې په بې وسۍ په بق بق خندا کوله۔

ځوک د چا په مجبورۍ پورې خندا کړي
ځوک په خپل نصیب په چغو چغو ژاړي

ketabton.com - The Digital Library



# آخري خط

رېـل ګـاډي څـو کريکـې ووهلـې .او بيـا يـو درز سـره وخوزيدو .سهيل دغه درز په خپله سينه کښې محسـوس کړو . هغـه د سـګريټ نـه يـو دومـره اوږد کـش راښـکو چـې سـګريټ ورسره لمبه شو ولې هغه دغـه لمبـه ونۀ ليـده .او دا غـالباً ځکـه چې د هغۀ په زړۀ کښې ددې نه زياتې لمبې بلې وې .هغه د ريل ګـاډي د کهړکـۍ نـه سر رابهـر کـړو .پـه سټېشـن کښـې ولاړو

ketabton.com - The Digital Library



کسانو مسافرو ته ئې لاسونه خوزول. او مسافرو ورنه د لاسونو په خوزولو د رخصتیدو اجازت اخستو. سهیل هر چا ته په ژور نظر کتل. د جدایۍ احساس له ئې لفظونه لټول خو چې کله ئې سترګې په ,, سیما ، ولګیدې نو خوله ئې وازه پاتې شوه . د هغه په خپلو سترګو باور نۀ راتلو. د هغۀ د خولې نه لاشعوري طور یوه چغه وختله. هغه د کهړکۍ نه لاس بهر کړو.

سیما لکه د ماشومانو په سهیل پسې رامنډې کړې هغه لا سهیل ته نزدې شوې نۀ وه چې د ګاډي رفتار تېز نه تېز شو. سیما په سټېشن ساه ساه اټاله پاتې شوه. د هغې لاسونه بې اختیاره خوزیدل او چې کله ریل ګاډے د نظر د حد نه ووتو نو د سیما په خپل مخ لړۍ لړۍ اوښکو ته پام شو. هغې زر زر په لوپټه اوښکې اوچې کړې او ځوړند سر د ریلوے سټېشن نه بهر روانه شوه.

سهیل او سیما دواړه د یونیورسټۍ ملګري وو . په دوه کاله کښې هغوي یو بل ته دومره رانزدې شوي وو چې د وخت فاصلې ئې د خیال نه وتې وې . سهیل د ډېر لرې نه یونیورسټۍ ته د ځان په لټون پسې راوتے ؤ او سیما د ښار د یوې داسې کورنۍ حیا وه کومه چې په دولت هم مړه وه او د شرافت تس ئې هم خور وو . سهیل څو څو ځله د سیما کور ته تلے ؤ او ځکه نو د هغې پلار او ورونو پېژندو ولې د سهیل

ketabton.com - The Digital Library



دروند خوئي او حیاناکې ځوانۍ دغه تګ راتګ هر ځل دروند کړے ؤ. د یونیورستۍ دوه کاله داسې د سترګو په رپ کښې تېر شول. چې نه ئې سهېل احساس وکړے شو او نه سیما ته دغه اندازه ولګېده خو نن چې کله د شپاړسم پاس کولو نه پس سهېل کلي ته روان شو نو دزړۀ تارونو ئې د ماضي یوه نغمه اچېړله. هغه ددغه نغمې په هر ترنګ اوښکې توې کړې. خو وخت ددغه اوښکو هېڅ پروا نۀ شوه کولے.

کلي ته د رارسېدونه پس هغۀ ځو ځله دا فیصله وکړه چې پلار ته د سیما په حقله خبره وکړي خو هر ځل به ورله ,,پښتو،، د ارمان په مرۍ پښه کېښوده. ځۀ مده خو هغه په دغه ذهني اضطراب کښې راګیر ؤ خو په هغه ورځ ئې د سر نه لمبه وخته چې پلار ئې ددۀ د ترۀ لور سره د کوژدن خبره وکړه مور به ورته د ترۀ د لور خبرې کولې او د سهېل په مخ به رنګونو په یو بل پسې منډې وهلې. هغه ځو ځله اراده وکړه چې چغې کړي او دنیا ته د خپلې مینې قیصه بیان کړي خو د ,,خانداني روایاتو،، او د مشرانو د ,,عزت،، تر مخه ئې هر ځل په مرۍ کښې لاړې اوچې شوې. د سهېل ملګرو خندل او هغۀ په خپلې مجبورۍ اوښکې تویولې.

کوژدن وشوه. سندرې ووئیلے شوې. مبارکیانې واخستے شو ې خو سهېل به چپه خوله یوازې ګرځېدو.

ketabton.com - The Digital Library



هغه نه پوهېدو چې څۀ فيصله اوکړي خو د سيما راليږلي خط د هغۀ په ذهن کښې يو طوفان راپورته کړو ـ ,, پرون راته چا ستا د کوژدن خبره وکړه ډېر څۀ مې درته ليکل غوښتل خو په زړۀ مې د صبر تيږه کېښوده ـ زۀ خفه نۀ يم خو دا يو ارمان مې ژوند ته نۀ پرېږدي ـ چې کاش ما هم دغه جينۍ يو ځلې ليدلے وې اخر ستا د ترۀ لور ده لکه ستا به ښائسته وي ـ زما کوژدن هم پرون مازيګر د ماما زوئے سره وشوه ـ تۀ خفه کېږه مه ـ دا د نصيبونو خبرې دي ـ د سيما دا څو کرښې خط د سهېل د ډېرو معصومو ارمانونو قتل ؤ ـ هغه د ځان نه بيا بيا دا تپوس کولو چې اخر سيما ته دا هر څۀ چا ووئيل خو چې د هغې د کوژدن خبرې ته فکر يوړو نو د وينې رفتار ئې سېوا شو ـ د هغې په بې وفايۍ ئې زړۀ له دلاسې ورکړې ـ د دلاسو دا ورځې هم داسې تيرېدې ـ د کوژدن نه څۀ موده پس چې کله د سهېل وادۀ وشو نو د ژوند په هر قدم هغه سيما ياده کړه ـ د ترۀ لور څو څو ځله د سهېل دا خاموشي محسوس کړه خو په مطلب ئې ونۀ رسيدۀ ـ

کال پس چې کله سهېل د يو زوئے پلار شو نو د ماضي يادونه ئې د ذهن نه وويستل ـ او د نوي ژوند سره ئې نوې اشنائي جوړه کړه ـ ولې د اشنايۍ دغه آئينې هله ,,درز،، وکړو چې پوره درې کاله پس د سيما دوېم خط راغې هغې دا ځل هم يو څو ټکي ليکلي وو ـ ,, زۀ ستا د زوئے د کېدو نه خبر شوم

ketabton.com - The Digital Library



یقین وکړه ډېره خوشحاله شوم ـ او هن رښتیا زما هم یوه لور شوې ده بالکل زما په شان ـ ستا زوئے به بیخي ستا په رنګ وي ـ خو خفه په دې یم چې لیدے ئې نۀ شم ـ زما د پاره ورسره ډېره مینه کوه،، ـ

د خط لوستو سره د سهېل په ذهن کښې د سیما او د هغې د ماشومې تصویرونه لاړل راغلل هغۀ غوښتل چې لاړ شي او د سیما لور یو نظر ووینې ـ خو اوس دا خبره ګرانه وه ـ سهېل خط د یونیورستۍ د ورځو په ډائرۍ کښې ,, خوندي،، کېښودو ـ او بیا ئې ژوند ته لاسونه ورکړل ـ هغۀ د نوکرۍ په ځائے په کلي کښې یوه وړه فیکټري ولګوله ـ چې د سحر نه تر ماښامه پورې به هم هلته په کار کښې اخته وو ـ

لس کاله پس د سهېل کاروبار په خوریدو وو ـ د هغۀ د ژوند تقاضې بدلې وې ـ یوه ورځ چې د کار نه ناوخته راغے نو ماشومان ټول اودۀ شوي وو ـ ښځې ورته ډوډۍ ورکړه او هغۀ لا نمړۍ نۀ وه پورته کړې چې ښځې ورته وې ,, نن دې څۀ چیټۍ د کور په پته راغلې ده ـ خدائے خبر چې د چا ده ،، د سهېل رنګ زیړ وتښتېدو ـ هغۀ ښځې ته د چیټۍ د راختسو ووئیل ـ هغه په خط پسې پاځېده او د سهېل ذهن ته بې شمېره سوالونه پرله پسې راغلل ـ چې ښځې خنګه لفافه سهېل ته په لاس کښې ورکړه نو د هغۀ زړۀ یو درز وخوړو ـ زر زر ئې خط پرانستو ـ د

ketabton.com - The Digital Library



سيما ددې خط سره د سهيل زړۀ د ماضي نغمه يو ځل بيا په خوند خوند وچېړله.

,, پرون مې دا زړۀ ډېر ډوب ډوب کېدو نو ماشومان مې ځان سره کړل او په يونيورسټۍ کښې د هغه ګورې ونې سيوري ته کښېناستم چرته به چې ما او تاکله کله مازيګر تر ډېر ناوخته پورې ناست وو. ماشومانو لوبې کولې او ماته دا احساس کېدو چې تۀ کله ښارته راځې نو ددې ونې سيوري له به خا مخا راځې او لکه څنګه چې زۀ دلته پرون د ځوانۍ په سيوري پسې ورکه ګرځېدم دغه رنګ به تاته هم ددې ونې لاندې زما خيال سيورے سيورے کېږي ،،.

د سهيل شونډې سپينې وتښتېدې روتۍ ئې هم دغسې پرېښوده او نيغ خپلې کمرې ته لاړو ښځې ترېنه تپوس ونۀ کړو ځکه چې د هغې ذهن له ددغه تپوس دپاره الفاظ نۀ راتلل. لکه د نور کله د سيما دې ياد هم وخت سره سره د سهيل د زړۀ نه کډه وکړه.

پنځويشت کاله پس بيا د سهيل بچي زلمي وو. هغوي د فيکټرۍ لمن نوره هم فراخه کړې وه. او ځکه نو سهيل به

ketabton.com - The Digital Library



اکثر یوازې یوازې ناست ؤ . کله به ئې اوږدې اوږدې ناولې کتلې او کله کله به ئې د ځوانۍ د وخت په تصویرونو پسې چشمې لګولې. یوه ورځ چې هغه په کور کښې بالخت ته ډډه وهلې وه او د نسیم حجازي لیکلې ناول ئې لوستو نو چا د دروازه ووهله. سهیل په درنو قدمونو دروازې ته ووتو. د ډاکې نه ئې خط واخستو. د چشمو په ګوټونو کښې ئې ورته لاندې باندې وکتل. د کمزورې وجود کمزورې زړۀ ئې په سینه کښې بې اختیاره ودانګل . سیما ته د پنځویشت کاله د تېرېدو احساس ؤ هغې دا ځل لیکلې وو.

,, پرون چې مې کله په آئینه کښې د خپل مخ کتاب لوستو نو په خپل سر کښې سپینو ویښتو ته فکر یوړم . ستا د سر ویښتۀ خو به هم سپین شوي وي کنه او په دغه سپینو ویښتو کښې به تۀ څومره ښکلې او درونـد ښکارې . زۀ هره لحظه تا د تصور په سترګو وینم او تۀ چې کله یوازې شې نو کله کله به دې زما خیال خامخا چیړي ،،

سهیل څو څو ځله دا خط ولوستو . خولې له ئې بې اختیاره راغلل ,, واقعې چې لېونۍ ده ،، او بیا په درنو قدمونو د آئینې مخې له ورغې خپلو سپینو ویښتو ته ئې وکتل

ketabton.com - The Digital Library



اول مسکے شو او بيا ئې د زړۀ د تل نه يو سوړ اسويلے د شونډو سرونو له راغے. خو په خوله ئې هېڅ هم ونۀ وئيل.

څو کاله پس د سهېل د زامنو ودونه وشو لونړه ئې د پردو کورنو شوې او د هغۀ په ژوند د تنهايۍ تورې وريځې ګورې ګورې شوې. هغه به تړوله ورځ يوازې په خپله کمره کښې ناست ؤ. د کتابونو لوستونه ئې زړۀ موړ شو. خو په دغه تنهايۍ کښې ئې يو پارسل نوې هنګامه راپورته کړه. هغۀ د ډاکې نه په رپېدونکو لاسونو دغه پارسل واخستو. د پارسل دپاسه ليکلو ته ئې په چشمو کښې په غور وکتل د سيما د خط پېژندو سره هغه د ځان سره غلي غوندې اوخندل او بيا ئې اووے ,, تۀ ګوره لېونۍ زۀ پرې اوس هم ګران يم ،، بيا ئې ډېر په احتياط پارسل پرانستو په هغې کښې د سهېل خطونه ، د هغۀ د لاس ډېرې داسې نخښې چې د سهيل نه پخپله هم هيرې وې. سهېل ددې هر څۀ نه زيات د سيما خط لوستو ته لېواله ؤ. د پارسل په ويخ کښې يوه لفافه د سهېل په نوم وه سهېل زر زر په رپېدونکو لاسو لفافه پرانسته. او چې خط ته ئې په غور اوکتل نو په نظر کښې ئې داسې جذبې الول شوې.

,, ما وبخښه سهېله ! ما وبخښه ځکه چې زه مړه يم. پوره څلوېښت کاله وړاندې په هغه ورځ چې کله ما ستا د کوژدنې خبر اورېدلے ؤ. دا

ketabton.com - The Digital Library



ټول خطونه ما خپلې یوې ملګرې له دې وصیت
سره ورکړي وو چې تاته ئې په مناسبو وختونو
درؤلېږي .تۀ زما نه خفه نشې ځکه چې ستا نه
بغېر بل چاته د کتو سوچ هم نشو کولے .خپله
لېونۍ سیمه وبخښه ،، .

د ,,خودکشۍ،، د احساس سره د سهېل د رپېدونکو لاسونو نه خط پرېوتو .او چې د هغۀ زامن راتلل نو د سیما لیک د هغۀ په سینه پروت وو.او سترګې ئې وازې پاتې شوې وې.

کـه وختونه دي تېر شوي زما مینې
خو زما په هره ساه کښې لااوسېږي

ketabton.com - The Digital Library



# انصاف

هغـهٔ یـو نظـر د باچـا خـان چـوک پـه مېـنځ کښـې ددغـه ,,لوئے پښتون،، یادګار ته وکتل . بیا ئې د ترخ د جېب نه د نظر چشمې راوویستې . په رپېدونکو لاسونو ئې سترګو ته یوړې او چې دا ځل ئې یادګار ته وکتل نو د باچا خان په مخ ئې لپه لپه خاورې ولیدې . د هغـهٔ ذهـن تـه د باچـا خـان هغـه ټولې مبارزې راغلې کومې چې هغهٔ فرنګي سره صرف او صرف د پښتون قام د سـرلوړۍ دپـاره کـړې وې . ځـان سـره ئـې دومـره قـدرې اوې

ketabton.com - The Digital Library



,,افسوس دے بې قدره قامه ،، بیا ئې رکشو او لاړو بسونو ته فکر شو چې د څهٔ قسم قاعدې او اصولو نه بغېر ئې یو بل نه د وړاندې کېدو کوشش کولو ـ هغهٔ څهٔ ساعت دغه تماشه کوله او بیا چې کله نورو خلقو د سړک د یوې غاړې نه بلې غاړې ته ,,منډې،، وهلې نو هغه ورسره هم په دؤ دؤ او ساه ساه بلې غاړې ته راغے ـ

دلته ئې بله لوبه ولیده او هغه دا چې د پیدل تلونکو په لاره کښې قدم په قدم نایان ناست وو چا ږیرې خریلې چا ویښتهٔ جوړول او بیا به ئې دغه ټول ویښتهٔ د لارې په غاړه د اوبو نالۍ ته غورځول ـ هغهٔ څهٔ ساعت دا هر څهٔ ولیدل روانېدو سره ئې ووې ,, افسوس دے بې حسه خلقه،، هغهٔ د خپل اوږد کوټ د جېب نه رومال راوویستو او پوزې ته ئې ونیو چې څو قدمه وړاندې لاړو نو هلته د رود په غاړه مردار سپي ، چرګان او پیشوګان پراتهٔ وو چې ټول سخا شوي وو او بدبُو ئې تر لرې لرې پورې خوریده ـ هر چا پوزې نیولې وې ـ او په منډه تیریدل راتیریدل خو چا کښې دا همت نهٔ وو چې ددې زیاتي تپوس ئې کړے وے ـ

هغهٔ نیت وکړو چې د ځناورو د هسپتال په لوئې ډاکټر پسې ورشي او ورته ووائې چې یه ,, د خدائے نیک بخته دا مردار ځناور څوک لارې ته راګزاري ،،؟ لا په دې سوچ کښې

ketabton.com - The Digital Library



ورک ؤ چې مخامخ ئې څو کسه پولیس واله ولیدل چې د روډ په بله غاړه ولاړ دي ـ هغهٔ چشمې د پوزې د سر نه په سترګو پورې جوختې کړې بیا ئې پولیسو ته لږ په غور وکتل ـ نو پوهـ شو چې دا د ټریفک د محکمې لوئے دفتر دے ـ هغهٔ ځان سره ووې چې دا د مـردارو ځنـاور بـدبُو خـو بـه پـه دې لـوئے لـوئے افسرانو هم لګي کنه نو بیا څهٔ وجه ده چې دوي ددې بې حسۍ مخ نیوے نهٔ شي کولے ـ

زړهٔ ورته ووې ,, چپ کښې ئې خېر دے ،، اسوېلے ئې وکړو او په درنو قدمونو وړاندې روان شو د پیدل تلونکو لار هم په ډېرې بې دردۍ سره ماته کړې شوې وه ـ هغهٔ بـه قـدم پـه قـدم ماتې لارې ته کتل اوهر قدم سره به ئې وئیل ,, عجیبه خلق دي په خپل تاوان هم نهٔ پوهېږي ،، څو قدمه وړاندې ئې د ریډیو پاکستان نوم لیکلے ولیدو ـ هغهٔ دغه نوم ته په ژور نظر وکتل او بیا ئې د ریډیو پاکستان لوړ بلډنګ ته وکتل زړهٔ له ئې څهٔ راغلل ځان سره مسکے شو خو نور ئې هېڅ ونهٔ وئیل او بیا څهٔ ساعت پس هغه د وزیر صېب د دفتر مخې ته غلے ولاړ ؤ ـ

د هغهٔ نوم غمخور ؤ ـ د خپلې خاورې خواخوږے د خپل وطن خیر خواه او د هر چا په غم شریک ـ ولې خپل غم ئې دومره درون ؤ چې غم خور له ئې بې وخته ملا ماته کړې وه او دغه غم د هغهٔ د ښځې د څو کالو راسې مسلسله بیماري وه ـ

ketabton.com - The Digital Library



چې هغه ئې تر لرې لرې پورې په علاج کولو سترے کړے ؤ او د مایوسۍ نه پس ئې د الله پاک فیصلې ته سترګې نیولې وې۔

د هغهٔ په کور کښې د ښځې نه علاوه ایکې یو زوئے مُراد ؤ چې د نوکرۍ زندان د خپلې ناروغه مور نه ډېر لرې کړے ؤ هغهٔ ډېر ځله خپلو افسرانو ته جولۍ غوړولې وه چې بدلي ئې کلي ته وکړي خو دا منت د هغوي ذهن ته نهٔ پریوتو ځکه چې نهٔ خو مراد سره لوئے سفارش ؤ او نهٔ ورله د افسرانو د خوشحالولو هنر ورتلو۔

غمخور کاکا خو اول زوئے له تسلي ورکوله خو چې د ښځې ناروغتیا ورله د حوصلې څټ ومروړلو۔نو د خپل کلي په ,,ممبر صېب ،، پسې ننواتې لاړو او د ډېرو منتونو نه پس ئې د هغهٔ نه د ,, وزیر صېب ،، په نوم د مراد د بدلۍ دپاره سفارش راواخستو۔ او نن هغه په دې ارمان او په دې امید د ,, وزیر صېب،، سلام له راغلے ؤ۔

هغه څهٔ ساعت خاموشه ولاړ ؤ ۔خو چې کله په دغه انتظار انتظار سترے شو نو د وزیر د دفتر مخې ته ولاړ نري نروچکي سړي ته ئې ووې ,, یا هلکه هغه وزیر صېب چرته دے،، هغهٔ پوزه وچونړله ۔په څو ډکو بریتو ئې لاس راښکو او په تاؤ کړي څټ ئې ووې ,, صېب میټنګ کښې دے ،، غمخور کاکا د میټنګ په مطلب دومره پوهه شو چې ګڼي اوزګار نهٔ

ketabton.com - The Digital Library



دے۔نو څۀ ساعت ئې بيا انتظار وکړو۔هغه لا په دوېم ځل پوره پوښتنه نۀ وه کړې۔هغه سړي ورته په غصه کښې ووې ,,درته مې وئيلي نۀ دي چې صېب په ميټنګ کښې دے تۀ خو هډو په خبره پوهېږې نه ،، د غمخور کاکا د سر نه لوخړه وختنه۔زړۀ ته ئې راغلل چې ورشي او دغه نري نروچکي سړي له څټ لکه د چرګوړي تاؤ کړي خو چې خپل عمر ته ئې پام شو نو غلے پاتې شو۔

هغه لا د وزير صېب په انتظار کښې ؤ چې هغه نرے نروچکے سړے د څۀ کار دپاره بهر ووتو۔غمخور کاکا د هغۀ وتو سره کليمه درسته کړه او د څۀ اجازت نه بغير ئې د وزير صېب د دفتر دروازه ئې په درز خلاصه کړه۔هغۀ د ننوتو سره د وزير صېب په کړس کړس خندا واؤريده۔چې مخامخ ئې وکتل نو وزير صېب يو څو جينکو سره په خبرو کښې ورک ؤ۔چې په غمخور کاکا ئې سترګې ولګيدې نو تندے ئې تريو کړو او په غصه ئې ووې ,,څۀ دي بوډا ،، غمخور زر زر لاس ور اوږد کړو او ورته ئې ووې ,,دا ....د ممبر صېب خط دے۔د مراد د بدلۍ دپاره ،، وزير صېب په ماته زړۀ خط واخستو او د خط د لوستو په ځائے ئې د تلۍ په بټن ګوتې کېښودې۔ساعت تېر نۀ ؤ چې هغه نرے نروچکے سړے ساه ساه کمرې ته راننوتو او وزير صېب ته ئې د احترام دپاره سر ښکته کړو بيا ئې يو نظر

ketabton.com - The Digital Library



غمخور کاکا ته وکتل. د بریتو څو ډکي وېښتۀ ئې نېغ ودرېدل هغۀ به لاڅۀ وئیل چې وزیر صېب پرې سترګې راسرې کړې درته مې شل ځله وئیلي دي چې زۀ کله په میټنګ کښې یم نو ماته دا خلق مۀ راپرېږده. خو تۀ غالباً د شرافت په ژبه نۀ پوهېږې ،، ۔

نوکر د څۀ وئیلو نه بغېر غمخور کاکا د لاس نه ونیوۀ او په دیکو دیکو ئې د کمرې نه ویستو. او چې کله د کمرې نه بهر ووتو د ,, صېب ،، نوکر ورته دومره ستغې سپورې ووې چې بهر ټولو ولاړو کسانو یو بل ته وکتل. غمخور کاکا صرف دومره قدرې ووې چې ,, ارمان ارمان د ے بد نصیبه قامه چې داسې خلق مو مشري کوي ،، او بیا .... ساه ساه د هغه ځائے نه روان شو د ماښام په توره تیارۀ کښې چې کله کور ته راغے نو ښځې ورته په سوالیه نظر وکتل. غمخور کاکا ورته دومره قدرې ووې. مراد به دې کور ته راشي وزیر صېب ته مې د ممبر صېب خط په خپل لاس رسولے د ے. او بیا څو ورځې پس چې مراد ځوړند سر کور ته رانوتو نو د هغۀ په لاس کښې د بدلۍ د ارډر په ځائے نوکرۍ نه د ویستو حکم ؤ.

د انصـــاف طمـــع بـــه څـــوک د چانـــه اوکـــړي
چې څوک غل د ے څوک د غلو د لارې مل د ے

ketabton.com - The Digital Library



# په تول پوره

د ,, لونګین ،، پلار به چې کله د مشاعرې نه کور ته راغلو ... نو لونګین به پسې دروازې ته ورمنډې کړې پلار به ورته د خندا شین شو . لونګین به ئې په غېږه کښې اوچت واخستو. په دواړه مخه به ئې ښکل کړو . او لاساه به ئې اخستې نۀړ وه . چې لونګین به ترې په تته ژبه تپوسونه شروع کړل .

,, لونګین ،، ایله د پینځو کالو ؤ هغه د خپل پلار ګلاب دین ایک یو زوئے ؤ. ګلاب دین په خپله تولـه علاقـه

ketabton.com - The Digital Library



کښې مشهور ؤ ـ د هغه نه بغیر به هره مشاعره نیمګړې وه ـ ځکه چې هغه د شعر په ټولو رموزوپوهه وو۔ د هغهٔ د فکر الوت د هغهٔ د ذهن وسعت دومره سېوا ؤ چې د وخت هر پوهاند به ورته په درنه سترګه کتل ـ

که یو خوا د هغه د شعرونو غږ خور وو نو بل خوا د هغهٔ په مزاج کښې عاجزي وه ـ د هغهٔ په عادتونو کښې سادګي وه ـ او د هغهٔ په ناسته پاسته کښې ډېر دروندوالے ؤ ـ ډلې ډلې شاعران به د هغه لیدو ته راتلل او کله هم داسې نه وه شوې چې هغه کوم مېلمه شاعر د مېلمستیا نه بغېر پرېخودے وي ـ په ,, لونګین ،، د خپل بابا دا ټول عادتونه خوارۀ لګېدل ... هغه به د خپل بابا نه هر ځل د مشاعرو د قیصې اورېدې ـ او څو ځله خو د خپل بابا سره مشاعرو ته هم تلے ؤ ـ هغه به هر شعر ته غوږ نیولے ؤ ـ لونګین چې څنګه څنګه د ځوانۍ په درشل قدم ایخودو نود هغهٔ دننه ناقراره انسان نور هم ناقراره شوے ؤ ـ هغه به کله شعر کله افسانه اولیکله او چې خپل بابا ته به ئې واؤروله نو هغه به په تندي ښکل کړو ـ د هغه په سترګو کښې به ئې خپل ځان ته اوکتل او دا تسلي به ئې اوشوه چې هو ...زما نه پس به لونګین د پښتو د خدمت پېټے په سر اخلي ـ

وختونو اړخونه بدلول رابدلول او لونګین ... د ژوند د مشاهدو سره اشنا کېدو ... چې څنګه د ,, لونګین،، د ذهن

ketabton.com - The Digital Library



په دنیاګۍ کښې وسعت راتلو نو بل خوا د ګلاب دين شمار په استاذانو کښې کېدو ... د هغه شعر دومره عظمت ته رسېدلے وو ـ چې په حجره جومات کښې به د هغه شعرونه د مثال په توګه وئيلے کېدل ـ د وخت ټولو هنرمندانو د ځان دپاره دا افتخار ګڼلو ـ چې د ګلاب دين بابا شعرونه دې اووائي ـ

د خپل بابا په وجه د لونګين ادبي دنيا هم ډېره فراخه شوې وه ـ يوه ورځ چې کله هغه په يو ادبي محفل کښې ناست وو نو چا ورته اووې ،، ته سپين ګل چنار پېژنې ،، ؟ د نوم د اوريدو سره لکه چې لونګين په سوچ کښې لاړو ـ د خولې نه ئې بې اختياره اوختل هو دا نوم مې چرته ،، يو ځل ،، اورېدلے دے ـ ملګري ورته مخ راواړولو او په خندا ئې اووې ،، عجيبه سړے ئې ،، چنار ،، صېب خو پوره د پنځوسو کتابونو ليکوال دے او تا ئې ايله يو ځل نوم اوريدلے دے ؟ او بيا هغه ملګري لونګين ته د ،، چنار صېب ،، دومره صفتونه اوکړل چې د هغۀ په ذهن کښې د ،، چنار صېب ،، ډېرې خاکې جوړې او ورانې شوې ـ

هغه ډېر ناقراره وو ـ او دا ئې غوښتل چې اوس زر تر زره د چنار صېب ليدو ته لاړ شي ـ د ملګري نه ئې ټول معلومات ترلاسه کړل د چنار صېب کلے دومره لرې نۀ وو ـ خو لار ئې ورکه ورکه وه ـ ځکه نو د لږ کړاؤ نه پس هغه د چنار

ketabton.com - The Digital Library



صېب کلي ته را اورسیدو ـ هلته ئې دوه درې کسانو نه تپوس پوښتنه اوکړه خو چا ورته هم د چنار صېب درک ورنکړو ... لونګین د لږ ساعت دپاره اتهاله ودریدو ـ او دې سوچ یوړو چې ,, زۀ بل کلي ته خو نۀ یم راغلے ـ او که کلے دا وي نو خلق ورکښې دومره لوئے لیکوال څنګه نۀ پېژني ،،ـ هغه په ذهني کشمکش کښې اخته وو چې ناڅاپي ورته یو بوډا کاکا اووے چې ,, مېلمه تۀ . . . . هاغه اتهي وال چنارے خو نۀ یادوې ،، لونګین ورته اووے نه بابا ... زۀ سپین ګل شاعر یادوم ... بوډا کاکا د ځان سره په لاسونو څۀ خبرې اوکړې او په مخه لاړو ـ کوڅه کښې دوه درې ماشومانو په دوړو کښې لوبې کولې ـ لونګین چې کله هغوي ته د چنار ګل نامه یاده کړه نو هغوي ورته اووے چې ,,... او ... او ... مونږ ئې پېژنو ،، ددې اورېدو سره د لونګین لاړې تیرې شوې ـ

هغه چې د سپین ګل کور ته اورسیدو نو یو نظر ئې د کور دروازې ته په غور اوکتل ـ ساعت پس د دروازې په ور کښې یو سړے راښکاره شو ـ د هغه عمر دومره زیات نۀ ؤ ـ په ونه چنار هم نۀ ؤ او په رنګ سپین هم نۀ ؤ ـ سړي لونګین ته په غور اوکتل ـ ,, لکه چې شاعر ئې؟ ،، لونګین په اوچو شونډو ژبه راښکه... ,,او جي،، ... زۀ ... د سپین ګل چنار لیدو ته راغلے یم . . . دا د هغوي کور دے ؟ ددې تپوس سره چنار

ketabton.com - The Digital Library



صیب په بق بق اوخندل ـ لونګین د هغه خندا او په خوله کښې پرتو نسوارو ته فکر یوړو ـ زۀ چنار یم کنه ... د خدائے زوره وره ـ څنګه راغلے ئې ؟ د لونګین نه یوه دوه خطا شو ـ او اتاله اودریدو ـ

چې کله لونګین د چنار صېب سره کیناستو او خوله ئې تپوس ته جوړوله ـ نو چنار صېب اووے ,, ځلمیه پوره اتیا کتابونه مې لیکلي دي ـ ډېر واړه خلق مې ,, سړي ،، کړي دي ـ او زما هومره کار به ادب کښې چا هم نۀ دے کړے ـ عن تر هاغه حمزه پورې ... او دا اوس چې ځان ته لیکوال وائي په دوئي کښې خو یو زۀ لیکوال نۀ ګڼم ... او ځلمیه ... دوئي صرف په کرسو ناست دي ـ د ادب نه څۀ خبر دي ـ

لونګین دا ټولې خبرې اورېدې ـ خو نۀ پوهېدو چې ... څنګه په خبره کښې وار واخلي ـ اخر ئې زړۀ ټینګ نۀ کړو وئے وئیل ,, چنار صېب تاسو دومره زیات کار کړے دے او اوس هم شپه او ورځ لګیا ئي ... خو تاسو څوک په دې خپل کلي کښې هم نۀ پېژني ـ دا ولې ،، چنار صېب بیا یو ځل په بق بق اُوخندل ـ ,, مېلمه ... دا کلے څۀ چې ددې دور یو لیکوال نۀ زما په قدر پوهېږي او نۀ زما په دې لیکلو ـ خویوه خبره درته کوم ګورې ... راتلونکي ځېرنکار به زما په دې ,, تخلیقاتو ،، لوئې لوئې ځېړنې کوي ،، ـ لونګین به کله د چنار صېب خندا ته

ketabton.com - The Digital Library



کتل او کله به دې سوچ یوړو چې که د چنار صیب په دې لیکلو نن د چا غوور نۀ کرېږي او څوک ورته درنښت نۀ ورکوي ۔نو راتلونکے وخت به ورته څۀ نظر اوکړي ۔لیک خو هاغه لیک دے چې د خپل دور ترجماني اوکړي او خلق ئې قبول کړي۔

او بیا چنار صیب د نسوارو یو تازه چونډۍ د شونډې د لاندې کړه ۔،، مېلمه ،، قسم دے چې دا ریډیو ، ټیلي ویژن واله راپسې منډې وهي ۔د فن کارانو د ټیلیفونو نه تنګ راغلم خو دا فنکاران زما د شاعرۍ حق نشي ادا کولے ۔او هسې زۀ هم داسې یم ۔۔۔دې ادارو ته څۀ خاص توجه نۀ ورکوم۔ورک ئې کړه دوئي به څۀ وي او معیار به ئې څۀ وي ،، ۔ددې خبرې د اوریدو سره د لونګین د خپو نه خاورې اوتختیدې ۔د هغۀ په خپلو غوږونو باور نۀ راتلو ۔د چنار په فلسفه د هغۀ ذهن کار نۀ کولو۔وخت د هغۀ په کمزورو اوږو نور بوجهـ کېدو نو ځکه هغه د چنار صیب نه اجازت واخستو۔او چنار صیب هم په زړۀ کښې شکر اوویستو۔

لونګین په درنو قدمونو د چنار صیب د کلي نه روان شو ۔۔۔د ځان سره ئې کرل ریبل کول ۔۔۔څو ورځې وړاندې چې د هغۀ په ذهن کښې د چنار صیب کوم تصویر جوړ شوے ؤ۔د هغې رنګونه الوتي وو ۔د هغه د لیکلو نه بیخي زړۀ موړ شوے ؤ ۔

ketabton.com - The Digital Library



چې مابښام تیارهٔ خوریده نو لونګین کور ته خفه خفه راننوتو ـ ستړې ستړې په کټ کښې پرېوتو... چې دغه ساعت ئې پلار کور ته راغے ـ ولې لونګینه څویه ـ جوړخو ئې کنه ،، ـ هغهٔ د خپل بچي نه پوښتنه وکړه ـ او بیا لونګین پلار ته ټوله قیصه تیره کړه ـ

پلار په ډېره مینه لونګین خپلې سینې ته راجوخت کړو ـ او په خندا ئې ورته اووے ,, بچے مهٔ خفه کېږه دا په شمار نهٔ ده په معیار ده،، ـ ددې خبرې سره لونګین ته د خپلو ټولو سوالونو جواب ملاؤ شوے وو د هغه ذهن ته د سپین ګل چنار عکس یو ځل بیا راغے چې د نوم او قد و قامت تر مینځه ئې ډېر لوئے تضاد ټیټې سترګې ملامته ولاړ وو ـ هغهٔ د ځان سره اووے ـ هو ... زما بابا رښتیا وائي چې په شمار نهٔ ده په معیار ده ـ

که هر څو د ځان صفت په خپله اوکړي
خو ګونګټ ته څوک ,,بورا ،، وئیلے نهٔ شي

ketabton.com - The Digital Library



# مــور

شپه د خاموشۍ په غېږ کښې اوده وه - د اسمان په مخ اوښان اوښان وريځې يو بل پسې روانې وې - سپوږمۍ به کله کله د وريځو د مينځ نه غلې غوندې د کائنات د ښکلا ننداره وکړه - ستورو ته به ئې په چپه خوله څۀ ووئيل او پناه به شوه - شپه که هر څومره خاموشه وه ولې کله کله به چرته لرې يو سپي د خپل ستړي ژوند نه فرياد شروع کړو - د کلي نورو ،،سپو،، به دغه فرياد سره خپله ژړا هم شروع کړه - او تر ډېره وخته به ټولو

ketabton.com - The Digital Library



خپل خپل ارمانونه وژړل ـ د کلي د سپو په دې سلګو کښې به د خانانو د کور د سپو سلګۍ نۀ وې شاملې ـ هغوي به په قهر او غضب غپا کوله لکه چې د کلي سپو ته هم دا وائي چې د خانانو خوب مۀ خرابوئ ـ

د کلي د نورو خلقو په شان ,, لېونۍ ،، هم بې غمه اوده وه ـ خو د هغې په مخ د بیمارۍ نخښې واضحه ښکارېدې ـ هغه د وادۀ نه وړاندې سعیده وه مور به ورته کله کله د مینې نه بختوره وې ـ خو چې د خاوند کور ته راغله نو د ډېرې مینې نه ,, لېونۍ ،، شوه ـ خاوند به چې کله هغې ته ,, لېونۍ ،، ووئیل نو سعیده به د خندا نه شنه شوه ـ او خپل ماشوم والے به ورته یاد شو. کله چې شپه نوره هم وغزیده نو لېونۍ په خوب کښې چغه کړه د هغې خاوند چغې سره راوېښ شو او چې کله ئې رڼاآ بله کړه نو وار خطا شو ـ لېونۍ په کټ کښې ناسته ټوله رپېده رنګ ئې زیړ تښتېدلے ؤ ـ په غټو غټو سترګو کښې ئې غټې اوښکې تلې راتلې ـ وېښتۀ ئې ګډ وډ وو ـ په مخ ئې داسې خولې راماتې وې لکه چې لپه لپه اوبۀ ئې پرې اچولې وي ـ د هغې ساه راماته وه ـ او هره سلګۍ ئې اخري ښکارېده ـ د هغې خاوند داسې خاموشه ولاړ ؤ لکه چې یو بُت خپل حس نۀ لري ـ هغه نۀ پوهېدو چې څۀ وکړي ـ بیا ئې زړۀ له څۀ راغلل په درنو قدمونو د لېونۍ خواله راغے ـ او چې کله ئې د هغې په سر لاس

ketabton.com - The Digital Library



کېښودو نو داسې ئې محسوسه کړه لکه چې د هغې ټول وجود اور اخستے وي ـ د مخ نه ئې ورله خوله اوچه کړه ولې د هغې په حالت کښې څۀ فرق رانغے ـ خاوند ئې ورته بيا بيا اوازونه وکړل ولې لېونۍ د زبيرګي نه علاوه نور هېڅ هم نۀ شو وئيلے ـ

د يو ساعت سوچ نه پس د لېونۍ خاوند يوه اوږده ساه راښکله پاڅېدو او د خاورو منګي نه ئې يو ګلاس اوبۀ رااخستې چې کله اوبۀ د لېونۍ حلق ته اورسيدې نو سترګې ئې پرانستې ـ د هغې د خاوند په سترګو کښې د خوشحالۍ اوښکې راغلې ـ لېونۍ په ډېر ارمان خپل خاوند ته وکتل اول مسکۍ شوه بيا ئې ووې ما وبخښه خپله لېونۍ معاف کړه ـ د هغې د خاوند زړۀ داسې جټکه وخوړه لکه چې د هغۀ په سينه کښې طوفان راغلے وي ـ په اوچو شونډو ئې ژبه راښکله او لېونۍ ته ئې ووې داسې خبره مۀ کوه ـ لېونۍ يو ځل بيا خاوند ته په غور وکتل او وې وئيل زۀ نوره ژوندۍ نۀ شم پاتې کېدے د هغې د خاوند په مخ ډېر رنګونه لاړۀ راغلل ـ هغۀ يو ځل بره چت ته وکتل بيا ئې د شپې خاموشۍ ته وکتل هغۀ په يوه ساه ووې تۀ... تۀ وار خطا کېږه مه... بس چې که خېر وي دا شپه تېره شي نو زۀ به دې لوئے هسپتال ته بوځم ـ

د هسپتال د نوم په اورېدو د لېونۍ په مخ لړۍ لړۍ اوښکې راماتې شوې ـ د هغې د هسپتال د نوم نه نفرت ؤ ـ

ketabton.com - The Digital Library



خاوند ئې چې کله هم د هسپتال خبره کړې وه لېونۍ ورته دواړه لاسه جوړه کړي وو- چې ,, د هسپتال نه د هغې د خپلو برګو د لاندې مرګ خوښ دے ،، د اسمان په مخ وريځې نورې هم ګورې شوې .د سپو غپا ورو ورو کمېده او د چرګانو بانګونه اوربدے شول .لېونۍ خپله بيماري ژړله او د هغې خاوند خپله بې وسي.

شپه سبا شوه خو د کلي خلقو ته ددې قيامت پته نۀ لګېده په ټول کلي کښې صرف نازو ترور داسې ښځه وه چې د لېونۍ خاوند ورته ټوله قيصه کړې وه .ځوک چې نن مجبوره وه... د بيمارۍ د لاسه او د خپلې بې وسۍ د لاسه.

صبا له لېونۍ د ګاډي په سيټ کښې پټې سترګې پرته د لوئے هسپتال په لور روانه وه .د هغې سر د نازو ترور په زنګون پروت ؤ او د هغې خاوند د غمونو او فکرونو يو لوئے سيلاب په مخه کړے ؤ.

د لوئے هسپتال په وارډونو کښې نن هم ګڼه ګوڼه وه.د زنانه ډاکټرې د کمرې مخې ته داسې غوبل جوړ ؤ لکه چې هسپتال نۀوي د کبډي مېدان وي.اکثر زنانه داسې ښکاريدې لکه چې د مرض د نوم نه نا اشنا وي د هغوي په مخونو د ميک اپ نخښې هم د لرې نه ليدے شوې.چې کله به د ډاکټرې د کمرې دروازه بيرته شوه نو دې سنګار شوؤ ښځو به ټېل جوړ

ketabton.com - The Digital Library



کړو . داسې ټېل چې پکښې د هډونو ماتېدو خطره وه . غټې او مضبوطې زنانه به دننه لاړې او بیمارۍ بې وسه او بې کسه زنانه به هم دغسې د خدائے په اسره پاتې شوې . د هسپتال یو غټ پټ نوکر هم په دې پردو زنانه ؤ کښې بې ضرورته تلو راتلو ولې د چا ورته د غږ کولو همت نشو کېدے .

د لېونۍ خاوند دا هر څۀ لیدل او په دې خبره پوهېدو چې لېونۍ ولې هسپتال نه نفرت کوي . د یو ساعت دپاره د هغۀ زړۀ ته هم دا خبره راغله چې واپس کلي ته لاړ شي او د لېونۍ د قسمت فېصله وخت ته پرېږدي . هغه ګېر چاپېره کتل چې ناګهانه ئې ډاکټر سردار په نظر راغے د هغۀ په خپلو سترګو یقین نۀ راتلو چې سردار دلته څنګه راتلے شي . ډاکټر سردار د لېونۍ ورور ؤ . ولې لېونۍ ونۀ لیدو . ځکه چې د هغې سترګې پټې وې . خو چې سترګې ئې غړولې نو د هسپتال په وارډ کښې پرته وه . د هغې ورور د هغې سرته ولاړ ؤ د لېونۍ په سترګو کښې غټې اوښکې راغلې خو دا ځل په دغه اوښکو کښې بې وسي نه وه . اعتماد ؤ حوصله وه ځکه چې د هغې وینه د هغې سر ته ولاړه وه .

ورځ تېره شوې وه او د ماښام لړې خورې وې د هسپتال په وارډ کښې ښځو داسې ګپ ګرم کړے ؤ چې هډو د ختمېدو نوم ئې نۀ اخستو هر چا خپله خپله وئیله . څوک د بیمارۍ د

ketabton.com - The Digital Library



لاسه پتهې سترګې پرتې د خپل انجام په انتظار وې . ولې د هرې مریضې سره چې کومې درې درې نورې زنانه دېره وې د هغوي د خولو تپولو دپاره هېڅوک نۀ وو . لېونۍ هم په یو کټ کښې غزېدلې پرته وه . کله کله به ئې سترګې راپورته کړې . ګېر چاپېره به ئې وکتل او بیا به ئې سترګې پټې کړې . د هغې خاوند دوه درې ځله وارډ ته راغے د لېونۍ په اوچو شونډو ئې نظر پرېوتو . په زړۀ کښې به ئې ډېر څۀ راغلل ولې هېڅ به ئې نۀ وئیل اوبیا ډاکټر سردار وارخطا وارډ ته راننوتو نو د لېونۍ د خاوند تلوسه سېوا شوه . هغۀ د سردار خولې ته کتل . سردار د خپل تندي نه خوَله اوچه کړه او بیا ئې یو سوړ اسوېلې سره اووې ,, صبا له به اپرېشن وي ،،

د اپرېشن د نوم سره د لېونۍ د خاوند رنګ زیړ وتښتېدو لېونۍ سر راپورته کړو او په سلګو سلګو کښې ئې ووې زما نور ژوند نۀ دے پکار . زۀ مرګ غواړم زۀ به خود کشي وکړم . زما خاوند هسې هم مانه ستړے شوے دے . ددۀ به لار خلاصه شي . او زۀ به د سکون ساه واخلم او بیا هغه په بق بق وژړېده . ډاکټر سردار هغې له تسلي ورکړه د نشې څو ستنې ئې ورته ولګولې او بیا په شغ د وارډ نه بهر ووتو . د لېونۍ خاوند یو ځل لېونۍ ته وکتل د هغې سترګې پټې وې هغۀ په درنو قدمونو د وارډ نه بهر راووتو . هغۀد شپې په توره

ketabton.com - The Digital Library



تیارۀ کښې بره اسمان ته کتل او په سترګو کښې ئې اوښکې تلې راتلې.

هغه د فکرونو سېلاب په مخه اخستے ؤ لېونۍ په هغۀ ګرانه وه. ددې باوجود چې لېونۍ هغۀ ته مینه نۀ وه ورکړې. ددې باوجود چې لېونۍ د خپل خاوند هره وړه خبره لویه کړې ده. چرې هم داسې موقع نۀ وه راغلې چې لېونۍ د خپل خاوند مشوره منلې وي. هغې هر ځل د خپل خاوند په معمولي خبره اوښکې توئې کړې وې او خاوند ئې په زړۀ کښې ځان ته د لېونۍ په وادۀ کولو ستغې سپورې وئیلې. ولې نن هغۀ ته د لېونۍ دا ټول عادتونه ښۀ ښکارېدل هغۀ لېونۍ نه د جدا ژوند سوچ هم نۀ شو کولے. او بلخوا د لېونۍ زړۀ د ژوند نه موړ ؤ. هغه د بیمارۍ د لاسه دومره تنګه راغلې وه چې خاوند ته ئې هم نۀ شو کتلے.

د هسپتال شپه هم ورو ورو وغزېده او اخر سبا شو. لېونۍ لااوس هم د نشې د لاسه پټې سترګې پرته وه. ډاکټر سردار وارډ ته راغے. د لېونۍ خاوند ته ئې غلې غوندې ځۀ ووې او بیا چې د هسپتال په وارډونو کښې د معمول غوبل جوړېدو نو لېونۍ د اپرېشن په تخته پرته وه. د هغې خاوند د اپرېشن د کمرې نه بهر وارخطا ولاړ ؤ. هغۀ به کله ځان ته د لاسې ورکولې او کله به لکه د لېونو ځان سره لګیا شو.

ketabton.com - The Digital Library



نازو ترور چې ټوله شپه ئې د هسپتال په کلکو سیمټو روښه کړې وه. د اپریشن د کمرې په دروازه کښې ناسته وه. خلق تلل راتلل.... او بیا دوه ګینټې پس د اپریشن د کمرې نه یو سټریچر راووتو چې دوؤ کسانو نیولے ؤ. د هغوی مخونه په سپینو کپړو پټ وو او په سټریچر سپین څادر غوړیدلے ؤ سټریچر یو شغ سره د زنانه ؤ د وارډ نه ګس اړخ ته یوې کمرې ته ورسولے شو. دا هر څۀ د لیونۍ د خاوند مخې نه تیر شو خو د هغۀ په خپلو سترګو یقین نۀ راتلو د هغۀ زړۀ درزیدو او قسم قسم وسوسې ئې ذهن ته راتلې. هغه لکه د لیونو سټریچر پسې کمرې ته منډه کړه. سړې بهر راووتل ولې هیڅ ئې ونۀ وئیل د لیونۍ خاوند نیغ کمرې ته لاړو لیونۍ په کټ کښې خوره وره پرته وه د هغې سترګې پټې وې. په شونډو ئې ګز ګز پټرې ولاړ وو. هغې مسلسل زبیرګي کول. لمبې اوس هم د هغې په سر بلیدې. او د هغې خاوند په زړۀ کښې ډیر څۀ کرل ریبل. دغه ساعت ډاکټر سردار کمرې ته راغے. د هغۀ په مخ د خوشحالۍ نخښې واضحه ښکاریدې. هغۀ یو ساعت د لیونۍ کټ ته ودریدو د هغې په تندې ئې لاس کیښودو او بیا د نازو خواله ورغے چې د ډیر وخت راسې خاموشه ناسته وه. سردار هغې ته څۀ ووئیل او چې هغې خپل پلو پورته کړو نو په غیږ کښې ئې یوه وړه او ښکلې ماشومه پرته وه. ډاکټر د خندا

ketabton.com - The Digital Library



نـه شـین شـو او وې وئیـل ,, دا خـو زرقـېش ده ،، د لېـونۍ خاوند په ژور نظر ماشومې ته وکتل مسکے شو او ځان سره ئې په چپه خوله ووئیل ,, زرقېش ،، .

ورځ یو ځل بیا ستړې وه او د مازیګر په غېږ کښې د اوده کېدو په غرض روانه شوې وه .چې لېونۍ سترګې وغړولې نو یو ځل ئې خپل خاوند ته وکتل مسکۍ شوه .بیا ئې سترګې پټې کړې او چې د ماښام تیارۀ خورېده نو لېونۍ نه د هغې خوئېندې ورونه او مور پلار چاپېره ناست وو.لېونۍ خپله ماشومه زرقېش پخپلې سینې پورې جوخته نیولې وه او لکه د لېونو ځان سره په خندا خندا لګیا وه .,, زۀ مرګ نۀ غواړم.زۀ ژوند غواړم ډېر ژوند ...د خپلې ماشومې زرقېش دپاره د خپلې زرقېش دپاره ،، د هغې په سینه کښې د مور د مینې احساسات راپارېدلي وو.خوئېندې ورونه ئې خاموشه وو او د مور په سترګو کښې ئې د خوشحالۍ اوښکې تلې راتلې.

چې یو فکر ئې ادراک کولے نشي
مور د هاغه عظمتونو خلاصه ده

ketabton.com - The Digital Library



# د کور غل

د ,,اپريشن،، د اعلان کېدو سره په ټوله علاقه ويره خوره شوې وه. د هر چا په ذهنونو کښې ,,ډېر سوالونه،، تلل راتلل خو چا هم دا فېصله نشوه کولے چې د ګلونو ددې ګلدرو صباؤن به څۀ وي. ماشومانو به چې د خپلو پلارانو په مخ د وارخطايۍ لکيرو ته کتل نو اوبه بوړنېدل. او چې چېرته لرې به د جهازونو د شور سره د ګولو پرېوتو درزار شو. نو د زنانه ؤ په مخونو به اوښکې لړې لړې شوې. هغوي به په سواليه نظر پورته اسمان ته اوکتل. د سپين ږيرو په جلالي سترګو کښې به د تيرو وختونو رنګونو چورلکونه اوخوړل. خو بيا به د هغوي اوچو تراړو تراړو شونډو کښې دغه رنګونه پيکه پيکه شول. او هغوي به خاموشه پاتې شوې.

ketabton.com - The Digital Library



د هر چا دا کوشش وو چې زر تر زره ځان د هور ددغه لمبو نه اوباسي. نه چا سره د کلي غم وو او نۀ چا خپل ډک کور ته په شا کتلے شو. ځکه چې خبره د ,,سر،، د بچ کولو وه. چې ښنګه ښنګه خلق بې کوره کېدل. د ټول ملک د هر وګړي زړۀ په خپلو وطن والو خوږېدو ... او بیا دا خبره د ملکي حدونو نه ډېره لرې ټولې نړۍ ته اورسیده.

په لکهونو بې کوره ... ژړیدلو، کړیدلو او زوریدلو کورنو په کیمپونو کښې پناه واخسته. خو د هغوي اوښکې نۀ کمیدې ځکه چې د چا نه د خپلې وینې بې کفنه لاشونه د الله تعالیٰ په اسره پاتې وو. او د چا نه ماشومان بې درکه وو هر یو کیمپ د حشر میدان وو. هر خوا سلګۍ وې. هر خوا ساندې وې. په هر زړۀ او ذهن کښې د خپل تاله واله کور ارمان ازغے ازغے کېدو. او بیا د تماشبینو یوه لړۍ شروع شوه. ځوک د انسانیت د خدمت دپاره راغلل او چا د ملاکنډ د کډوالو په ارمانونو کښې خپل سیاست له ځائے ورکولو. خو .... د حالاتو لمبو وهلي سلګۍ سلګۍ کډوالو نۀ د چا په ,, ایمان،، پوهېدل او نۀ په اسلام.

ځۀ موده ددې بې وسه او بې کسه بې کوره په زخمونو مالګې اودړولې شوې. د خپل وطن خلق ,, خپلو،، بې حیا کړه ... او بیا چې کله دا ډرامه مېنځ ته راغله چې د کډې په سر

ketabton.com - The Digital Library



بـه روپـۍ هـم ملاوېـږي ـ نـو د پښـتنو د حيـا ، عـزت او پښـتو امتحان راغـې ... او لکه د نور کله پشان د جوارۍ دا داؤ ... هم پښتنو اوبائيلو او د حضرت باچـا خـان هاغـه خبره رښـتيا شـوه چې ,, پښتانهٔ هر څهٔ ته د ټينګې دي خو ,, پيسې ،، ته د ټينګې نهٔ دي ،، ـ ډېر درانهٔ ورکښې سپک شول ـ د رجسټريشن د ټول نظام په رڼا ورځ سپکاوے اوشو ـ خلقو د پيسو دپاره د پينځه ؤ کسانو کورنۍ په شلو شلو حساب کړې ـ د وس خاوندانو د بې وسه ، يتيمانو او کونډو رنډو حقونه ښهٔ په نره په بډه کـړه ـ او د هاغـه خلقو په قربانۍ پـورې پـه بق بـق خنـدا اوشـوه ـ څـوک چـې سرتور په د يو لوئے خدائے په اسره د کلي نه راوتي وو ـ

شيرولي چا چې ... څو ورځې وړاندې د خپلو ګلدرو پـه بده ورځ اوښکې تويـه ولـې او هـر څهٔ تـه بـه ئې د ,, شـک ،، پـه نظر کتل ـ او په خپل ويخ ضمير به ئې فخر کولـو ـ د پيسو لالـچ پـه مخـه واخسـتو ـ هغـه پـه يـوه داسې محکمـه کښـې افسـر وو کومـه چـې د اولسـي خـدمت محکمـه وه ـ د هغـه کـورنۍ تـه د سرکار له خوا په لوئے ښار کښې د اوسېدو اساني ورکړې شـوې وه ـ خـو لالـچ ... د هغـه پـه سترګو پردې راوستې ـ هغـه خپـل ضـمير پــه خپلـو لاســو قتـل کـړو او ځـان ئې پـه هاغـه کسـانو کښـې شمــار کـړو د چـا چـې نـهٔ کـور وو او نـهٔ څـوک د تپـوس پوښتنې ـ

ketabton.com - The Digital Library



شېر ولي ... راشن ته هم ټینګ نهٔ شو او پیسو ته هم. او چې کله ورته دا معلومه شوه چې د صحافیانو دپاره هم څهٔ پیسې ټکې ملاوېږي نو که هر څو هغه صحافي نهٔ وو خو بیا ئې هم هلته منډه کړه. او په جعلي کاغذونو ئې د خپل بې حسه ضمیر مخ نور هم تور کړو. هغه دا ټولې ,,مُرداري،، خوړې. خو کله ورته هم دا احساس نهٔ کېدو چې زهٔ څه کوم. که هر څو د هغهٔ تعلق دمذهبي خلقو سره وو. خو اوس ترې مذهب هم هېر وو. پښتو هم هېروه وه او غیرت هم.

شیر ولي ته به چې چا د هغهٔ د اصلي حېثیت احساس ورکړو نو هغه به تند ے او چونړلو او اوبه ئې وئیل. ,, مړه څوک ئې تپوس کوي ،، . او بیا د هغه نه هله ,, تپوس ،، اوشو چې کله هغه ددغه پردي حق سره خوشحاله کورته روان وو. چې ناګهانه ورته خبر راغے. چې ورکوټے ماشوم ئې په هوائي ګولۍ لګېدلے د ے. د شیرولي د لاس نه د راشن سامان پرېوتو. د هغه په وجود لړزان راغے. د هغه په ذهن کښې هاغه ,,حرامې روپۍ ،، په تیزۍ سره اوچورلیدې. کومې چې هغه په ډېر فخر په بډه کړې وې. هغه په لاره کښې زیر زبیخلے ولاړ وو. کله به ئې د حکومت له خوا هاغه اساني یادولې کومې چې ددهٔ ته د نوکرۍ په بنیاد ورکړې شوې وې او کله به ئې هم د خپل حکومت سره خپلې دهوکې او فراډ ته خیال لاړو. هغه ته ځان

ketabton.com - The Digital Library



مجرم مجرم ښکاريدو ـ هغه په درنو قدمونو کور ته روان شو ـ چې دروازې ته نږدې شو نو د زنانه ؤ ويرونه ئې واؤريدل ـ ,,وي کنه... ما خو دۀ ته وئيلي وو چې مۀ راؤړه... په ما پسې دا د حرامو خوراکونه... وي کنه د خوارانو، عاجزانو حق راته د ګل غوندې ځوئے واخستو ،،ـ شيرولي د خپلې ښځې دغه ساندې اوريدلې ـ د هغه په تور سکاڼ مخ دوه سپينې سپينې اوښکې راغلې ـ او په بريتونو کښې ئې ورکې شوې ـ هغه يو اسويلو اوکړو ـ چې پورته اسمان ته ئې اوکتل نو د هغه غوږونو ته يو اواز راغے ـ

,, الله تعالٰی هر څۀ معاف کوي خو پردے حق نۀ معاف کوي ،، شيرولي اوبوږنيدو ـ د هغه احساس د هغه په بې حسه ضمير چکونه لګول ـ او بيا ئې چې په خپل ماشوم مړ ځوئ سترګې اولګيدې نو په بق بق په ژړا شو ـ هغه ژړل او ښځې ئې ورته په سلګو کښې وئيل ژاړې څله ,, ورشه نور د هاغه يتيمانو خوراکونه او کونډو رنډو حقونه نور را اوتروړه چې ما درنه هم خدائے پاک واخلي پاڅه... ورشه نور حرام کور ته راؤړه ،، ـ په شير ولي دا ټولې خبرې لکه د تندر ګذارونه لګيدل ـ هغه ملامته زوړند سردخپل ماشوم ځوئې په مرګ اوښکې تويه ولې او خلقو په سواليه نظرونو يو بل ته کتل ـ

ketabton.com - The Digital Library



# زما نور چاپ کتابونه

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | محنت کا پهل | د ماشومانو لپاره قیصه چې زما د سکول په ورځو شپو کښې په کال **۱۹۷۵**ء کښې چاپ شو۔ |
| ۲ | ګیلې | د کالج په ورځو شپو کښې د لیونو احساساتو،، وړومبۍ شعري مجموعه،، چې په کال **۱۹۷۸**ء کښې چاپ شوه۔ |
| ۳ | وینښ خوبونه | د یونیورستۍ په ورځو شپو کښې مرتب کړے شوې دویمه شعري مجموعه چې په کال **۱۹۸۱**ء کښې چاپ شوه۔ |
| ۴ | ګل بانو ظفرخان | د بر سوات یوه اولسي قیصه چې په منظوم شکل کښې په کال**۱۹۸۲**ءکښې چاپ شوه۔ |
| ۵ | صلو علیه واله | وړمبے نعتیه مجموعه چې په کال **۱۹۸۹**ء کښې چاپ شوه او په کال **۱۹۹۱**ء کښې ورته د پاکستان پخواني صدر خدائے بخښلي غلام اسحاق خان ایوارډ ورکړو۔ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۶ | راځئ چې بیا اوخاندو | د پښتو د معیاري لطیفو مجموعه چې دوه ځله چاپ او خوره شوه. په وړمبي ځل په کال ۱۹۹۲ء او په دویم ځل په ۲۰۰۲ء کښې چاپ شوه. |
| ۷ | ستا په نوم | د شاعرۍ دویمه مجموعه چې په کال ۱۹۹۳ء کښې چاپ او خوره شوه. |
| ۸ | ډالۍ | په دې کتاب کښې د عبدالحمید بابا او علي خان بابا هاغه منتخب غزلې شاملې دي کومې چې دیو بل سره فکري مناسبت لري. |
| ۹ | دیوان احمد دین طالب | د نوموړي شاعر دا دیوان د مکملې دیباچې او د لټون نه پس د نوي کلام سره چاپ شوے او خور شوے دے. |
| ۱۰ | اوښکې او لمبې | د کشمیر د خونړو حالاتو په حقله د سلیم ګردیزي د کتاب ,, میں نے کشمیر جلتے دیکھا ،، دا ترجمه د یوې ډېرې تفصیلي دیباچې سره په کال ۱۹۹۷ء کښې خوره شوه. |
| ۱۱ | مشکنې | د شاعرۍ دا دریمه مجموعه په کال ۲۰۰۲ء کښې خوره شوه چې ورکښې د غزلو نه علاوه آزاد نظمونه او قطعې هم شاملې دي. |

ketabton.com - The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | لېونتوب | د ازاد نظمونو، قطعاتو او غزلو دا مجموعه په کال ۲۰۰۵ء کښې بیا په کال ۲۰۰۲ء او بیا په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شوې ده. |
| ۱۳ | جلوې | د جدید نعتونو دا مجموعه په کال ۲۰۰۲ء کښې چاپ شوه چې ورته د پاکستان پخواني وزیراعظم شوکت عزیز ایوارډ ورکړو. او دا هم ددې کتاب برکت وو چې زۀ د حکومت پاکستان له خوا په خصوصي توګه ,,عمرې،، ته اولېږلے شوم. |
| ۱۴ | لېونۍ سندرې | د منتخب فلمي او غیر فلمي هاغه سندرو مجموعه چې د ادب په چوکاټ کښې ځائے کړے شوي دي په دې کتاب کښې ګڼ نظمونه هم شامل دي. چې په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شوے دے. |
| ۱۵ | ډاکټر کبیر ستورے ژوند او مبارزه | د بره پښتونخوا د لوئے مبارز خدائے بخښلي ډاکټر کبیر ستوري د ژوند او ملي خدمت په حواله دا کتاب د ډېرو پوهانو، روښن فکرانو او لیکوالو احساسات لري. چې په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شوے دے. |
| ۱۲ | ما هېرولے نۀ شې | په لنډو بحرونو کښې د غزلو دا مجموعه په کال ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوې ده. چې په |

ketabton.com - The Digital Library



اخره کښې دوه ,,لپونۍ سندرې ،، هم لري.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | اے ګنبد خضرٰی | په حرم شریف کښې د لیکلو نعتونو دا مجموعه چې د هر لفظ لیکلو ئې زما روح ته سکون او زړۀ ته اطمینان رابخښلے دے. |
| ۱۸ | ماته آئینه (دریم چاپ) | د افسانو دا مجموعه چې هره ,,المیه ،، ئې ستاسو د توجه پامته داره ده. |

کتابونه مې ډېر اولیکل لائقه
لا د شــعر په رموزو نۀ پوهېږم

لائق زاده لائق
جون ۲۰۰۹ء

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*